مياشتنى ۱۳۷۰ - چنگابښ

حريت

لومړى كال - لومړى گڼه

سعودي ولي حكمتيار ته بلنه وركړه؟



دخوست فاتحين څوك دي ؟

ددي باروتو او گوليو نښه بدنونه نه، نظريه ده.



مشوره تاريخى شهيد ضيا' به سران عرب

دفاروق اعظم استعفى ولي ...؟

الهی ارشادات

:*خداي (ج) ته دمومن دوه خصلته ډیر محبوب دي، لومړي تحمل او برد باري، دوهم په تصامیمو او اقداماتو کي له بیړي اوعجلت څخه کار نه اخیستل.

*:په مومن کي دوه خویه نه شي یو ځاي کیداي. بخل، او بد خلقي.

*:هغه سړي مسلمان ندي، چي خپل ځان موړ کړي پداسي حال کي چي دهغي گاونډي په وږي گیده خوب کوي.

*:کوم سړي چي غواړي دالله(ج) او دهغه له رسول(ص) سره مینه ولري، او همدارنگه الله(ج) او دهغه رسول(ص) لده سره مینه ولري نوپه کار ده چي هغه تل رښتیا ووایي، په امانت کي خیانت ونه کړي ، او له خپلو گاونډیانو سره ښه چار چلند وکړي.

*:هغه څوك چي امانت نشي ساتلاي، هغه له ایمان څخه بې برخي ده.

*:د یوه مسلم په فطرت کي دهر خصلت گنجایش شته، پرته له درواغو او

وپنهان مکنید شهادت راوکسی که پنهان میکند
آن راپس هرآیینه اوگناه گاراست دل اووالله به
آنچه می کنید خوب دانا است
القره - ۲۸۳

- دپوښتي په لومړي مخ دوه عکسونه٬یو دخوست د ښار دیوي برخي دي او بله هغه هلیکوپټر چي مجاهدینو روغ ٹیولي دي.

دپوښتي دورروستي مخ عکسونه یو دخوست د رادیو دفتردي او بل د خوست زوړ هوائي ډگر چي اوس دقهرمانو مجاهدینو په لاس کي دي !

بسم الله الرحمن الرحيم

داسلامی انقلاب داهدافوخپرونکی
دليکوالودشورى ترنظرلاندي

مياشتنى : **حريت**

لومړى كال - لومړى گڼه - د ۱۳۷۰ هـ ش سرطان

ددي گڼي مطالب :

۱- سرمقاله	۲
۲- نقدوبرسى طرح سازمان ملل	٤
۳- دخوست فاتحين څوك دى ؟........................	۸
٤- سعودى حكمتيارته ولى بلنه وركړه !............	۱٤
٥ روانى سياسي هڅي به	۱٦
٦- نظام نوين وجواب اسلامى آن	۲۱
۷- دخوست فتحى اسلامى انقلاب ته	۲٤
۸- ددى بارودواوگوليو........................	۲۷
۹- مشوره تاريخى شهيد ضياءالحق	۲۹
۱۰- مسئله بدامنى درصوبه سرحد......................	۳٥
۱۱- دادكرارى خوړلن	۳۷
۱۲- زمونږعصمت بچ كړى........................	٤۲
۱۳- تكنيك داستراتيژئى مذاكرات ديپلوماتيك .	٤۳
۱٤- ټامروټولاعظم .	٤۷
۱٥- بسوى كرانه هاى حقيقت (داستان)............	٥۳
۱٦- دشك ويالى (داستان)........................	٥٥
۱۷-دپاكستان سياسى وضعه	۳۱

...!

دحریت لاراوهدف

دهجرت په چاپیر یال کي خپروني ډیري زیاتي شوي دي. خوکه له یوخوئي ور تیر شو چي تر یوه حده خپل مطبوعاتي حق ادا کوي ، متاسفانه زیاتره ئي دوخت او پیسو ضایع کول دي - که څه هم دا دیوه «ارزښت» په توگه گڼل کیداي شي چي هغه کم تر کمه د مطبوعاتو او فرهنگي فعالیت په لوري زموږ دټولني یو رجحان ښیي، او دا کیداي شي سړي یو تکامل وبولي. مگر گورو چي موږ یو انقلاب بر پا کړي، دیوي اید یالوژي نه بلکي څو ایدیالوژیو مقابلي ته ور وتلي یو ، له یوه نړیوال متهاجم سیستم سره په اخ او ډب لگیایو، دیوه فکر عرضه کول عنوانوو ، دیوه داسي قوم د همت ځلي معرفي کوو، دارادي نښي ئي په گوته کوو، دارمانونو کرښي ئي تشریح کوو او دآگاهي ور کولو بارئي په اوږو وړو چي دپیړي د« مقاومت» ، «تحول» او «حادثه جوړوني» دمعجزي ویاړ لري، ، پدغسي یوه حالت کي به ډیره دردوونکي وي چي موږ یواځي یو رجحان هغه هم زیاتره شکلي،وچ ، غیر علمي، سلیقوي او غیر پویا دتکامل قدم وگڼو. که څه هم لله الحمد د اوایلو په پرتله زموږ نشراتو یو څه دپرمختگ لار وهلي ده خو دنورو تحولاتو په تناسب ئي حرکت ډیر سست او ناکافي دي.

واقعیت دادي چي له ځینو جهادي خپرونو پرته چي شاید په محدود و حلقو کي علاقمندان ولري نور نشرات څوک زیات نه لولي.موږ پدغسي یوه حالت کي د « حریت » دخپراوي اقدام کوو، زموږ امکانات ډیر محدود او شرایط مو خورا تنگ دي، یواځي له مطبوعاتو سره زیاتي مینې او دخپل وطن او اسلامي انقلاب دخدمت احساس هڅولي یو ، ددي شاهد وو چي په څه محرومیت کي مو جهاد پیل شو ، کومي هیبتناکي سختي وي چي زموږ په مظلوم ملت رانه غلي، کومي روانسوزي پریشاني وي چي زموږ په ولس ئي خوب او خواړه حرام نکړل، کومي فاجعي او حادثي وي چي زموږ وطنوال ئي په زړه ریږدوونکو ویرونو گډ نکړل، موږ لیدل چي څه وړ زموږ محروم قام پل په پل له اغزو را تیرشو، څه وړئي دوینو خوفناك ډنډونه شاته پریښودل او څه وړ ئي په سر او وینو باندي د سودا په بیه او دباروتو له اور او لوخړو سره په بي پروا لوبو کولو هغه څه ممکن کړل چي جهان « ناممکن» گڼل، نوکه اوس گورو چي ددي ټولو عظمتونو حاصل ددي ټولو حما سو ویاړونه او ددي ټولو تراژیدیو او کړاوونو گټه بربادیږي ، خود به هم خوځو، دردمنیږوبه، را پاریږو او پا څیږو به او څه مو چي له لاسه کیږي ، دخپل گران وطن او اسلامي انقلاب له سر نوشته به ئي ددفاع په لار کي کوو.

ددي هدف لپاره مو د « حریت » په خپرولولاس پوري کړي موږ نه دځینودوستانو په څیر لدي لاري د « انقلاب» برپاکولو خبري کوو نه خلکو ته د « الهام» او «خط»ورکولو وعده لرو، نه د عقدو له مخي دنورو موثر کار په «بي علمي» او « وچتوب"محکوموو - بلکي دټولو هغو ورونو ، مطبوعاتي کارته چي اسلام ته متعهد وي او دگران افغانستان دسرنوشت دمستقبل په برخه کي داخلاص او صداقت هیلي لري، درناوي کوو، او له خدایه توفیق غواړو چي

اوږه په اوږه دخپل گډ هدف په لوري چي داسلام واکمني او دافغانستان خپلواکي او ابادي ده په مخ سره ولاړ شو ، موږ په دي معتقد یو چي مطبوعات ټولني ته د اگاهي ورکولو لوي رسالت په غاړه لري- دمطبوعاتو رسالت یواځي خلکو ته دخبر او رپوټ ور کول ندي بلکي د قومونو روزنه او دهغوي د« رشد » دسطحي لوړول ئي هم اساسي هدف دي ، لکه څه وړ چي یو معلم ته درانده اخلاق ، دلسوزانه کرکټر او مرشدانه روش لازم دي ، باید همداسي مطبوعات هم دا موضوع دخپل کار دلوري په توگه وټاکي چي غواړي د قوم د فکري رشد او سیاسي پوخوالي په پروسه کي مهم نقش ولري.

له همدي امله موږ ځان پدي ایماناً مکلف گڼو چي څومره ممکن وي واقعیتونه ولیکو، خوداسلام او خپل مسلمان ملت د مبارزي د سرنوشت ددي حساس پړاو دنازکتوبونو او مصلحتونو سره انتقادي تحلیلونه وکړو، دهر چا که په هره سطحه او هر موقعیت کي وي چي تصمیم او عمل ئي زموږ د انقلاب او وطن لسرنوشت سره رابطه لري، نیمگړتیا ، اشتباه او سنوئیدنه ئي ور په گوته کړو. خو له عقدي او پوچي منفي بافي نه په مطلقاً پاکه روحیه، اسلامي ادب او داسلام او وطن سره مو د اخلاص او زړه سوي په احساس، موږ نه دچا په بي ځایه ستاینو ځان بوختوو اونه هم د چا په توهین او جرح کولو خپل بازار تودوو او نه دعقد و او پو چي منفي بافي د گرد او دوړو په جوړولو ځان ته د چا پام را اړول غواړو .

زموږ ددوستي او دښمني معیار له اسلام ، جهاد او افغانستان سره اخلاص او مخاصمت دي، ټول هغه کسان او حلقي چي په اسلام متعهد دي، په جهاد کي ونډه لري، او دافغانستان مستقبل ته صادق دي زموږ دوستان او ددي عکس مودښمنان دي.

خو موږ په هیڅ توگه بي طرفه نه یو، موږ داسلامي انقلاب او افغانستان په برخه کي یو مشخص طرز تفکر او برداشت لرو. طبیعي ده چي هغه به زموږ دتحلیل او قضاوت څرنگوالي متاثروي او جهت به ئي ټاکي - خودنورو دوستانو نظریات به په پوره امانت او انصاف را اخلو او دنظردا رجحیت په انتخاب کي دمنطق او دلیل د برتري او قوت په معیار باور لرو.

په پاي کي له ټولو هغو وروڼو څخه چي دهغوي په مالي مرسته د« حریت» خپراوي ممکن شوي د زړه له کومي مننه کوو او الله (ج) ته لاس په دعا یو چي موږ په خپل رحم له ښوئیدو او انحرافه وژغوري او داسلام دسر لوړي د لاري دمجاهدینو په کاروان د ورگډیدو توفیق را په برخه کړي.

نقدو تحليل

طرح پنج ماده اى سازمان ملل

نويسنده: انجمن تحقيقات علمي و مشورتي افغانستان

طرح پنج ماده ئي سازمان ملل متحد كه بتاريخ ٢١ مي ١٩٩١ م از سوي« خاوير پريزدوكوئيار »اعلان شد دقيقاً طرحي است كه بيشتر در آن منافع روسها ورژيم كابل مدنظرگرفته شده است، اينك براي بر رسي دقيق اين طرح هريك از مواد را جداگانه ارزيابي كرده و صرف نظر از جانب داريهاي سياسي و بر اساس واقعيتها و نكات ملموس و مشهود در اين طرح كوشيده ايم آنرا توضيح نموده ابعاد منفي وشيطاني گنجانده را در آن شناسائي نمايم. باشد كه واقعيت اين طرح بيشتر براي متصديان ومسئولان جهاد وهمه اقشار ملت مجاهد ما روشن شده وظاهر آراسته و مقبول اين طرح كه انصافاً در يك نظر آني و گزرا مطلوب به نظر ميرسد، افكار ملت مجاهد مارانه فريبد.

طرح سازمان ملل متحد كه مشتمل بر پنج ماده است قرار ذيل است:

ماده يك- ضرورت حفظ حاكميت، تماميت ارضي، استقلال سياسي و حيثيت غير منسلك و اسلامي افغانستان.

تبصره ونقد: در اول ماده آمده است ضرورت حفظ حاكميت تماميت ارضي و استقلال سياسي ، در حاليكه داشتن و حفظ آزادي و استقلال سياسي ضرورت ملت افغانستان نه بوده بلكه حق مسلم و قطعي اين ملت است. تشخيص ضرورت ويا غير ضرورت حاكميت ملت افغان بنابر منشور خود ملل متحد بدست و اراده خود ملت افغان است نه بدست ديگران.

ثانياً كلمه« حفظ » زماني اهميت و معني دارد كه موجوديتي مطرح باشد، لذا آنچه در اين ماده بنام حفظ حاكميت آمده منظور و متوجه دولت فعلي كابل است .

زيرا همين دولت است كه در ظاهر حاكميتي دارد و در ملل متحد وسائر كشورهاي جهان نماينده گيهاي رسمي وسياسي دارد نه مجاهدين.

ثالثاً تعبير حفظ حيثيت غير منسلك و اسلامي افغانستان مبهم بوده و مفهوم گنگ را ارائه ميدارد. كشور افغانستان هم اكنون نيز اسلامي است و حتي رژيم مردم را ظاهراً در انجام شعائر اسلامي مانع نميشود. بدين مفهوم افغانستان اكنون و ظاهراً حيثيت اسلامي دارد. اما در اين شك نيست كه حفظ ظاهري شعائر اسلامي و دادن آزادي به مردم در عقايد مذهبي به معني و تعبير اسلامي بودن رژيم و نظام نيست. چه بسا كشورهاي اسلامي مانند سوريه مصرو....وجود دارند كه كشورهاي اسلامي اند ولي رژيم هاي شان عملاً ضد اسلامي بوده و علما ومجاهدين را در زندانها شكنجه و اعدام مينمايند با اين اشارات تعبير حفظ حيثيت اسلامي حكومت اسلامي دلخواه مجاهدين و ملت مسلمان مارابر آورده نمي سازد.

همين طور استقلال سياسي ملت افغانستان آنطوريكه در اين ماده آورده شده به تنهائي علاج دردها و مشكلات نيست ، داشتن استقلال سياسي زماني ميسر است كه استقلال در همه ساحات اقتصادي و فرهنگي و......موجود باشد، لذا اين استقلال نيم بند سياسي اعطائي ملل متحد درد از آلام ملت مارا در مان نميكند.

با انچه نوشته آمد ماده يكم طرح ملل متحد به چنين شكل آن مورد تاييد وبررسي خواهد بود.

١- تأمين حق حاكميت، تماميت ارضي، استقلال كامل و هويت غير منسلك و اسلامي افغانستان.

ماده دوم: برسميت شناختن حق ملت افغان جهت تعيين نوع حكومت و انتخاب نظام اقتصادي و اجتماعي كشور شان فارغ از هر گونه مداخله، تحركات تخريبي، اجبار و فشار خارجي.

تبصره ونقد: در عبارت « برسميت شناختن حق ملت افغان» كه كلياتي در آن مطرح است،كمونيستها نيز شامل شده ميتوانند واز آنجاكه كمونيستها با كارنامه دوازده ساله خيانت وجنايتشان هيچ گونه

حق در تعیین سرنوشت ودیگر امور مملکتي افغانستان نه باید داشته باشند، در این طرح زیر کانه به آنها حقوقي داده شده است لذا کلمهء افغان الزاماًعناصر چپ و مزدور را نیز شامل شده مي تواند. بنابر این آوردن کلمه مسلمان پس از افغان لازمي و حتمي است. بتعبیردیگر افغاني در تعین سر نوشت نظام و حکومت افغانستان حق نظر وراي دارد که مسلمان باشد وبس.

البته شاید این سوال مطرح شود که اقلیت هاي مذهبي دیگر همانند هندوها نیز در افغانستان وجود دارد، پس تکلیف آنها چه خواهد بود؟ در این تردیدي نیست که اقلیت هاي مذهبي غیر مسلمان از همه حقوق اتباع کشور مسلمان بر خوردار بوده و آنها در سایه نظام اسلامي مورد احترام خواهند بود، اما باید توجه داشت که اقلیت هاي مذهبي همچنانکه در صدر اسلام نیز معمول بوده در ساختار نظام و تشکیلات حکومت اسلامي دخلي نخواهند داشت. لذا مسئله شرکت و بررسي حقوق اقلیتها پس از استقرار حکومت اسلامي توسط مسلمانها مطرح است.

باآن توضیح ماده دوم طرح ملل متحد به چنین شکلي مورد قبول خواهد بود:

٢-برسمیت شناختن حق ملت مسلمان افغان جهت تعین نوع حکومت و انتخاب نظام اقتصادي سیاسي واجتماعي کشور شان فارغ از هرگونه مداخله، تحرکات تخریبي،اجبارو فشار خارجي.

ماده سوم: ضرورت ایجاد دوره انتقالي.

جزئیات این امر میتواند در نتیجه مذاکرات بین الافغاني بر رسي شده ومورد توافق قرار گیرد که در نهایت منتجر به تشکیل یك حکومت وسیع البنیاد گردد.

الف: در همین دوره ضرورت تشکیل اداره انتقالي قابل قبول براي اکثریت افغانها به شمول استقرار یك میکانیزم معتبر بیطرف انتقالي داراي قدرت و صلاحیت مناسب(که بعداً تعیین میگردد) که از اعتماد ملت افغان بر خوردار بوده و بتواند اطمینانهاي لازم را جهت شرکت ملت افغان در یك انتخابات آزاد و سالم فراهم نماید ویا در نظر داشت عنعنات افغاني زمینه استقرار یك حکومت وسیع البنیاد را فراهم سازد.

ب: ضرورت قطع عملیات نظامي در دوره انتقالي.

ج: اقتضایٔ کمکهاي لازم از مؤسسه ملل متحد یا کدام مؤسسه دیگر بین المللي در دوره انتقالي و نیز در طول پروسه انتخاباتي.

تبصره ونقد: در این تردیدي نیست که پس از سقوط نظامهاي سیاسي به اساس اعتراضات و مخالفتهاي ملي و عقیدتي، حکومات انتقالي در قالب حکومتهاي مؤقت،شوراي انقلابي و..... تشکیل میشوند اما در این نیز تردیدي نیست که حکومت انتقالي ویا مؤقت بعدي پس از سقوط حکومت فعلي کابل، حکومت ائتلافي با کمونیستها نه خواهد بود و صرف کساني در آن حق شرکت و عضویت خواهند داشت که از منافع و مصالح مجاهدین وملت مسلمان افغان حمایت و جانب داري نمایند.اصطلاح«بین الافغاني» که معمولا از سوي رژیم نجیب گه وبیگاه مطرح میشود مفهومي ازآن افاده میشود که به معني مذاکره بین مجاهدین ورژیم کابل است، در حالیکه اگرمذاکره مجاهدین با کمونیستها غرض تسلیمي آنها باشد درست ولي اگر مذاکره جهت حل مسائل سیاسي و قرار دادن یکطرف و جبهه براي کمونیستها باشد در آنصورت مذاکره ممکن نه خواهد بود، چه نجیب به عنوان یك فرد جنایت کار و حزب وطن نیز بمثابه یك حزب خائن به ملت مسلمان و کشور افغانستان از نظر شرعي و حقوقي هیچ گونه حق نسبت به مجاهدین و افغانستان ندارند. از نظر شرعي اصل مسلم است که جاني وجنایتکار ازمیراث محروم است. از نظرحقوق بین الدول نیز جنایتکاران هیچ گونه حقوقي ندارند، همان طوریکه امروز محاکمي جهت محکومیت جنایتکاران جنگ جهاني دوم پس ازکذشت ده ها سال تشکیل میشود و جنایت کاران جنگ محاکمه میشوند،چه طورشخص نجیب به عنوان کسیکه سالها رئیس پلیس مخفي و عامل کشتار هزاران مسلمان ن بیگناه بوده ، میتواند از حقوق بر خوردار شده و خود را وارث حقوق سیاسي و اجتماعي ملت افغانستان داند؟ لذا مذاکرات بین الافغاني که نجیب و حزب وطن در آن مطرح نباشد قابل تأییدبوده و ملت مسلمان ما آنرا تصدیق خواهد کرد. البته بدیهي است که گروه ها و عناصر غیر اسلامي نیز در استثناي مذاکرات بین الافغاني شامل خواهند بود.

در جزء الف« استقرار یك میکانیزم معتبر بیطرف انتقالي داراي قدرت و صلاحیت مناسب»....، اگر منظور از بیطرف افغان هاي باشند که عضویت رسمي تنظیمهاي جهادي رانداشته وبدلایل نتوانسته اند مستقیما در خدمت جهاد باشند و میکانیزم بیطرف پیشنهادي ملل متحد توسط آنها ایجاد و اداره شده و طرز فعالیتها نیز بیطرفانه باشد در آن صورت موضوع قابل مطالعه و بررسي است ولي اگر از بیطرف منظور کساني باشند که کمونست هاي غیر حزبي وسائر افراد گروهاي غیر اسلامي را در بر گیرد در مسئله ردپیشنهاد جاي تردید باقي خواهد بود.

کلمه« وسیع البنیاد » نیز در انتخابات نمیتواند باشد، زیرا اگر چنانچه اکثریت انتخابات را برد و اقلیت و یا اقلیتهاي در انتخابات جایگاهي بدست نیاوردند، در آنصورت دولت آینده چگونه وسیع البنیاد تواند بود، حکومت وسیع البنیاد یا داراي بنیاد وسیع باین مفهوم است که از همه طبقات اجتماعي وسیاسي جامعه در آن حکومت حضور داشته باشند لذا کلمه وسیع البنیاد در صورتیکه حکومتي از اکثریت مردم بوجود آید جاي براي تبارز نخواهد داشت.

اصطلاح« عنعنات افغاني» نیز در جز الف آورده شده است. طبیعي است مراد از عنعنات افغاني تشکیل لویه جرگه و احیاء سنت هاي کهنه سیاسي رژیم هاي ناتوان قبلي است. اگر ۱۲ سال جهاد نتواند تغییرات را در ساختار سیاسي و به نفع ملت مسلمان در جامعه پدید آورد چه سودي از اینهمه ایثار و قرباني و جهاد. طبیعي است پس از سقوط رژیم فعلي کابل روشها وشیوه هاي حکومت و خلافت اسلامي در کشور قایم و حاکم خواهد شد و جاي براي ارزشهاي غیر اسلامي و ضد ملي در کشور باقي نخواهد بود.

همچنان در جزء الف، از « انتخابات آزاد و سالم»یادآوري شده . اگر حقیقتاً منظور سازمان ملل متحد از انتخابات آزاد و سالم، انتخاباتي باشد که افراد ملت مسلمان آزادانه وبیطرفانه وبدون ترس ونگراني در آن شرکت جسته و هیچگونه جبرو فشار واکراه وفریبي در آن نباشد چنین انتخابات آزاد مورد تصدیق ملت مسلمان ما خواهد بود . اما اگر از انتخابات آزاد، این مفهوم تعبیر شود که کمونیست ها نیز در آن حق و حقوقي دارند در چنین صورتي این انتخابات مورد تایید نخواهد بود. لازم است در صورت انتخابات، هیئت ها و شورا ها و مراجع تشخیص هویت و شخصیت ، افراد راتذکیه و ارزیابي نموده و بعداً اجازه کاندید شدن آنان صادر شود.

جزء ب: طبیعي است زمانیکه حکومت انتقالي تشکیل شد و کابینه بوجود آمد و حکومت کمونیست ها ساقط گردید دیگر نیازي به انجام عملیات نظامي نیست. همینطور درین شرایط اردو و همه نیروهاي مسلح در اختیار همان حکومت انتقالي خواهد بود. لذا بوجود این جزء از ماده سوم ضرورت احساس نمیشود.

جزء ج: این موضوع احتیاج به پیشگویي و فیصلهء قبلي نداشته و مربوط همان دولت موقت است که خود عند اللزوم تصامیم و اقدامات لازم و مناسب را اتخاذ خواهد کرد. لذا این ماده نیز منتفي است.

با در نظر داشت مطالب متذکره شکل اصلاحي ماده سوم بدینگونه خواهد بود:

۳- ضرورت ایجاد دوره انتقالي. جزییات این امر میتواند در نتیجهء مذاکرات بین الافغاني باستثناي حزب وطن، سایر گروهها و عناصر غیر اسلامي بررسي شده و مورد توافق قرار گیرد که در نهایت منجر به تشکیل یك حکومت که از اعتماد اکثریت ملت مسلمان افغان بر خوردار باشد.

جز الف: در همین دوره ضرورت تشکیل اداره انتقالي قابل قبول براي اکثریت افغانها بشمول استقرار یك میکانیزم معتبر انتقالي داراي قدرت وصلاحیت مناسب(که بعداًتعیین میگردد) که از اعتماد اکثریت ملت مسلمان افغان بر خوردار بوده و بتواند اطمینانهاي لازم را جهت شرکت ملت مسلمان افغان در یك انتخابات آزادو اسلامي فراهم نماید وبادر نظر داشت هویت اسلامي افغانستان زمینه استقرار یك حکومت منتخب اسلامي را فراهم ساخته تا جانشین رژیم فعلي کابل گردد.

ماده چهارم: ضرورت انعقاد موافقت نامه لازم الاجراء توسط تمامي ادارات متفق علیه انتقالي جهت پایان بخشیدن باعطاء اسلحه بتمامي اطراف افغاني و توسط همه تأمین کنندگان اسلحهء براي جنگ افغانستان.

تبصره و نقد: این ماده ممکن و احتمالاً در شرایط اعتبار داشته و مطرح مي تواند باشد که هم حکومت فعلي کابل باقي باشد و هم مجاهدین بعنوان طرف اصلي قضیه، واز آنجا که در دوره انتقالي حکومت فعلي کابل ساقط است و همه قدرت و صلاحیت در اختیار دولت مؤقت که مورد تایید مجاهدین است میباشد ، لذا دادن اسلحه به طرفین معني ندارد و هر کار و قرار دادي در این رابطه مربوط حکومت مؤ قت میباشد. اما سازمان ملل متحددر اینجا احتمالاً میخواهد از دولت مؤقت تعهد بگیرد که همه ادارات دولت مؤظف اند از هیچ کشوري هیچگونه اسلحه را در یافت نکنند، زیرا ممکن است دولت مؤقت که تشکیل شده مرکب از بعضي از رهبران و یا تنظیمهاي جهادي باشد، طبیعي است در صورت لزوم و احتمالاً این رهبران عضو کابینه از سابقه سیاسي و جهادي خود در خصوص در یافت اسلحه از کشورهاي دیگر و احیاناً به منظور تحکیم موقعیت خود و کسب قدرت- همچنانکه در کشور لبنان چنین معمول است سود جسته و اقدامات نمایند. روي این لحاظ ملل متحد احتمالاً در این مورد پیشدستي کرده و جلو هر حرکت بعدي گروهي و تنظیمي را در آینده سد شده است، همینطور این ماده ممکن براي

این طرح شده که اگر چنانچه در انتخابات اشخاصي به تبلیغ و یا فریب و تقلب و تباني رأي را بردند ممکن است شخصیتها واحزاب در مورد مخالفت کرده ودست به قیام زنند و از آنجاي که بعضي از شخصیتها و احزاب سیاسي، جهادي در کشورهاي همسایهء ایران وپاکستان و حتي کشورهاي دیگر اعتبار و نفوذي دارند و ممکن اسلحه از آنها در یافت کنند، این عمل حاکمیت دولت مؤقت و هرگونه حکومت و نظام بعدي را بخطر مواجه خواهد ساخت. لذا سازمان ملل از همین حالا میخواهد تضمین در یافت دارد که در آینده هیچ کسي به احزاب وتنظیمهاي سیاسي(که اغلباً تنظیمهاي جهادي ممکن منظور ملل متحد است) اسلحه داده نمیتواند و مجبوراً باید از قبل تعهدات در این مورد گرفت.

با عنایت به مطالب متذکره ضرورت موجودیت ماده چهار محسوس نه بوده زیرا اگر دولتي موجود باشد خود قادرخواهد بود اقدامات لازم و مقتضي را انجام دهد. ازطرفي در ماده دوم طرح ملل متحد برسمیت شناختن حق ملت افغان جهت تعیین نوع حکومت و قطع هرگونه مداخله بیگانگان خواسته شده لذا ماده دوم اگر به قوت خود باقي باشد بر ماده چهار اهمیت و ضرورتي مرتب نیست.

ماده پنجم: برسمیت شناختن منابع مکفي مالي و مادي جهت رفع مصائب مهاجرین در ایجاد شرائط لازم براي عودت داوطلبانه آنان به موطن شان و هم چنان جهت تأمین هزینه اعمار مجدد اقتصادي و اجتماعي افغانستان.

تبصره و نقد: اگر قرار باشد کسي ویا مؤسسه براي اعمار مجدد افغانستان کمکي نماید لازم نیست این منبع کمکي به رسمیت شناخته شود، زیرا اگر خانه آتش گرفت یا گرسنه بغذا احتیاج داشت و کسي یا کساني اگر آمدند تاآتش را خاموش و گرسنه را سیر کنند، لازم نیست نخست آنانرا به رسمیت شناخت و بعد اجازه کمك داد، اما در این تردیدي نیست که سازمان ملل متحد محیلانه مطالبي را در قفاي این ماده گنجانده و مدنظر دارد. زیرا شناسائي مؤسسات کمك دهنده از طریق ملل متحد یکه در اختیار امریکا و شوروي قرار دارد به این مفهوم است که کمك دهنده ها کلاً منافع و مصالح سیاسي و اقتصادي آن دو ابر قدرت را مد نظر داشته باشند. طبق این ماده خود روسها نیز میتوانند در جمله منابع کمکي شامل شوند(اینجا کمك معاني و تعابیر دیگري نیز پیدا خواهد کرد، همچنانکه اشغال افغانستان توسط روسها نیز نوع کمك به دولت کابل تلقي شد) همین طور برسمیت شناختن مؤسسات کمکي از طریق ملل متحد که طبعا بر طبق محور منافع وسیاستهاي دو ابر قدرت کار خواهند کرد به این معنا است که مؤسسات کمك دهنده بطور کل در جمیع امور و مسائل آزاد خواهند بود که در کشور کمك گیرنده اقدامات وسیاستهاي دلخواه شانرا عملي سازند چنین موقعیت که زمینه تبلیغات غرب گرائي و روس گرائي و مسیحي گري و انحراف افکار جامعه کمك گیرنده را در پي دارد، از هر گونه اعتراض و مخالفت(که غیر قانوني تلقي خواهد شد) در کشور نیز بر کنار خواهد ماند، زیرا برسمیت شناختن آن مؤسسه در حقیقت به مفهوم مجاز دانستن همه اقدامات و پروگرام هاي آن مو سسه در ارتباط با کشور کمك گیرنده خواهد بود لذا این ماده از طرح که جز پروگرام حل سیاسي قضیهء افغانستان شده نمیتواند مربوط به دولت بعدي است که خود تصامیم مناسب را خواهد گرفت. با اشارات فوق به وجود ماده پنج طرح ملل متحد نیازي نه بوده و حذف آن ارجعیت دارد.

قابل اشاره است که در طرح پنج ماده اي ملل متحد یك چیز عمده و اساسي که مطابق عرف و قوانین بین المللي نیز هست فراموش شده و آن تأدیه خسارات و غرامات جنگي است که طول ۱۳ سال جنگ بر ملت و کشور افغان وارد شده، تلفات انساني بیش از یکنیم میلیون و صدها هزار معلول و مجروح وبیماران رواني جنگ وویراني شهر ها ، مزارع ودهات افغانستان که ارقام فوق العاده را براي انعکاس آن مي توان نوشت. براي ملت و دولت مثل افغانستان که از نظر اقتصادي ومنابع در آمد در سطح پایین قرار دارد جبران ناپذیر بوده و طبق اصول بین المللي روسها مکلف به پر داخت غرامات و خسارات بوده و ملت افغان از این حق خود دفاع خواهند کرد. لذا این موضوع به عنوان یك ماده مستقل در طرح ملل متحد باید مطرح باشد.

نتیجه: با تجزیه و بررسي طرح ملل متحد این نکته مسلم شده باشد که این طرح طرح کاملاً استعماري و منطبق بر خواستهاي ابر قدرت ها - و مخصوصا روسها است و لذا نمیتواند گره کشاي مشکلات موجود افغانستان و هدایت گر جنگ کنوني کشور به سوي افق هاي صلح و آشتي باشد. از طرف دیگر بانگاه گذرا بتاریخ فیصله هاي سازمان ملل متحد متوجه خواهیم شد که طرح هاي ملل متحد بصورت کل جزء در صفحه کاغذ قابل مطالعه وبررسي نه بوده و در عمل هیچگاه اقدامات صورت نگرفته است. لذا

دخوست فاتحین ځوک وو!

په ځیره کې یې د « ابدال » وینې موجونه وهل، آهومانندہ تیز بینو سترګو یې دباطل دلوړو ځوکو دفتحه کولو وړانګې خوروله، په متهو کې ئې د«جهاد وال» دهیلو او ارمانونو د سرته رسولو



قوماندان انجنیر فیض محمد د ځینو ورونو په شان په خپله اوزه د« خوست دفاتح» نشان نه لګوي ، مګر بې انصافي ده چې دفتحې دکاروان فعال، زړور او مدبر سرغندوي ئې ونه بولو.

تکل سنبکاریده. په لاسونو یې دروسانو ډیرې ککرې دخاورو میلمنې شوې وې، په تناکو پښو یې دروسانو زیاتې قواوې زغلولې وې، کفاروئې دنوم په اوریدلو دپکتیا په غروکې پل ایښودل خپل مرګ

باله، په لاسونو یې دټانګونو زیات سره ستوري ویلې شوي ؤ ددښمن زیاتې الوتکې چې پرې را ټیټې شوې بیایې نیغ په نیغ دځمکې تل بنکل کړې ؤ دډیرو لوړو لوړو ځوکو دفتحه کولو ویاړونه یې خپل کړي، روسان دې خبرې ته (.... موږ به بیا هیڅکله افغانستان ته په بد نظر ونګورو...) دده په ځیرمتهوکارنامو اړکړل دغه د« طارق» او «ایوبي »د لارې لاروي او یادونو را ژوندي کوونکي انجنیر فیض محمد دي. که دګولې هر غر یې د سره پوځ«وحشت» ته د « ماتې خوړلي پوځ» جامه ور واغوسته، داګل یې هم په ګام او چتولو د« ګلم جمانو» او « نه ماتیدونکي » سنګر طلسمي دیوال مات کړ، په سینه کې ئې دډیرو«سوبو» او « ویاړونو»رازونه پراته دي، دپکتیا ولایت هر کاڼي بوټي او ژوندي ورته دعقیدت پیرزوینې وړاندې کوي، خبرې یې دمایوسي «جال» دسړي له سره ایسته کوي، دخوست د عظیمې سوبې رازونه راسپړي، دي د ویاړونو او قهرمانیو خپل کوونکي د« حُریت» خبریال ته دخوست دسوبې دځرنګوالي کیسې بیان کړې:

پوښتنه: مهرباني وکړې دخوست پر ښار دوروستیو فاتحانه عملیاتو کې دمجاهدینو دپلان نقشې، او دجګړې په جریان کې دمجاهدینو د نظم او اداري په هکله زموږ درنو لوستونکو ته معلومات ورکړي!

ځواب: کیداې شي تاسې هم معلومات ولرې چې دخوست ښار دزیاتې اوږدې مودې راپدیخوا دمجاهدینو تر محاصرې لاندې ؤ، بل لورې ته دښمن هر وخت دخپلو موجوده امکاناتو ځخه په استفادې دمجاهدینو پر ضد په فعالیت بوخت ؤ. مجاهدینو دلوي خداې(ج) په نصرت ددښمن هرپلان او نقشه خنثې کړې، ددښمن مقابلې ته په ډیره میړانه ولاړدي، که څه هم په لومړي سرکې دمجاهدینو تر مینځ دوحدت همکاري فضا لږ سړه وه، خو ځرنګه چې ددښمن دپلانونو دخنثې کولو او دهغوي سره دمقابلې لپاره یوه کامل وحدت او هماهنګي ته ضرورت ؤ نو موږ هم دمجاهدینو د بیلا بیلو ډلو تر مینځ داتحاد او نظم دپیدایښت لپاره، دیوې مشترکې شورا دجوړیدو په کارپیل وکړ.

موږ په خپل استقامت کې شورا جوړه کړه او په منظمو عملیاتو مو پیل وکړ. کله چې دښمن پدې وپوهیده چې ددوې دجنوب لورې ته یو منظم متحد قوت پروت دي، نو دوې هم خپل ټول فعال قوت، زموږ په استقامت ځاې په ځاې کړ.



«قوماندان ارمان» دپکتيا په سوبو کي ديوه فعال او ناکراره نقش او ښه تدبير نوم دي.

دا پداسي حال کي ؤ چي په خوست کي پر دښمن باندي ټولي ځمکني لاري بندي وي، او هغوي يوازي له هوايي قوت څخه خپل قطعات اکمالول،مونږ. ددښمن د هوايي قوت دختمولو لپاره هم پلان جوړ کړ، دخوست دهوايي ميدان لپاره مو درني لري ويشتونکي وسلي ځاي په ځاي کړي، او هوايي ميدان مو هم د خپلو وسلو تر شديدبريد لاندي ونيو، بل لوري ته دا ضرورت احساسيده چي دخوست ښار دکاملي فتحي لپاره بايد دهر استقامت څخه منظمه شورا جوړه شي، او عمليات په متحده توگه ترسره شي، دهمدي ضرورت په اساس دوهمه شورا مودخوست په ختيز استقامت د« علي شيرو»او خږ ډنډ له لوري نه جوړه کړه، بل لوري ته کله چي ددښمن قواوي دهوائي او زميني لوري څخه محاصره شوي، او داکمالاتو لاري يي بندي شوي نو دوي دځاځي ميدان له لوري دپاکستان دځيني سرحدي سيمو (ملي خيلو) څخه يولړ اکمالات پيل کړل، ددي لاري دبندولو لپاره مو هم دځاځي ميدان په شمال کي شوراجوړه کړه دخوست په شمال کي د« غلنگ» په استقامت بله شورا جوړه شوه، چي پدي ترتيب دخوست په هر استقامت ، منظمي شورا گاني جوړي شوي، او په منظمو عملياتو لاس پوري شو، دجنگ دپلان لپاره په هر استقامت کي اوله هرمحاذ څخه دري دري کسه انتخاب شول، او فيصله مو وکړه چي دغه دري کسيزه شورا به دجنگ پلان او نقشه جوړوي چي دنظامي شورا په نوم وبلل شوه، کله چي دجنگ پلان او نقشه دنظامي شورا له خوا جوړه شوه بيا مو دعملياتو دقوماندي او رهبري لپاره يوه اوه کسيزه شورا جوړه کړه، چي دنظامي شورا له خوا ترتيب شوي دجنگ پلان يي تطبيق کړلو.

دخوست پر ښار باندي وروستني منظم عمليات د۱۳۶۹ کال دحوت په ۲۶ مه نيته پيل شول، په لومړي سر کي دخوست لومړي کمر بند مات شو، دخوست دشمال له خوا د«لکي سر»چي ديره مهمه او حاکمه نقطه وه فتح شوه ، دجنوب له خوا باغ فارم، دشيخ امير علاقداري اود«گگرودسر» پوستي فتح او دختيزي خواد«گيگرک» غرچي ډيره حاکمه نقطه وه ، فتح شوه، دلويديز له خواد« سري غونډي»پوستي فتح شوي، دجنوب غرب له خواهم يو زيات شمير پوستي فتح شولي. چي بالاخره دخوست ښار دحمل په (۱۱) مه په مکمله توگه فتح شو.

پوښتنه: ـ کولاي شي ووايست چي دجگړي په جريان کي دکومو جبهاتو رول ډير مؤثر او قوي ؤ ؟ځواب: ـ زماپه شخصي نظر اکثريت محاذونواوجبهو دخوست په فتحه کي په ډيرگرندي توب

د قوماندان حضرت محمد زړورتيا د خوست دتاريخي سوبي يو خاموش راز دي، حضرت محمد دمتون بابا په غونډي ددښمن د پخي کلا په ماتولو دخوست دفتحي دروازه خلاصه کړه.

او مؤثريت برخه واخيسته، سړي نشي کولاي ورته يو تربله زياته درجه ورکړي. بيا هم دومره ويلاي شم چي دشمال له خوا چي د قوماندان حضرت محمد له خوارهبري کيده، ډير مؤثر عمليات تر سره شول، او ددښمن په تسليميدو کي ډير مؤثر قوت بلل کيداي شي. همدارنگه په دوهمه درجه جنوبي محاذ، ورروسته بيا دکوچيانو جبهه، او دخړدند محاذ دير مهم او مؤ ثر قوتونه بلل کيداي شي.

پوښتنه: ـ لکه چي تاسي اشاره وکړه خوست ديوي اوږدي مودي څخه دمجاهدينو تر بريد او محاصري لاندي ؤ، کيداي شي ووايي چي دپخوانيو عملياتو دنه بريالي کيدو وجه څه وه؟

ځواب: ـ هو کي، خوست تل دمجاهدينو تر کلك بريد لاندي ؤخو دپخوانيو عملياتو دناکامي سبب زما په نظر په لاندي ټکو کي دي.

قوماندان حاجي شیرینډل سپین زیري دي خو د اسلام مینه، ځواني ارادي او لوړ همت ئي د زلمیانو له کتاره شاته کیدو ته نه پریږدي.

الف: دتیرو عملیاتو په جریان کي دمجاهدینو تر مینځ داسي یو کامل نظم او وحدت نه ؤ موجود، لکه دخوست په وروستنیو عملیاتوکي چي موجودؤ.

ب: کله کله به هم چي دمجاهدینو تر مینځ اتحاد او نظم مینځ ته راغي بیا به داکمالاتو کمبود موجود ؤ، او پوره اکمالات به نه کیدل.

ج:ځیني قوماندانانو به دمشترکو عملیاتو څخه دخپل ځان په ګټه سیاسي استفاده کوله، چي دعملیاتو دناکامي سبب به شول.

د:کله کله به داسي هم کیدل چي د مشترکو عملیاتو لپاره څه رالیږل کیدل نو هغه په مستحقو او په جنګ کي مؤثرو قوتو نو ته نه رسیدل او دساخت او باخت په اساس به ویشل کیدل کیداي شي یو لړ نور عوامل هم پدي هکله موجود وي ،خوزه پدي څلورو ټکیو دلته اکتفا کوم.

پوښتنه: ـ داسي ویل کیږي چي خوست تر کابل وروسته دوهمه درجه نظامي اهمیت درلود، ستاسي په نظر دي لپاره څه دلایل موجوددي ؟

ځواب: ـ زما په نظر خوست دښمن ته دخوتکیو له لحاظه ډیر مهم و.

۱-خوست دکابل رژیم داکثره هغو کمونیستانو هستوګنځي دي چي ددي رژیم په مختلفو دورونو کي ئي ددولت دستون فقرات اهمیت درلود.

۲- په خوست کي ددولت ډیر زیات او مؤثر قوتونه ځاي په ځاي شوي ؤ.

۳- په خوست کي په ډیره زیاته پیمانه جنګي وسایل ځاي په ځاي ؤ چي مجاهدینو ته دهغي په لاس ورتلل ددښمن دنابودي سبب بلل کیده.

٤- خوست که له یوي خوا سرحدي ښار دي بل لوري ته له کابل نه هم ډیر لري ندي پروت.

٥-پرخوست باندي دمجاهدینو ډیر لوي قوت مصروف ؤ، چي دولت سره داویره موجوده وه چي که دا مجاهدین له خوست څخه فارغ شي نو بیا به رژیم هیڅ ورته ټینګ نشي.

زما په نظر دغه ځوتکي دخوست ښار اهمیت دکابل رژیم لپاره څرګندولي شي.

پوښتنه: ـ لکه چي تاسي هم اشاره وکړه په خوست کي دکابل رژیم یو لوي نظامي قوت ځاي په ځاي ؤ، ستاسي په نظر ددومره لوي قوت ځاي په ځاي کولو علت څه ؤ؟

ځواب: ـ په خوست کي دافغانستان دپخوانیو رژیمونو له وخته ډیر لوي نظامي قوت ځاي پر ځاي ؤ، زما په نظر ددي علت هم داؤ چي دافغانستان حکومتونه له ډیر پخوا څخه دروسیې حکومت تر تاثیر لاندي ؤ. له همدي امله ؤ چي دافغانستان پخوانیو حکومتونوپه هغو ولایاتو کي چي له پاکستان سره یي سرحد درلود، لوي نظامي قوت ځاي په ځاي کړي ؤ. مثلاً په ننګرهار کي قول اردو موجودؤ، په پکتیا کي قول اردو موجودؤ. او په کندهار کي قول اردو موجودؤ، اما ددي برعکس په شمالي ولایاتو کي یوازي یوه فرقه په مزار شریف کي وه، یو غونډ یي په نهرین کي ؤ همدارنګه یوغونډ یي په میمنه کي او په نوروسیمو کي ئي هم یو څو کنډکونه ځاي په ځاي شوي ؤ، نو زمانظر دادي چي خوست هم له هغو مناطقو څخه دي چي له پاکستان سره نژدي پوله لري، ځکه نودلته هم رژیم یوه مکمله قول اردو، درلوده چي وروسته بیا کمونستانو څه نور

دمتون بابا په غونډي ددښمن پخه کلا چي دحضرت محمد تر قوماندي لاندي د جنګیدونکو غازیانو میړانې ماته اودخوست مهم دفاعي دیوال ئي ونړاوه.

قوتونه لکه ۱-دوهمه سرحدي
لوا،۲-دڅارندوي قوماندانی چي دمحلي
مليشي څو غونډونه پکي ځاي پر ځاي
ؤ، -۳- دګارد خاص قطعات چي درشيد
دوستم مليشي ، دهرات مليشي.... او
داسي نور قطعات پکي ځاي پر ځاي
شول، او لکه چي مخکي مي وويل دهغي
علت داؤ چي خوست له پاکستان سره
شريکه پوله لري.

پوښتنه:ـ که مهرباني وکړي او دخوست
دوروستيو عملياتو پروګرام او دفتحي
جريان په مفصله توګه تشريح کړي!

ځواب: ـ دخوست دعملياتو دپروګرام په
هکله ما مخکي هم يوڅه عرض و کړ،
مونږ تر ټولو لومړي دعملياتو دهم
آهنګي لپاره دمجاهدينو، به صفونو کي
وحدت را ووست، بيامو دمنظمو عملياتو
د سرته رسولو لپاره دخوست په ټولو
اطرافو کي منظم جنګي محاذونه جوړ
کړل، وروسته د جنګ د نقشي دجوړولو
لپاره مشترکه نظامي شورا جوړه شوه،
بيامو د جنګ دعمومي قوماندي لپاره
يوه اوه کسيزه شورا جوړه کړه همدارنګه
داکمالاتو، ارتباطاتو او يو لړ نور جنګي
مسئوليتونه دهمدي شورا په غاړه ؤ، کله
چي دجنګ قومانده صادره شوه دلوي
خداي په فضل دباغ فارم، کيکرک، دلکي
سر پوستي دسري غونډي پوستي فتح
شولي، دجګړي په څلورمه ورځ دخوست
په جنوب کي د « شيخ امير» علاقداري
فتح شوه همدارنګه لدي سره ددښمن ټول
کمربند له سيدګي تر ګګرو سرونو پوري
فتح شو او دجګړي خط دشمل سيند
غاړي ته ورسيد، لدي سره دښمن په شمال
کي دمتون دحبش خيلو په غرونو کي
خپله دوهمه دفاعي ليکه جوړه کړه، په
ختيزه خوا کي دزاړه هوايي ميدان سره
يي دفاعي کمربند جوړ کړ ، دلويديز
لوري څخه يي دورځي ، ځړين او
اسماعيل خيلو په ساحه کي کمر بند جوړ
کړ، کله چي ددوي لومړی کمر بند مات
شو، نو دمجاهدينو دټولو محاذونو په
سطح په خړ ډنډ کي شورا وشوه او
لانديني ټکي يي دعملياتو لپاره وټاکل!

۱- دجنوبي محاذ دجنګ استقامت له
مټه چيني څخه تر زاړه ميدان پوري.

۲- دکوچيانو او لکنو دمحاذونو دجنګ
نقاط له زاړه ميدان څخه تر کاروان سراي
پوري.

۳-دخرډنډ او علي شيرو دمحاذ دجنګ
استقامت نوي هوايي ډګر.

٤- دغربي محاذ دجنګ استقامت د
(۵۹) غونډ څخه تر شګي پوري دپلان
له ترتيب څخه وروسته ددري ورځو په
جريان کي ددښمن ټول کمربندونه مات
شول، دغلنګ دمحاذ مجاهدين دخواجه
محمد خان غونډي ته ور ننوتل، دجنوبي
محاذ مجاهدينو دهوايي ميدان، دتخته
بيګ غونډ، دڅارندويو قوماندانی
درادیومرکز، او نور مهم نقاط ونيول،
دخرډنډ له لوري مجاهدينو نوي هوايي
ډګر ، او دهغي ټولي پوستي دبازار
دشرقي برخي سره يو ځاي ونيولي،
همدارنګه دغربي محاذ مجاهدينو خپل
ټول اهداف لکه داسماعيل خيلو منطقه -
سيدګي، د ۵۹ غونډ يوه برخه او په خپل

قوماندان فيض محمد دخوست ترنيولو وروسته په خوست کي خپلي قوماندانی ته ستنيږي.

استقامت کي پرتي نوري پوستي و نيولي، دکوچيانو او لکنو دمحاذ مجاهدينو دتوپچي شپږم غونډ، او دهغي مربوطه پوستي فتح کړي ، او پدي ترتيب، دخوست سېار دمؤمنو مجاهدينو په لاس فتحه شو،

دخوست دفتحي دعملياتو په جريان کي دمجاهدينو دبيلابيلو ډلود گډي نظامي او دقوماندانانو دشورا غړي په لاندي ډول دي.

لومړۍ دنظامي شورا غړي:

الف: له جنوبي محاذ څخه:

١- محمد حکيم(مکرم) دحزب اسلامي دجهاد وال فرقي رئيس ارکان

٢-داکتر نصرت د حقاني صاحب د سلمان فارسي دغونډ رئيس ارکان

٣-شاه خان دحرکت انقلاب اسلامي قوماندان

ب: دخرېډنډ له محاذ څخه:

١- ارمان دحزب اسلامي داحد قرارگاه قوماندان

٢- حميد الله جان دمحاذ ملي اسلامي قوماندان

٣- مولوي مياء جان دحرکت انقلاب اسلامي قوماندان

ج: دمتاسنگر له محاذڅخه:

١- معلم صاحب تاج محمد دحزب اسلامي قوماندان

٢-خليفه صاحب امير خان د حرکت انقلاب اسلامي قوماندان

٣- سليمانخېل دمحاذ ملي اسلامي قوماندان

د: له شمالي محاذ څخه:

١-انجنير حضرت محمد دحزب اسلامي دحضرت عمر(رض)دقرارگاه قوماندان

٢-ميرزاجان دجمعيت اسلامي قوماندان

٣ مولوي قادر دحقاني صاحب قوماندان

هـ : دغربي محاذ څخه:

١-مولوي جانان دحزب اسلامي قوماندان

٢-مولوي حنيف شاه دحقاني صاحب قوماندان

٣- قوماندان دلاورشاه داتحاد اسلامي قوماندان

و: دکوچيانو له محاذ څخه:

١- حاجي شير خان دمحاذ ملي اسلامي قوماندان

٢- حاجي محمد افضل- داتحاد اسلامي قوماندان

٣-حاجي گلاب دحقاني صاحب قوماندان

همدارنگه داوه کسيزي قيادي شورا غړي په لاندي ډول ؤ!

١-له جنوبي محاذ څخه :فيض محمد دحزب اسلامي قوماندان

٢-دکوچيانو له محاذ څخه: حاجي وزير محمد دمحاذ ملي اسلامي قوماندان

٣-دخرېډنډ له محاذ څخه :حميد الله جان دمحاذ ملي اسلامي قوماندان

٤- دمتاسنگر له محاذ څخه: خليفه امير جان دحرکت انقلاب اسلامي قوماندان

٥-دشمالي محاذ څخه: حضرت محمد دحزب اسلامي قوماندان

٦-دځدرانو له محاذ څخه: حاجي شيرينډل دحزب اسلامي قوماندان

٧-دتڼيو له محاذ څخه : مولوي حنيف شاه دحقاني صاحب قوماندان

دومره ويلای شم چي دشمال لوری نه چي دقوماندان حضرت محمد له خوا رهبری کيده ، ډير مؤثر عمليات ترسره شول ، اوددښمن په تسليميدوکي مؤثر قوت بلل کيدای شي .

پوښتنه: دخوست دفتحي په جريان کي دانجنير نظرمحمد او ځيني نورو لوړ رتبه کمونستانو دپټي تيښتي عوامل ستاسي په نظر څه وو؟

ځواب: زما په نظر دهغي عمده علتونه داوو چي له يوي خوا خوست دشپي له خوا په مکمل ډول فتح شو، او بل لوريته دمجاهدينو تعداد ډير زيات ؤ، چي لړ څه بي نظمي مينځ ته راغله همدارنگه عسکري افسرانو ملکي جامي اغوستي وي، چي پيژندل يي ډير گران ؤ، يوبل عمده علت داهم دي چي خاد له ډير پخوا څخه دخپلي تيښتي پلان جوړ کړي ؤ،زرخريده غلامان ئي دمجاهدينو په مينځ کي گمارلي وو، چي دتيښتي په وخت کي به دوي خپلو غلامانو ته پناه وړ وړي وي، او هغوي به ورته دتيښتي لاري چاري جوړي کړي وي، زما په نظر دغه علتونه دځيني کمونستانو دتيښتي باعث شول.

پوښتنه: دخوست تر فتحي وروسته په جهادي قوتونو کي د دي شديد انتظار کيده چي ددښمن دماتي خوړلي روحيي څخه په استفادي سره بايد ژر تر ژره دهغوي په نورو مراکزو بريد پيل شي، ولي داسي ونه شول او ددي برعکس دگرديز په شاوخواکي دښمن تعرضي بريد وکړ، کولای شي ووايي چي ددي علتونه څه وو؟

ځواب: ـ دا څرگنده خبره ده چي دخوست له فتحي وروسته ددښمن روحيه ډيره ضعيفه شوه، او بايد هم مجاهدينو لدي فرصت څخه استفاده کړي واي، ولي

مجاهدینو دلاندي علتونو په خاطر دا کار ونشو کړی:

۱- په آزاد خوست کي دمجاهدینو دنظم او اداري جوړول، چي مجاهدینو هغه دنویو عملیاتو تر پیل ضروري گڼل.

۲- له خوست څخه په لاس راغلي وسلي عوارض درلودل چي دهغي ترمیم او داستفادې وړ گرځول ضروري خبره وه .

۳-پر گردیز دعملیاتو دپیل لپاره پکاروه چي هر قوماندان یو مضبوط سنگر ولري، او له هغي څخه عملیات پیل کړي. چي داهم ځان ته یو څه وخت ته ضرورت لري.

پوښتنه: ـ دخوست تر ویاړلي فتحي وروسته،ددښمن پرنورو مراکزو باندي دعملیاتو لپاره څه پروگرام لري؟

حواب :ـ دا ښرگنده خبره ده چي دخوست په فتحي سره زموږ جهادي مسئولیت نه ادا کیږي او زموږجهاد به د افغانستان تر کاملي فتحي پوري ادامه ولري.زموږ دوهم هدف گردیز دی او انشاء الله ډیر ژر به پدي ځای کي خپل عملیات پیل کوو.

پوښتنه: ـ تاسي دخوست دفتحي دتجربي په نظر کي نیولو سره، دهیواد نورو مجاهدینو ته څه مشوره ور کوی؟

ځواب: ـ زه په خپل نیمگړي نظر دهیواد نورو محترمو مجاهدینو ته دا عرض لرم چي دافغانستان دبشپړي فتحي لپاره دي ټول قوتونه یوتربله لاس ورکړي، خپل مینځي اختلافات او تنظیمي رقابتونه دي شاته پریږدي، او د خپل واحد او اصلي دښمن لوري ته دي متوجه شي، او پدي لار کي تر ټولو مهم اصل، دمجاهدینو دخپل مینځي اختلافاتو له مینځه وړل دي.

پوښتنه: داسلام او جهاد دښمنانو دهغو دسایسو او توطئو په نظر کي نیولو سره چي غواړي مجاهدین ستړي کړي، ستاسي په نظر باید دمجاهدینو نظامي او سیاسي ستراتیژي څه ډول مشخصات ولري؟

ځواب:ـ دافغانستان اسلامي انقلاب دختیز او لویدیز استعمار داهدافو دلاري خنډ دی، او هغوی تل داهڅه کړي ده چي ددې انقلاب مخه ونیسي، پدي لړ کي یې نه د تبلیغاتو سپما کړي ده او نه د عملي دسایسو او توطئو، که څه هم ددوی دغه دسایس اوس زموږ ټول ولس ته ښه ښرگند شوي، بیاهم په کارده چي په هرممکنه طریقه ددي ناوړه هلو ځلو مخه ونیولي شي، او دجهاد په سیاسي او نظامي برخه کي یو واحد نظر، او واحده اداره را مینځ ته شي. جهادي قوتونه باید منسجم شي.

د قوماندان « ارمان» تر مشري لاندي د ځاځي میدان تر فتحي دمخه دهغي ولسوالي د قومي مشرانو او علماووغونډه.

هند په افغانستان کي دنفوذ د زیاتولو په لټه کي دی.

ښومره چي د افغانستان د قضیي دحل خبري توديږي هند په هماغه تناسب په افغانستان کي د نفوذ لپاره اصلي هڅي زیاتوي. له کابل نه تر لاسه شوي رپوټونه وائي چي پدي وروستیو کي گڼ شمیر هندي متخصصین کابل ته تلي دي دوي غواړي چي د افغانستان په بیلا بیلو برخو کي پدي عنوان په تفحصاتو او سروي بوخت شي، چي افغانستان تر جگړي وروسته د بیا ودانیدو لپاره اوسپني ، سمنټو او نورو موادو ته شدیده اړتیا لري.

نوموړي هندي متخصصین وائي چي دوي دمحلي تجارانو په بلنه کابل ته تللي دي او دهغوي په لگښت هلته اوسیږي مگر ددوي داخبره سمه نه بریښي ، واقعیت دادي چي هغوي د رژیم له خوا ور بلل شوي دي .

په کابل کي دهندي ماهرانو دکار ښرنگوالي ښیئي چي هغوي اصلاً دلاندینیو هدفونو د پرمخ بیولو لباره ور غوښتل شوي دي:

په کابل ، جلال آباد ، گردیز او نورو مرکزونو باندي دمجاهدینو ددوبي داحتمالي بریدونو په صورت کي درژیم قواووته دمقابلي او مقاومت د ښرنگوالي مشوره ورکړي.

سعودي حكومت حكمتيار ته دخه لپاره بلنه ورنكړه...؟

دخليج جګړي تر پاي ته رسيدو څو ورځي وروسته په ځينو حلقو کي دا خبره کيده چي له رياض نه دخارجه وزارت يو هيأت پيښور ته راځي- ويل کيده چي دا هيأت به ددوو «بنسټ پالو» تنظيمونو حزب او اتحاد له مشرانو سره کتنه کوي، او دهغو سره تفاهماتو په لري کيدو به خبري کوي چي دجګړي په دوران کي دپورتنيوحزبونو دقيادتونو له مواضعو نه راپيدا شوي دي.

دي دواړو احزابو په خليج کي دامريکا نيتونه ډير شوم ګڼل او دهغي نقشي او اقدامات ئي سراسر د مسلمانانوپر ضدبلل. دوي امريکائي پوځ ته په سعودي کي دکوزيدو اوبيا دعراق په خلاف دامريکا په ليکه کي د ځينو اسلامي هيوادو دريدل ناوړه عمل گانه.

دمحترم حکمتيار دريځ په ځانګړي توګه ډير توند و. هغه پر عراقي دولت دامريکا برغل په افغانستان د روسيې له تهاجم سره پرتله کاوه اوله مسلمانانو ئي غوښتل چي په يوه جبهه کي په قاطعيت د امريکا مقابلي ته را پورته شي.

دسعودي دخارجه وزارت دهيأت دراتلونه کوم رسمي خبر خپورشو اونه ئي اوازه واوريدله شوه.

خو په هغو ورځوکي موږ ته يوي باوري منبع وويل چي درياض له خوا له محترم استاد سياف سره تماس نيولي شوي و - سعوديانو استاد سياف صاحب ته ويلي و چي زموږ د مرستو زياته برخه له تا سره کيده خود خليج د جګړي په وخت دي دريځ زموږ پر خلاف و، خير دي اوس هم وخت شته دي په سياست کي دي تجديد نظر وکړه، څه خبري دي بيرته واخله حالات به عادي شي، شايد سعوديانو غوښتل چي محترم استاد سياف د جمعيت اسلامي دمشر محترم استاد رباني تجربي ته تشويق کړي.

> په حج کې دنړۍ دګوټ ګوټ مسلمانان برخه اخلي کله چي سعوديان وکړای شي دحج په ورځوکي هغه حکمتيارچي دامريکا دشديد دښمن اوتوند انقلابي په توګه جهاني شهرت لري دخپل رسمي ميلمه په حيث تبليغ کړی ، لدې نه دځان په ګټه دمسلمانانو دذهنيتونو په اړولوکی لويه استفاده کولای شي.

د استاد رباني لهجه که څه هم دحکمتيار او استاد سياف په اندازه تونده او صريح نه وه خو دخپل معمول دود او مزاج سره سم يې په يوه خاص انداز د امريکا د

برغل او تاړاک مخالفت کاوه. مګرچي څرنګه جګړه دعراق په ماتي پاي ته ورسيده، استاد رباني سملاسي له خپل يوه ځانګړي پيغام سره د خپل تنظيم يو هيأت سعودي ته وليږه- ويل کيږي چي د استاد د پيغام محتوي او دهيأت روش زيات معذرت خواهانه او په پښيماني ولاړ و.

سعوديانو له استاد سياف نه هم دهمدي کارد کولو توقع کوله- په يوه تفاوت چي دمحترم استاد رباني تر عمل ئي د استاد سياف په حرکت کي ګټه ډيره ليده- ددي علت داو چي يو خو د استاد سياف دسياسي پرستيژ د برتري نقش و بل دهغه په نظرياتو او څرګندوونو کي نسبت استاد رباني ته د انقلابيت صبغه زياته وه، اوپدي نامه زيات پيژندل شوي هم دي.

خبره مو ددي کوله چي سعودي واکمنو له سياف صاحب څخه دڅه پښيماني او

تجدید نظر غوښتنه کوله- خوسیاف صاحب دي غوښتني په منلو کي دخپل فکري حیثیت اوسیاسي شخصیت لپاره لویه خساره لیده- له دي امله ئي هغه رد کړه.څه موده دمخه د ځینو حلقو له خوا داسي تبلیغات پیل شول چي ګني د سعودي حکومت اود امریکا تر مینځ څه کړکیچ او خوابدي راغلي دي. ویل کیده چي سعودي مسؤلین اوس دا خبره ډیره کوي چي امریکا نه د کویت او سعودي ددفاع لپاره سیمي ته پوځ رالیږلي واو نه یي پدي برخه کي د سعودي قبلي موافقه تر لاسه کړي وه- بلکي د خپلو ګټېو د ساتلو لپاره ئي په خپل سر په عربستان کي لښکري را کوزي کړي.

همدا راز داخبره کیدهٔ چي د ریاض واکمن له امریکا څخه پدي ګیله من دي چي د سعودي له خاوري نه د خپلو لښکرو په ایستو کي ځنډ کوي. ان تردي چي دمصر دا نا څاپي اعلان چي خپلي ټولي قواوي به ډیر ژر په اوږ یو مخیزه توګه له عربستانه باسي ، داسي تبلیغ شو چي دا کار اصلاً دعربستان دحکومت په اشاره ددي لپاره شوي چي امریکا تر یو ډول اخلاقي فشار لاندي را وستله شي ترڅو دخپلو عسکرو په وتو کي چټکي وکړي.

«دپاکستان دیوه معتبر مبصر یوه مقاله چي په پورتني روحیه لیکله شوي وه ولوستله په هغه کي دواشنګټن او ریاض په منځ کي د اړیکو دخړ پر تیا څه نښي راوړي شوي وي ، یوه یکي دا وه چي کله څه وخت دمخه د امریکا ددفاع وزیر جنرال« ډك چیني» سعودي ته ولاړ نو غوښتل ئي چي په لومړي ورځ له پاچا او ولیعهد سره و ګوري خو ایله په دریمه ورځ وخت ورکړل شو.

بله نښه ئي دا ښودلي وه چي کله د امریکا خارجه وزیر پاچا فهد ته دلیدلو لپاره ورغي نو تقریباً څلویښت دقیقي منتظر کینول شو- او داد ډیپلوماتیکي نزاکتونو له مخي یوه داسي اشاره ده چي له امریکا څخه د ریاض د خوابدي خبري کوي.

ددغه ډول تبلیغاتو په منځ کي په پاکستاني ورځپاڼو کي دا رپوټ خپورشو چي په اسلام آباد کي د سعودي سفیر دمجاهدینو دیوي لوئي ډلي دمشر حکمتیار صاحب کورته ورغي او دیوي اوږدي کتني په ترځ کي ئي د شاه فهد بلن لیك ورته وسپاره. پدي بلنه کي ویل شوي وُ چي دسعودي واکمن به مننتظر وي چي حکمتیار د حج په ورځو کي دهغه هیواد رسمي میلمه شي.حکمتیار د غرب په سر کي ئي د امریکا په مخالفت کي نړیوال شهرت لري- او دنړي په سیاسي حلقو کي دیوه معلوم غربي ضد شخصیت په توګه مطرح دي- دخلیج دجګړي په دوران کي ئي د امریکا د جبهي پرضد جهاد اعلان کړ او سعودي ته ئي دمجاهدینو دقطعاتو لیږل یو ستر خیانت و ګاڼه.

ما چي دځیني پاکستاني ژورنالیستانو ددي روحیي تبلیغات مطالعه کړل چي ګني د سعودي او عراق اړیکي خرابي شوي دي او بیا مي له ټولو شدیدو امریکائي ضد ګرایشاتو اوسیاستونو سره سره رړاض ته دمحترم « حکمتیار» بلني ته پام وکړ، تر ډیره حده مي ذهن دا خیسته چي کیداي شي دا اختلاف رښتیاوي.

داخبره له ماسره د یوي مهمي پوښتني په توګه مطرح وه- یوه ورځ مي دیوه اسلامي هیواد له با تجربه او با بصیرته مبارز او ښه ډیپلومات څخه پدي برخه کي دهغه نظروغوښت- هغه په ډیر صریح اوجذاب استدلال دا تبلیغات څه چي ددي امکانات هم رد کړل چي د سعودي واکمن له امریکا سره دمخالفت جرئت کولاي شي- ده وویل ددي تبلیغاتو هدف دهغه کرکي او انزجار راکمول دي چي په امریکا پوري دسعودي واکمنود مطلق تړلتوب له امله دهغوي پر خلاف د مسلمانانو په زړونوکي راپورته شوي دي، نوموړي وروو زیاته کړه چي« تاسي پوهیږي چي ټوله اسلامي نړي پدي غوسه ده چي سعودي واکمن د امریکا ئي سیاست دآلي په توګه لوبیږي .

په حج کي دنړي دګوټ ګوټ مسلمانان برخه اخلي، کله چي سعودیان وکړاي شي د حج په ورځو کي هغه حکمتیار چي دامریکا د شدید دښمن او توند انقلابي په توګه جهاني شهرت لري د خپل رسمي میلمه په حیث تبلیغ کړي، له دي نه دځان په ګټه د مسلمانانو د ذهنیتونو په اړولو کي لویه استفاده کولاي شي» اوس زه فکر کوم چي زموږ ددي وروو تحلیل او درك ډیر معقول او په ځاي و، او دپیښو او واقعیتونو څرنګوالي ئي پوره تصدیق او ملاتړ کوي حتماً همدغه واقعیت دي چي محترم « حکمتیار»صاحب په پام کي نیولي او د«فهد» بلنه یي ونه منله..........

رواني سياسي هڅي به په څه تمامي شي....؟

انجمن تحقيقات علمي ومشورتي
محمد نذير «بشارت»

دخوست له فتحي سره جوخت د اپريل په ٣ مه په اسلام آباد کي دپاکستان « افغان سيل» غونډه و کړه. دپاکستان « افغان سيل» چي ديوي « جرگه گي» يا « کميسيون» بڼه لري ددي هيواد له جمهور رئيس، صدر اعظم ، خارجه وزير، دفاع وزير، لوي درستيز اود پوځ ددريو وارو قواوو قوماندانانو او څو نورو لوړ رتبه مسئولينو څخه جوړ دي.

دخوست فتحه د مقاومت لپاره لوي پوځي بري و. خوست تر کابل وروسته به هر لحاظ درژيم دوهمه غښتلي پايگاه وه.

نجيب دخوست په استحکام دومره ډاډه و چي ويل ئي که مخالفين خوست ونيسي زه به استعفي کوم.

دخوست له نيولو سره دمجاهدينو« موضع» مضبوطه شو. ور سره دي« منطق» او « سياست» هم عملي پشتوانه او عملي مفهوم و موند چي پوځي حل دقضيي داواري لپاره ديوي لاري په توگه انتخابيداي شي. او که يو څوک د نظامي تصفيي دروش خبره کوي نوله واقعيته په لري توب او تجرد نشيء «تورن» کيداي ، ددښمن په څو مهمو مرکزونو باندي دبريد لپاره نظامي ترتيبات او تحرکات پيل شول او په عمومي توگه د «جگړي » ذهنيت او جگړه ايزي فيصلي روحيه په ډيره چټکي را پياوړي شوه.

پدغسي يوه حالت کي ظاهراً فکر کيده چي شايد دپاکستان په سياست که هم په

> موږ، بايد ووايو چي زموږ دقضيي په لوري کوم سياسي هجوم راروان دی ، اوموږ، عملاً يوه پراخ اوتيزسياسي جنگ ته ورکښل شوي يو، هغه له موږه دوه کاره غواړي ، يو په رژيم باندي دنظامي فشار فوق العاده تشديد ، اومقاومت ته تهاجمي عسکري واقعيت ورکول ، دوهم ديوه پياوړي معقول سياسي منطق اوسياسي پلان خپلول .

يو ډول نه يو ډول دپورتني ذهنيت او روحيي رنگ لږ او ډير سکاره شي.

خو « افغان سيل» پريکړه و کړه چي« پاکستان نور د افغان قضيي په سياسي حل ټينگار کوي».

دي پريکړي ځيني پوښتني را پيدا کړي- داسي چي آيا هغه دپاکستان ددريځ مشهود بدلون نه ښيئ ؟ آيا پاکستان غواړي دخوست له فتحي چي مسکو کومه ضربه خوړلي دهغوي عصبانيت را کم کړي؟ او که هڅه کوي دافغانستان د قضيي په باب دامريکا ، ايران، عربستان چين او.... له لوري چي کوم نوي ذهنيت او سياست را وړاند ي شوي له هغه سره يي خپل دريځ ته شکلي توافق ورکړي؟

يو تحليل داو، چي ددي خبري احتمال کمزوري ښکاري چي پاکستان دي خپل موقف اړولي وي- ځکه يو خو که نورو ته احياناً د افغانستان د قضيي اهميت کم شوي وي ، وي به ، مگر پاکستان ته تر پخوا زيات شوي لږ شوي ندي. يو وخت په ډيرو سيمه ايزو او نړيوالو بر خو او قضاياوو کي دپاکستان او امريکا گټي سره يو وړوي - مگر اوس حالات داسي دي چي ددي دواړو هيوادو دمنطقوي او جهاني سياست، فکر او گټو ډيري کرښي سره په جگړه او اړپيچ کي دي.

پرون چي پاکستان ته دروسيي له لوري

کوم ګواښ وُ ، نن ورته تر هغه څوچنده زيات دامريکا له طرفه دي. دپاکستان او امريکا تر منځ اختلاف فقط د بد تفاهم، ديپلوماتيکي جنجال او اقتصادي سياسي کړ کيچ ندي بلکي ددواړو خواوو اساسي نظريات او ګټي سره په مطلق تصادم کي دي.

ددي لپاره چي داخبره ښه واضح شوي وي او دزيات تفصيل مخه مو هم نيولي وي، نو دابه کافي وي چي وليکو امريکا اصلاً غواړي له پاکستان سره خپلي اړيکي پدي شرطونو عادي کړي:

الف: د اتومي پروژې ختمول ب : د

وپالل شي اود مجاهدينو له اهدافو او ګټو سره ئي روش د مطلق تضاد فضاته هم ونه لويږي. په ابتکاري حرکت ئي لاس پوري کړ.

اوس جهاني وضعه داسي ده چي پاکستان نسبت امريکا ته له روسيي سره د معاملي او تعلقاتو ډير چانس لري او پاکستان کولاي شي په منطقه کي د خپلو ګټو او تشخص دساتلو لپاره

ددي چانس نور هم زياتوي چي اسلا م آباد له روسيي سره د باور چاپير يال را منځ ته کړاي شي.

دجون دمياشتي له پيله اسلا آباد د افغانستان په باب د تودو تحرکاتو شاهددي. دا تحرکات له مسکونه دپاکستان په خارجه وزارت کي د افغانستان د چارو دمسول تر راستنيدوروسته تاوده شول.

نجيب دخوست په استحکام دومره ډاډه وُچي ويل ئي که مخالفين خوست ونيسي زه به استعفى کوم

اسلام له نفاذ او حاکمولو ډډه کول ج: د کشمير په باب د خپل دريځ بدلول او هغه ديوي آزادي سيمي په توګه منل د: له پنځو، شپږو لکو يوه لك ته د خپل پوځ راکمول. ددي ټولو معني داده چي پاکستان به په منطقه کي دهند بر لاسي او واکمني ته غاړه زدي.ددي تحليل له مخي پدغسي يوه وضعه کي د افغانستان په برخه کي دپاکستان دسياست دداسي بدلون چي مجاهدين ناراضه کړي ، احتمال کمزوري معلوميده له بلي خوا دا هم ګرانه ښکاريده چي پاکستان دي له خپلو ټولو مشکلاتو سره چي ور سره لاس ګريوان دي وکړاي شي دا نړيوال ګرايش او ذهنيت له پامه و غور ځوي چي بايد د افغانستان قضيه د« ديالوګ» او« سياست »له لاري حل شي او خپل تمايل په يوه ډول ددي روش په مخالفت او دپو ځي حل په پلويتوب کي وښيي.

زما په فکر پاکستان يوه منځني لار و نيوه - پدي ډول چي دقضيي په سياسي حل بي دټينګار سياست اعلان کړ - ددي لپاره چي پخواني سياست او اهداف ئي هم

مسکو د پخوا په خلاف د غرب په پرتله ديوه ښه لوري په حيث انتخاب کړي .

په پاکستان کي يو قوي رجحان دا را څرګند شوي چي په روانه نړيواله وضعه کي له روسيي سره ددي هيواد اړيکي ښي کول ددوي په ګټه دي.له همدي امله پاکستان زيار باسي د افغان قضيي پر حل له روسيي سره خبري وکړي.

دپاکستان صدر اعظم ښاغلي نواز شريف د جون په پنځمه نيټه دخپل هيواد دنظاميانو يوي غونډي ته په وينا کي وويل:« .... موږ د افغانستان دقضيي دسياسي حل لپاره ابتکار په لار اچولي دي - مګر دقضيي دحل کيلي په کابل کي يوه پراخ بنسټه حکومت ته له نجيبه د اقتدار انتقال دي - دي بحران حل به له روسيي سره زموږ د اړيکو دبهبود چي موږ ور سره ژوره دلچسپي لرو،په لار کي خندونه له منځه يوسي.....»

پاکستان غواړي په همدي جهت کي د چين او ايران سياستونه له ځان سره هماهنګ کړي او له دي امله چي دا دواړه هيوادونه له مسکو سره ښي اړيکي لري

دجولاي په پنځمه دپاکستان د بهرنيو چارو دوزارت ويندوي يوه مطبوعاتي کنفراس ته وويل: «......... دروسانو او دوي ترمنځ مذاکراتو کي لوي اختلاف دانتقالي دوري د ترتيباتو او دهغه پراخ بنسټه حکومت د ترکيب په څرنګوالي کي و چي بايد په افغانستان کي آزاد او عادلانه انتخابات وکړي. زموږ نماينده رياض محمد خان روسانو ته څرګنده کړه چي بايد دانتقالي دوري تياري د افغانانو په خوښه وشي او هغه کسان پکي شامل وي چي دهيواد دننه او بهر دافغانستان د خلکو نمايندګي کوي. دوي روسي ټيم ته چي « کوزيروف » يي مشري کوله وويل چي نجيب په انتقالي پروسه کي برخه نشي اخيستلاي که دا پروسه د پراخ بنسټه حکومت جوړيدل وي او که په هغه پوري مربوط کوم بل جريان. خو روسان په انتقالي پروسه کي دنجيب په برخي اخيستو ټينګار کوي.......». ده ديوي بلي پوښتني په ځواب کي څرګنده کړه چي:« ...... دمجاهدينو د ائتلاف له وروستي دريځ سره سم شايد هغوي دوطن ګوند هغه غړي ومني چي د افغانانو په

کړولو کي له نجيب سره شريك ندي».
ورروسته ئي زياته کړه: «..... خو په انتقالي پروسه کي دنجيب د برخي اخيستو او نه اخيستو په سر زموږ داختلاف معني دانده چي دمسکو په خبرو اترو کي پرمختګ نه و. په ډيرو شيانو کي توافق و او دواړه لوري پدي نظروو چي بايد قضيه له سياسي لاري حل شي . د مسکو له خوا د ملګرو ملتو د سر منشي دپنځه ټکيزي طرحي ملاتړ ، دمسکو د مذاکراتو سه اړخ ؤ.»
دجون په ٦ مه دروسيي په خارجه وزارت کي لوي ګرځنده سفير نيکولاي کوزيروف روسي آژانس ته وويل چي:«..... موږ په مذاکراتو کي پاکستانيانو ته وويل چي دوي بايد دانتقالي دوري له تشکيلاتو نه چي ازاد انتخابات به کوي دنجيب او« وطن ګوند » په لري کيدو ټينګار ونکړي - دکابل اوسني حکومت «يو واقعيت دي» چي دحل له پروسي نشي ايستل کيداي».
خو ورځي وراندي پراودا ورځپاڼي ليکلي و چي:«.... دافغانستان خلك او نړيوال کيداي شي دنجيب او حزب دمشرانو په باب څه ووايي خو د حزب له «واقعيته» سترګي نشي پټولاي.....»
که دپاکستاني ويندوي او روسانو څرګندوني دقيقي مطالعه شي نو فکر کيږي چي دا خبره چي « شايد مجاهدين دوطن ګوند هغه غړي چي د افغان ولس په کړولو کي له نجيب سره شريك ندي ومني» دچنو وهلو له ميدانه داحتمالي توافق په خوا دوتو دلاري په توګه تحليل شي.
امريکا چي اوس عملاً دنړي يواځيني لوي طاقت دي ، دعراق تر ځپلو وروسته معمولاً دقضا ياوو په باب په کبر او بي احتياطي برخورد کوي او د « اناّولا

غيرئ» په نشه کي دوبه ده.
تقريباً په افغانستان کي ئي د مسلمانو انقلابيونو پر ضد جګړه اعلان کړي،په بيلا بيلو بنو غواړي چي په مجاهدينودخپلي ارادي د تپلو او منلو فشار راوړي خو تر کومه چي فکر کوو په افغانستان کي دامريکا مشکلات ورځ په ورځ زياتيږي. البته له دي اړخه چي عمومي ذهنيت ئي پر خلاف را پاريږي.
- دامريکا يانو ستونزه داده چي هغوي بايد وضعه خرابه کړي، جوړ قوتونه ويجاړ کړي، جګړه اوږده کړي او حالات کړکيچن کړي - تر څو د ځان په ګټه د قدم پورته کولو او ځواك جوړولو چانس تر لاسه کړي- که وضعه همداسي روانه وي او امريکا همدي روش ته ادامه ور کړي ، دهغوي په خلاف به د يوه قهر جن عملي حرکت په را پيداکيدو حالات ديوه جنجالي ،پيچلي او نامعلوم سرنوشت په لوري خطرناك انتقال او بدلون وموم.

د سقوط يادمجاهدينو په ګټه دقضيي دسياسي حل دپروسي دګړنديتوب لپاره چي دکومو نظامي فعاليتونو پلان شته، هغه ويجاړاو سبو تاژ شي.
دا ذهنيت هغه وخت پياوړي شو چي د حزب اسلامي امير محترم « حکمتيار» اعلان کړه چي د« نوښار» چاودنه د افغان جهاد ددښمنانو دسيسه وه او شايد نوري هم تکرار شي وروسته رهبرتونه خپاره شول چي ډير قوي احتمال دادي چي مخکي له مخکي په ځينو وسايلو کي څه داسي مواد ځاي په ځاي شوي وي چي د« ستلايت» په وسيله وچوي.
همداراز دهغو ورځو يوبل خبر داو چي د«نوښار» تر چاودني دوه ورځي دمخه دپاکستان يو لوړ رتبه صاحب منصب ديوه مهم جهادي« رهبر» کورته راغلي و او ورته ئي ويلي و چي ديوي ځانګړي شبکي له خوا دي دوژل کيدو پروګرام دي ، امنيتي تدابيردي زيات دقيق کړه.

> دپاکستان صدراعظم ښاغلی نوازشریف دجون په پنځمه نیټه دخپل هیواد دنظامیانویوی غونډی ته وویل : موږ دافغانستان دقضیی دسیاسی حل لپاره ابتکار په لاراچولی دی مګر دقضیی دحل کیلي په کابل کی یوه پراخ بنسټه حکومت ته له نجیب داقتدار انتقال دی ددي بحران حل به له روسیی سره زموږ داړیکودبهبود چي موږ ورسره ژوره دلچسپی لرو په لارکی خنډونه له منځه یوسی

په نو ښار کي چي دپاکستان کوم لوي ډيپو وچاود،آن په هغه پيل کي ئی دا نظر يه او ذهنيت عام شو چي دا کار امريکا يانو کړي دي لکه څه وړ ئي چي د ژنيود تړون تر لاسليك ليزدمخه د«اوجړي کمپ» ډيپو و چاود او غوښتل ئي چي مجاهدين دنظامي سوبي احتمالات له لاسه ور کړي - همداسي يي اوس هم و غوښتل چي په افغانستان کي چي دنجيب

داسي معلوميزي چي امريکا اوس په افغان بحران معلوم او مشخص سياست نلري، يواځي غواړي پدي مرحله کي چي په کوم جريان او کوم روش چي ممکن وي مقاومت ستړي، بي دمي او بدنام کړي. او پدي مر حله کي هسي دحالاتو د خرابولو په هڅه کي ده.
دجولاي په ٤ مه د امريکا خاص استاځي پيتر تامسن په خراسان کمپ کي

مهاجرینو ته وویل«...... دافغانستان د بحران یواځینی حل دادي چي نجیب ولاړ شي، او افغانان له خپلي خوښي سره سم حکومت جوړ کړي، افغانان ددي کفایت لري چي دخپلي خوښي حکومت جوړ کړي او هیڅوک باید پري حل ونه تپي – روسان د نجیب په سیاسي نقش پا فشاري کوي خو دا ناممکنه ده – هغه دروسيي دتیري نتیجه ده . دنجیب دموجودیت په صورت کي اور بند نشي کیدای"امریکا په افغانستان کي دمجاهدینو په لاس دیوه اسلامي حکومت جوړیدو ته سترگي په لار ده..»

مگر ددي خبرو په خوا کي امریکایان وائي چي دوي به په نږدي راتلونکي کي په مقاومت ټولي مرستي بندي کړي.

سناتور« اورن هایچ » چي دامریکا دخارجه اړیکو د« جرگه گي» غړي دي وائي چي باید په پاکستان فشار راوړل شي چي له « حکمتیار» سره مرستي بندي کړي او باید دانتقالي دوري مشري ظاهر شاه او هغو افغانانو ته چي بې جگړه کي بې طرفه وو ور کړه شي.

همدارازد نمایندگانو دمجلس د فرعي کومیتي رئیس"جان کیلي" د کانگرس له سر سخت یهودي غړي« ستیفن سولارز» سره د بحث په ترڅ کي وویل چي امریکا دانتقالي دوري لپاره د جمهور رئیس په توگه دنجیب منلو ته چمتو ده – پدي شرط چي عمده لوري ئي په مذاکراتو کي دحضور ملاتړ وکړي.

لدي خبرو معلومیږي چي مهاجرینو ته د «تامسن» وینا په هیڅ توگه دامریکا دسیاست اصلي کرښي ندي. بلکي د افغانانو دروحیي او احساس دمزاج ماهرانه خیال ساتل دي. متأسفانه امریکا د خپل جهاني نفوذ او زور له مخي لکه څه ور چي ئي وکړای شواي د خلیج په بحران کي ملگري ملتونه او نور قوتونه د خپلو اهدافو لپاره استعمال کړي په افغانستان کي هم همداسي کیږي. د« افراطیت» او « بنیاد گرائي» په نامه زموږ د مسلمان ملت د مقاومت دماهیت او ارمان پر خلاف یو پراخ کمپاین په لار لویدلي دي.

زموږ دملت یوي لوئي برخي دملگرو ملتو د سر منشي د طرحي په خلاف کرکه او حساسیت وښود، خوهغه قوتونه چي ددي مخالفت په سر کي وو په «افراطیت اوتشدد خوښوني» تورن شول– هغه طرحه چي زموږ ملت ته له ذلت ، توهین او محکومیت پرته بل مفهوم نه لري، هغه چي په منلوئي باید افغانان دخپلي خوارلس کلني مبارزي دانگیزي، تشخص او هدف پرقداست او حقانیت د بطلان کرښه را کاږي – او د یرغل نتیجي ته تسلیم شي.

که زموږ ملت نجیب دیوه رواجهت په لوري وپیژني آیا وجداناً به نا ارامه نه وي او له ځانه به نه پوښتي چي دا کار ئي ولي خوارلس کاله دمخه نه کاوه؟

آیا ددي کار معني به دانه وي چي اصلاً د روسیي یرغل په « نا حقه» نه و – ځکه دیرغل نتیجه چي بر حقه وگڼله شي دتیري د« ناحقه» گڼلو څه جواز دي؟ که څوک و پوښتي چي دملگرو ملتو په طرحه کي خو داسي صراحت نشته نو باید ووایو چي اصلاً د طرحي محتوي له پاس خبري پرته بل مفهوم نلري. موږ-دلته له طرحي نه دهمدغه مفهوم درا ایستو لپاره څه موشگافیو ته مجبور نه یو بلکي د ملگرو ملتو دښاغلي سر منشي دځانگړي استاځي « بانین سیوان» هغه خبري را اخلو چي د جولاي په لومړیو کي ئي له کابله تر را ستنیدو وروسته په اسلام آباد کي له خبر یالانو سره په غیر رسمي توگه وکړي هغه وویل:«..... د افغاني مجاهدینو او نورو له ټول مخالفت سره سره دنجیب رژیم او وطن گوند په انتقالي پروسه کي له پامه نشي غورځیدای.....» دسیوان پدي خبرو سره دملگر ملتو د طرحي په برخه کي ټولي پوښتني ځوابیږي او شکونه رفع کیږي.

شاغلي« سیوان» دمنځگړیتوب ټول حدود لاندي کوي او په صراحت زموږ دمسلمانانو انقلابیونو دمخالفینو په کتار کي دریږي وائي:«..... حتمي نده چي ټول گروپونه دي توافق وکړي – که تر بنځوس فیصده زیات افغانان ... ور د طرحي ملاتړ و کړي نبه کافي ده ځیني چي ددي طرحي مخالفت کوي شاید دسیاسي حل له پروسي بهر پاتي شي.....» که ښاغلي سیوان او هغه چاته چي دي دطوطي په څیر دهغوي خبري زمزمه کوي رښتیا هم د افغانانو داکثریت اراده اهمیت لري نو ولي پدي ټینگار کوي چي نجیب او گوند ئي په انتقالي پروسه کي له پامه نشي غورځیدای.

آیا نجیب او دهغه گوند د افغانستان مطلق اکثریت ندي رټلي که دوي «د اکثریت» داعتبار په نظریه کي صادق وي، نو باید دخپلي هري هغي طرحي او اقدام د چوکاټ او مشخصي دټاکلو یوه ثابته قاعده ئي داوي چي دنجیب رژیم ته پکي دهیڅ نقش قایلیدو خبره دخیله نه وي، ځکه نجیب او دهغه گوند د افغانستان خلکو په مطلق اکثریت او مطلق ډول رد کړ ي دي.

موږ حق لرو چي ووایو دښاغلي سیوان هدف داکثریت او اقلیت ملاتړ ندي. اصلاً غواړي هغه ظلم او توطئي ته لاره

پریږدي چي زموږ دمجاهد و څواکونو مواضع سیاستونه او اراده په« قانوني » بڼه دقضیي دحل له پروسي خارجه کړي- او یایي دکمزوري کولو لپاره جهاني ذهنیت عیار کړي. موږ دا په جرئت وایو چي دملګرو ملتو د طرحي مخالفت یواځي دمحترمو « حکمتیار » « سیاف » او «خالص » مواضع ندي بلکي د افغانستان داکثریت مسلمانانو سیاست دي.

دملګرو ملتو د طرحي روح داده چي دنجیب حکومت به دیوه لوري په توګه پیژندل کیږي او مجاهدین به دقضیي دحل لپاره له هغه سره« دیالوګ» ته کیني.

باید بي طرفانه قضاوت وکړو که یو څوک له هر مسلمان افغان نه و پوښتي چي آیا دنجیب حکومت په رسمیت پیژني او له هغه سره له روغي جوړي سره موافق ئی؟ آیا دقاطع اکثریت ځواب به منفي نه وي؟ مسلماً به همداسي وي . ځیني محترم مشران اوسیاسي وګړي د خپلو سیاسي« مجبوریتونو» اوسیاسي اهدافو لپاره الفاظ په خوله کي ردوئي او داګر او مګر په تاو راتاو کي په اصطلاح په« زبان حال» ښاغلي سیوان او دهغه دماموریت تر شا پرتو مراجعو ته دتوافق خبره فهموي - هغوی په هیڅ توګه ددي جرئت نشي کولای چي په صراحت ووائي چي له نجیب سره تفاهم او روغي جوړي ته چمتو دي. خو اوس هڅه کیږي داسي یوه سیاسي غوغا را جوړه شي چي دځو مشخصو قوتونو دتجرید کار په مخ یوړل شي.

موږ چي وایو اصلاً په افغانستان کي له صحني نه د ځینو معینو قوتونو او نظریو د لري کولو جهاني سیاسي جبهه په کار بوخته ده دپاس څو دلایلو تر څنګ دسویس په بهرنیو چارو کي دمملکت وزیر « کلاوز جاکوبي» څرګندوني هم یو بل دلیل دي – هغه سره له دي چي دیوه بي طرفه، هیواد مامور دي چي دسولې او روغي جوړي ماموریت عنوانوي مګر څرګندوني ئي مطلقاً په یوه طرف ولاړي ، دسیوان د اظهاراتو کاپي او دهغي مخالفي جهاني جبهي دسیاست نقل دي چي پاس مو ورته اشاره وکړه.

جاکوبي» وائي : « ...... هغه ګروپونه چي دملګرو ملتو د طرحي مخالفت کوي – خنډ دي نه جوړوي بهر دي پاتي شي.....». ګورو چي ښاغلي « جاکوبي» نه یواځي له یوه مشخص ګرایش اوسیاست څخه دفاع کوي بلکي سفارتي اداب او دیپلوماتیکي نزاکتونه هم تر پښو لاندي کوي. دهغه په څرګندونو کي دیوه معلوم قوت او معلومي نظریي په خلاف عقده له ورایه بریښي. او دا دهغه جهاني جریان او سیاست یوه برخه ده چي هدف ئي په افغانانود یوه داسي سیستم تحمیلول دي چي دوي یي غواړي نه افغانان.

همدارنګه ددي سیاست مقصد په افغانستان کي دیوه داسي فکر او قوت ځپل دي چي دوي ئي حضور نشي منلای خو په افغاني ټولنه کي یو مسلم واقعیت لري.

تر څو چي د افغانستان دقضیي په باب د ځینو لوریو فعالیت او په سیاست کي پورتني مشخصه غالبه وي دا بحران به نه یواځي اواریږي نه ، بلکي لا به پیچلي کیږي او ځوروونکي عواقب به راوړي. او دا [illegible] دادي چي زموږ مظلوم ولس او په وینو سور وطن به لا دغمونو او لاد. بد مرغیو له کړ لیچونه تیریږي.

اوس به راشو دي ته چي زموږ د کور دمقاومت وضعه څه وړده، او څومره دهغو چلنجونو دمقابلي لپاره تیاري لرو چي زموږ در بدره قوم ته قدم په قدم منتظر دي.

موږ باید ووایو نن چي زموږ د قضیي په لوري کوم سیاسي هجوم را روان دي او موږ عملاً یوي پراخي او تیز سیاسي جنګ ته ور کښل شوي یو هغه له موږه دوه کاره غواړي یو په رژیم باندي د نظامي فشار فوق العاده تشدید او مقاومت ته تهاجمي عسکري واقعیت ور کول دوهم دیوه پیاوړي معقول سیاسي منطق او سیاسي پلان خپلول.

په لومړي برخه کي خو دخوست لویه فتحه، دخواجه غار سوبه او نور بریالي عملیات او تحرکات ښه آغاز او ښه قدم دي چي په کارده په دقت ، جدیت او قاطعیت تعقیب شي.

په دوهمه برخه کي اوس د ۲۸ کسیز کمیسیون کار روان دي. دا کمیسیون تر هغه وروسته جوړ شو چي دجون په ۷ مه دجهادي احزابو قایدین دپاکستان خارجه وزارت ته وروغوښتل شول او دافغان بحران په باب دبیلا بیلو هیوادو دسیاستونو او پدي منځ کي په هغه سیاسي فشار چي په پاکستان پروت دي رڼا واچوله.

دجون په ۸ مه دپیښور له اوو تنظیمونو څخه هر یوه دري دري تنه او کوچنیو مستقلو تنظیمونو یو یو کس معرفي کړل چي ۲۸ کسیز کمیسیون تري جوړ شو. نوموړي کمیسیون ددي مقالي دلیکلو تر وخته پنځه جلسي کړي . پدي جلسو کي له محترم « حکمتیار » صاحب او محترم « سیاف» صاحب پرته نورو ټولو مشرانو په خپله ګډون کړی دي. تر اوسه

(پاتې په (۳۶) مخ

ترجمه   محمد معروف فروغگر

طرح نظام نوین امریکا وپاسخ اسلامي آن

نوشته: دوکتور سید اسعد گیلاني
ترجمه : فروغگر

وقتي به شخصي گمان بیدا شود که نسبت به دیگران نیرومند است، اگر از خدا نتر سد فرعون میشود، که در نتیجه روزي با موسي يي رو برو میشود و از اسمان خود بزرگي به زمین حقارت وذلت سقوط میکند، زیرا این واقعیتي است مسلم که هر فرعوني را موسي است، هم چنان اگر ملتي پندارد که نسبت به ملل دیگر جهان نیرومند است در وهلهء دوم پندارش ذوق صدور ایدیالوژي و نظام در خاطرش موج میزند و به نحوي از انحا میخواهد افکارش را بر دیگران تحمیل کند، همین ذوق وبلاي لذت توسعه طلبي است که او را گاهي با جنگي چون جنگ ویتنام، معرکه یي چون معرکه افغانستان و کشمکش چون کشمکشهاي «واتریو» و« پانامه» مواجه میسازد، سپس داستان عبرتناك و در آموز شکستن چون « کاسبرگهاي گل» دامنگیر هر چمن و حکایتگر هر وطن میشود، بناء مواردي را که اکنون میشماریم قابل بحث و مناقشه هست:

۱- در زندگي ملتها اموري هست که در زبان بین المللي به امور مسلم وپذیرفته شده شهرت یافته است، مثلاً حق خود ارادیت ملل جهان که خواهي نخواهي ایشان به رسیدن به آن فایز آیند، تا در اینده بتوانند مسایل زندگي شان را طوري که خود شان میخواهند حل وفصل نموده اصول و قوانیني را وضع و تطبیق نمایند که میشود به درد زندگي فکري و عملي شان بخورد، اگر از این امور مسلم و پذیرفته شده کسي انحراف میکندویا تااکنون کرده است، خود و ملت او بنام استعمارگر ، بهره کش ، متجاوز و مستبد مسما گردیده است، این طرزتفکر در قدم اول ازمغرب زمین میهن انظار مردم را بخود جلب نموده است، سپس از آنجا ، آهسته ،آهسته جهان را در آغوش گرفته است، دین مقدس اسلام در این مورد پا بند اصولي است که از «کل حزب بما لدیهم فرحون » (هر گروه به آن چه که نزدیك او است خرسند است،) سر چشمه میگیرد.

۲- اصول مسلم دیگر در این مورد این است که ملل جهان باید نظامي داشته باشند مبني بر جمهوریت ، دوران نظامهاي شاهي ، دکتاتوري و خانداني گذشته است، که دین مبین اسلام از آغاز ظهورش این اصل را تایید میکند، این دین مخالف سر سخت نظام شاهي امریت و ملوکیت است ، نظام اسلام از بدو ظهورش نظام شورایي دارد و از لحاظ نوعیت نظامي است بر تر و بهتر از نظام جمهوري غرب که در آن علم و دانش و اخلاق و کار کردگي و کار داني نیز شامل کرده اند در حالي که جمهوریت غرب عاري و خالي از این سه صفت است، جهان غرب این همه رااز اسلام یاد گرفته است ردر تقلید از نظام جمهوري نیز مرهون منت اسلام است ،قبل از اسلام اروپا سر زمیني بود که جمهوریت را نمي شناخت، جمهوریت افلاطون ،فقط جمهوریت شهري مبني بر مجلس اقوام بود، در اروپا تا هنوز پادشاهي هاي دستوري و جود دارد- نظامهاي شاهیي که در کشور هاي اسلامي وجود دارد نتیجهء انحراف از اصول والاي دین مبین اسلام است ، اسلام این نظامها را جایز نمیداند و مسلمان واقعي این گونه نظامها را نمي پذیرد، اگر در آن کشورها نظام جمهوري وجود داشته باشد، هیچگاه کسي را نخواهي یافت که بطرف نظام شاهي میلان پیدا کند - آن ها خود مقدماتي را روي دست میگیرند که بنیاد نظام شاهي را فرو ریزند.

۳- این اصول نیز قابل پذیرش وپسندیده

است که حقوق اساسي ملل جهان به آنها داده شود و از آن حمایت و حفاظت صورت گیرد - اروپا وسازمان ملل در این مورد تاهنوز موفق شده اند که فقط پنج اصل را در یابند ، در حالي که اسلام جهان را اضافه از بیست و یك (۲۱) اصل داده است که این اصول بطور همیشگي و دایمي در نظام اسلام رعایت شده است که از آن جمله آتي الذکر را یاد آوري مي کنیم:

۱- حق زندگي.
۲-حق حفاظت معذوران.
۳- حق تضامن اقتصادي.
٤-حق حفاظت ناموس زنان.
٥-حق حصول عدالت و انصاف.
٦- حق تعاون در معروف.
۷-حق مشاورت.
۸- حق انکاراز اطاعت ظالم.
۹- حق انکار از معصیت.
۱۰- حق حفاظت ملکیت.
۱۱- حق شرکت در کار فرمایي سیاسي.
۱۲-حق حفاظت آزادي.
۱۳-حق حفاظت عزت.
۱٤- حق حفاظت زندگي شخصي.
۱٥-حق احتجاج بر ظلم.
۱٦-حق آزادي بیان.
۱۷-حق آزادي عقیده.
۱۸- حق آزادي مذهبي.
۱۹- حق آزادي اجتماع.
۲۰-حق برائت از فعل دیگران.
۲۱-حق حفاظت از کار روایي مبني بر شبهات و غیره....

٤- هر ملت حق دارد که بابه کار برد وسایل دست داشته اش بسوي ترقي و پیشرفت قدم گذارد ، علمبردار بزرگ این مفکوره اسلام عزیز است، در حالیکه ملل اروپایي بالعموم و امریکا بالخصوص میخواهد که مالكٰ هر چیز وصلاحیت اختیار ساختن هر نوع اسلحه را داشته باشد ، ولي دیگران هر گز این حق را ندارند که وسایل و امکانات ترقي در اختیار شان باشد ونه مجاز هستند که جهت حفاظت خود دست به اسلحه سازي بزنند، اسلام به هر قوم اجازه میدهد که او جهت حفاظت ودفاعش از وسایل و امکانات خودش استفاده نموده به دیگران اجازه ندهد که برهستي اش تاخت وتاز کنند.

٥- قیام امنیت و جلو گیري از جنگ در جهان خواست و آرمان هر ملت است، اما نزد غربي ها اسلوب امنیت در جهان این است که آنها صاحب زرادخانه هاي بزرگ اسلحه باشند ولي جهان دیگر خلع سلاح باشد و از طرف دیگر چون غربي ها مدارج ترقي را یکي پي دیگر پشت سر گذاشته و به بلند ترین قله تمدن مادي رسیدند به دست درازي وتجاوز بر ملل دیگر آغاز کردند. همین نیات شوم آنها بود که جهان را دو بار تحویل شعله هاي جنگ جهاني کرد وهمین اکنون نیز ، غربي ها هستند که در هر گوشه و کنار جهان، اتش جنگ را دامن میزنند ، في الحقیقت فساد سایر جهان در بین ملل جهان غرب تبلور یافته است و یگانه منشاي این فساد ها نظام طبقاتي سر مایه داري است، زیرا نظام طبقاتي است که عقبیتهاي نژادي، لساني ، وطني و اقتصادي را رشد میدهد. اگر این نظام سرنگون شود به یقین باید دانست که قیام امنیت و صلح در جهان کاري خواهد بود خیلي آسان ، در دنیاي امروز سر چشمه ء همه فساد ها در جهان غرب سراغ میگردد، علامه اقبال میگوید:

شفقي را که در افق مغرب زمین میبني «شفق» نیست ، جوي خون است»
«منتظر طلوع فردا باش، دوش و امروز از فسانه یـي بیش نیست»

٦- این حقیقت مسلم است که تا اکنون تصامیم استعماري استعمار گران در ایجاد فتنه و فساد نقش اساسي دارد، زیرا استعمار خود ملتها را مورد تجاوز قرار میدهد، در بین آنها وضعي را حاکم میسازد که نیروهاي مقاومت بوجود آید، سپس دست به فتنه و فساد میزند. حمله میکند، بروي حمله میشود و این سلسله دوام پیدا میکند ، ستون پنجمش را در عقب جبهه فعال میسازد، سر مایه گذاري میکند، گرفتاري مخالفینش را بعمل مي آورد ، آنها را به بندو دار و مرگ مي کشاند ، اصول مختلف شکنجه و تعذیب را تجربه میکند و ازین طرق با ایجاد فساد نیروهاي آن کشو ر را تضعیف میکند و مرحله یي فرا میرسد که زمام باداري آن کشور را به دست میگیرد و هیچگاه به این امر راضي نمي شود که بادار دیگر ي راقبول کند ویا کسي نظر وقانونش را جرح ویا تعدیل نماید، و این حقیقت نیز نباید فراموش شودکه تا زماني که ملتها آزاد اند به باد ار و سر دمدار دیگري ضرورت ندارند. از سوي دیگر هرفلسفه و نظام اجتماعي حق دارد که نظریاتش را به جهانیان اعلام دارد ولي این امر معناي آن را ندارد که به زور سر نیزه بر مردم تحمیل شود ، دین مقدس اسلام نیز حکمت و نظم اجتماعي اش را به جهانیان پیشنهاد میکند ولي هیچگاه نمیخواهد برون از دایره ء منطق انسان عمل کند وآن را بر مردم به لوله تفنگ و سر نیزه تحمیل نماید، اما نظمي که غرض باداري منطقوي هند، اسرائیل و افریقاي جنوبي پیشنهاد میشود که آن ها خود نیروهاي فساد اند

، ظاهراست که نظم آنها نیز مبني بر فساد خواهد بود. پرورش آن نیز ذریعه فساد صورت خواهد گرفت و نتایج آن نیر بشکل فساد بزرگ تبارز خواهد نمود.

۷- درین شکي نیست که جهان اسلام با وصف کثرت و تراکم نفوس و منابع سر شار اقتصادي منتشر و شکار ضعف و کمزوري است، نظام سیاسي شان غلط است، نظامهاي دکتاتوري و شاهي باعث ضعف شان شده است، نظامهاي موجوده شاهي در بین مسلمانان بعد از پایان یافتن دوران خلافت راشده بوجود آمد که لازماً باید قلع و قمع گردد، اما ظاهراست که این نظامهاي فرسوده و گندیده را کشورهاي مقتدر غربي طي قرار داد ها و معاهدات اقتصادي و نظامي پشتیباني و حمایت مي کنند، هم چنان اگر در کشورهاي اسلامي تا اکنون نظامهاي لگام گسیخته دکتاتوري باقي مانده است، غرب از آنها حمایهٔ میکند، غرب میخواهد که مسلمانان بي سواد ، بي خبر جاهل وبي شعور بمانند و حکمروایان جابر وظالم بر آن ها حکومت کنند که دست نشانده هاي غرب باشند و اهداف شوم آنها رابحیث ژاندارم آن در منطقه ایفاي وظیفه نمایند، غرب از جهان اسلام حمایه نمي کند، بلکه ظالمان و مستبدین را حمایه وپشتیاني میکند که شب وروز مصروف خون مسلمان اند !!!

خلاصه اگر به مسلمانان جهان هر گاه فرصت میسر آید این دست نشانده گان مقدس مآب را سر نگون خواهند کرد و بجاي آنها جمهوریتهاي اسلامي را بر پا خواهند نمود.

چندي قبل امریکا جهانخوار با دستیاري لاشخواران باستاني به بهانه آزادي کویت بر عراق حمله کرد و تباهي را بار آورد که در تاریخ شرق میانه نظیر نداشت در این شکي نیست که مسلمانان جهان بر این اقدام وحشیانهء امریکا و قواي متحدش خیلي بر افروخته اند، زیرا او دشمن آشتي ناپذیر جهان اسلام است ، نیت بد است متجاوز و غاصب است ، مي خواهد احیاي مجدد اسلام را در منطقه خنثي کند و نهضت هاي اسلامي را سر کوب نماید...... بر منابع سر شار نفتي منطقه تسلط پیدا کند و اسرائیل را بحیث نیمه ابر قدرت تبارز دهد، او میخواهد که رعب استعماري اش قایم و دایم باشد و بحیث یکه تاز میدان باداري بر جهان باداري کند، او میخواهد قدرتهاي نظامي جهان اسلام را در قدم اول متشتت و پرا گنده نگهدارد و در قدم دوم آنها را ازبین ببرد. بعد از عراق نوبت پاکستان سپس ایران و اندونیز یا و..... سایر جهان اسلام است . وسایل وذرایع ارتباط جمعي وبنگا هاي خبري اش شب و روز از« نظام نوین جهاني» بحث مي کند، از نظامي که بي دین و سیکولر خواهد بود ، سر مایه داري خواهد بود جلو هرگونه تحرکات دیني را خواهد گرفت..... گر چه یهود و نصاري و کمونیزم و اسلام و هر« ازم» دیگر نیز میخواهد که فرهنگش بر جهان حکومت کند ، ولي فرق در بین روش و طبعیت فرهنگها است، آیا امریکا قادر خواهد بو د و خواهد توانست که این حقیقت کلا آفتابي را بپوشاند که او در برابر یك ملت فقط از یك تن دست پروردهء ظالم ، مستبد و خونخوارش دفاع و حمایه میکند، آیا او گفته میتواند که چون امریکا در باره جهان نیات شومي دارد لهذا حمله بر کویت و اشغال آن از طرف صدام حسین لجام گسیخته نیز صحیح است؟.... اگر یك یهودي نام اسلامي را بر خود بگذارد و علي الدوام در جهت شر وفساد و ریختن خون مسلمانان مصروف باشد، آیا تنها همین نام اسلامي کافي خواهد بود که بر اسلامیت و مسلماني وي صحه بگذارد؟.... قرآن عظیم الشان مي فرماید:

« دشمني هیچ قومي ترا آن قدر مغلوب نه کند که تو از مقام عدل علول کني « وحق را باطل خواني. »

به هرحال این یك حقیقت است که امریکا علمبردار نظام نویني است که میخواهد آن را در گوشه گوشه جهان پیاده نماید.

سوال در این جا است که پاسخ« لن ترانی » نظام نوین جهاني امریکا چیست؟ طبیعي است که براي پاسخ هر « لنتراني» ضرورت پیش نمي آید، زیرا براي پاسخ هر «لن تراني» یك نقیب زمانه خود وجود داشته میباشد، زماني که روسیه اپولویش را از مدار زمین خارج نموده بسوي کره ماه رها میکرد، نزد جهانیان سوالي پیدا شد که اگر کسي در خانهء خودش غله ودانهء مورد ضرورت را نداشته باشد، به این هوا بازي ها چه ضرورت است، چون این آواز زمان منبعث از آواز غیبي بود و کسي نتوانست آن را بشنود و تأثر مرعوبیتي را که روس میخواست از این طریق به جهانیان بدهد داد و جهانیان را متأثر ساخت، اما وقتي روسیه يي که غرق در نشهء تسخیر فضا بود و در همین کیفیت به نیت اشغال بر افغانستان تجاوز نظامي نمود، ضرب مردان مؤ من کهستاني این نشهء آن را پراگنده و متشتت ساخت..... وبا وصفي که قوایش را از افغانستان برون نیز کرد، باز هم نیروي وجود نداشت که جلو زوال وي را بگیرد وپارچه پارچه نشود، این وضعیت را امروز سایر جهانیان به چشم سر مي بینند که روسیه پارچه پارچه میشود و کمونیزمي که از نام ان لرزه بر

دخوست فتحي اسلامي انقلاب ته څه راوړل؟

دپکتیاوال په قلم

زما د مقالي پورتني عنوان چي څوک ولولي شاید قضاوت ئي داوي چي دخوست دفتحي خو دري دري نیمي میاشتي وشوي اوس پري غږیدل دزړي نغمي دتکرار غوندي سبکاریري . زه له دي ډول قضاوت سره فقط دومره توافق کوم چي رښتیا هم دخوست د فتحي درپوټ او خبر اړخ زوړشوي خو هغه حادثي چي ژوندي دي او لوئي اغیزي رامینځ ته کوي ، که هر څومره ظاهراً دنورو پیښو او جنجالونو په غبار کي پټي شي او د « هیرولو» پوست وږ واغوستلي شي، هغه هماغسي وزن لري او هماغسي خپل اثر ژوندي ساتي.

شاید ددښمنانو توطیو د«خوست فتحه» په دوړو کي پټه کړي وي، شاید ددښمنانو زهرجنو تبلیغاتو د خوست د فتحي بریښ پټ کړي وي، شاید ددوستانو بزدلیو، حسادتونو او رقابتونو ددي سوبي عملي پیغام زوولي وي او شاید زموږ خپلو «کمزوریو» دوروستي فتحي په لوري د «خوست فتحي» د قافلي یون ورو کړي او ځنډولي وي، خو څوک به پدي کي شك انصاف وگڼي چي د« خوست فتحي» د« نا امیدي» په حال کي اوپداسي وضعه کي چي زموږ د قوم د مقاومت دتوري بریښ او زموږ د انقلاب دبرم شمله تر پوښتنو لاندي واقع کیده ،دوستان مو وار خطا شوي وُ اودښمن مو دمستي پړېړي کولي، زموږ دبرمیال ملت دارادي عظمت وښود. دائي وښوده چي افغان قوم داسي ځواکونه لري چي د تیرو څوارلسو کلونو په څیر هره لحظه کولاي شي د اسلام دښمنان حیران کړي.

د« خوست فتحي»وښوده چي کیداي شي د بیلابیلو دښمنانو دجبهو یووالي اودهغوي دټولو قوتونو تمرکز او یو جهتي زموږدقوم د «آزادي» او فکري سیاسي ارمان قافله ستړي کړي، لائي ټوکر ټوکر کړي، قدم په قدم ورته د«ربړونو او خنډونو» امباررونه جوړ کړي او منزل په منزل ئي دوینو په ډندونوواړوي ، مگر دي ته ئي نشي مجبورولاي چي دخپل اسلام ، وطن او ناموس له دښمنانو، د خپلو شپاړس لکه ورونو له قاتلانو ، اودهیواد دړنگیدو او بر بادیدو له جنایتکارانو سره ئي د برخورد لاریدله کړي.

خوست وروسته له کابله د روسیي



دخوست نوي هوائي ډگر چي د خړونډ د شوري محاذ ئي دنیولو وياړ لري.

دمزدورانو دوهم لوي مرکزو دهغه نيول يواځې ددښمن نظامي ماتي نه وه او نه فقط دمجاهدينو«پوځي سوبه» وه بلکي هغه ديوه « سياست» يوي «موضع» او يوه منطق فتحه هم وه.

داسلام دښمنانو او زموږ دملت دارمان مخالفينو د جبهو په راکد حالت باندي په استنا دکولو سره ويل چي دادي ددوي دا «منطق»او«سياست» چي په افغانستان کي جګړه له «بن بست» سره مخامخ کيږي او جګړه او دجګړي ډګرونه دا قضيه نشي اوارولاي عملاً ثابته شوي او ثابتيږي او مجاهدين دنجيب دحکومت دله منځه وړلو زور نلري.

ددي منطق طبيعي حکم زموږد«جهاد » او مقاومت د« ارمان» ماتي وه – ځکه موږ له خپلي نظريي او وطنه ددفاع لپاره او دخپل بر حقه او مقدس هدف دتحقق لپاره جګړه دوروستي لاري په توګه غوره کړي ده- څوک چي زموږ دوروستي وسيلي او اخري لاري دماتي خبره کوي دائي معني ده چي زموږ دهدف ناکامي إعلانوي واقعيت دادي چي زموږ دجهادي جبهو سړي وضعي اود ډيرو قوماندان صاحبانو راکد حالت ددښمنانو « منطق»او«سياست» قوي کاوه او هغه ته ئي معني ورکوله.

خوست پدغسي يوه حالت کي فتحه شو. نو ځکه ئي که له يوه لوري دښمن ته مضبوط ګوزار ورکړ، مجاهدينو ته ئي ډير لوي مقدار پوځي وسايل ورپه برخه کړل. او دډيرو ولايتونو دتلو راتلو لارئي لنډه او اسانه کړه، له بل لوري ئي دمجاهدينودي منطق او دريځ ته دعمل پشتوانه ور کړه معني او مفهوم ئي ورکړ چي ترڅو زموږ دعقيدي او ملت دښمن زموږ په خبره ځان ونه پوهوي او زموږ دولس د ارادي او ارمان درناوي ونه کوي او دهغه غوښتني ته تسليم نشي، نوبيا زموږ په مخ کي يواځيني لار داده چي دګولي او باروتو په ژبه يي پوه کړو او دجګړي په زور ئي دخپل ملت دحقوقو او سرنوشت له ستوني نه ناولي پښني ورلنډي کړو.

خوست وروسته له کابله دروسيئي دمزدورانودوهم لوي مرکز و، دهغه نيول ددښمن نظامي ماتي نه وه اونه فقط دمجاهدينو «پوځي سوبه» وه، بلکي هغه ديو«سياست» يوي «موضع» اويوه «منطق» فتحه هم وه.

دخوست فتحي دنياته ثابته کړه چي دي خبري په هيڅ توګه اعتبار او مفهوم ندي بايللي چي دافغانستان قضيه په جهاد حل کيږي. بلکي هغه ديوه څرګند حقيقت په توګه عينيت لري.

البته زموږ مطلب دا ندي چي موږ به په هر ترتيب چي وي جنګ غواړو او يواځي دګولي په ژبه دخبري اوپريکړي کولو پلويان يو- موږ وايو چي زموږ قضيه بايد د جهاد په منطق او دمجاهد په سياست اداره شي- زموږ د جهاد منطق او د مجاهد سياست دادي چي زموږ له وطنه دي پردي لاس وهني ختمي شي، دپرديو لاسونه دي ور لنډ شي، دهغوي دتجاوز او يرغل ټول مظاهر دي ختم شي او زموږ ملت ته دي په خپله له خپلي نظريي سره سم دخپل سرنوشت دټاکلو اجازه ور کړل شي.

دخوست فتحی دنیاته ثابته کړه چي دی خبری په هیڅ توګه اعتبار او مفهوم ندی بایللی چی دافغانستان قضیه په جهاد حل کیږی ، بلکه هغه دیوه څرګندحقیقت په توګه عینیت لري.

دمتون باب دغونډي په لمن کي هغه هليکوپتر چي د حضرت محمد تر قوماندي لاندي مجاهدينو روغ رمټ نيولي

زموږ لپاره جگړه هدف نده بلکي دپورتنيو مسلمو حقوقو احقاق مو ارمان دي اوس حالات داسي دي چي نورو زموږ دقوم پدي حقوقو خيټه اچولي او دکبر او ظلم لارئي نيولي ددي کبر او ظلم دماتولو لپاره موږ مجبور شوي يو چي وسلي ته لاس کړو او دجگړي لار ونيسو.

زموږ ملت ته اصلاً بله لار پاتي نده- هغه جنايتکاران چي څوارلس کاله يې

کي يوه ژوره ، سياله او غښتلي قوه ده چي دپيښو د جهت اړولو ښه استعداد لري. او کولاي شي هر لحظه دخپلي ارادي دزور او خپل هدف د ژوند يتوب مظاهره وکړي.

په خوست کي دشهيدانو قربانيو او دمجاهدينو حماسو ډيري پوښتني ځواب کړي، او ډير واقعيتونه ئي بيان کړل دائي معلومه کړه چي که « اختلاف» او « افتراق» دمجاهد روحيه ړړو نه ځبي ، دخاينانو اسلام فروشو او خود فروشو خيانتونه او فتني ئي نشاط زمول نکړي ، زعيمانو جفاوي او غداري شاونه سوځوي،د« دوستانو » دنيمي لاري « ملگرتيا » ئي حيران نکړي او بالاخره دپرديو « عمال» ئي دجبهي دننه په غم اخته نکړي، هره لحظه کولاي شي د جرئت او برم معجزه وکړي او د « سوبې» هغه

فيض محمد دخوست ښار د ليدو په وخت په فتحه کي دخپلو مجاهدو ورونو د قرباني او شجاعت ستاينه کوي

زموږ قوم دجگړي په لمبو کي وسوځاوه ، وطن يې ورکنډ کپر کړ، ځپك ځپك يې په خاورو ور تور کړ، شپاړس لکه وگړي ئي ورووژل اوس هم په افغانستان کي د رژيم په نامه پراته دي. پدغسي يوه موقعيت کي له دي پرته چي جگړه وکړي بله کومه لار انتخابولاي شي؟

واقعيت دادي چي د خوست فتحه لويه حادثه وه. که څه هم زموږ مختلف دښمنان زيار باسي د ډول ډول تبليغاتو په گرد او باد کي دهغې لويتوب ا و نقش پټ کړي،مگر په پته کي هغه په دي پوه شوي چي افغاني مجاهدين په افغانستان

له مقدسو « شعارونو» او متعالي «ارمانونو» سره ئي دمشرانو او هم «ورروستي سوبې» ناوي ئي قدمونه ښکل کړي.

دڅارندوي د قوماندانۍ ودانۍ چي د جهاد وال فرقي تر استفادي لاندي ده.

ددی باروتواوګولیونښه ، بدنونه نه ، نظریه ده

دچنگاښ په پنځلسمه دپاکستان دسرحدي ایالت دپولیسو قوماندان اعلان وکړ چي څلور خطرناك هغه ورانکاري



اوتروریستان ئې نیولي دي چي غوښتل ئې دمجاهدینو یوتن مشر استاذ عبدالرب رسول « سیاف » ووژني.

نوموړی خرگنده کړه چي له خادیستو

تروریستانو څخه ۱۵ کیلوگرامه ډیر شدید انفجار کونکي مواد او دوه موتر هم نیول شوي دي».

ورانکاروغوښتل چي دواړه موتر دجلوزو په لارکي د استاذ «سیاف » دقتل لپاره په انفجاري عملیه کي استعمال کړي.

پاکستانی قوماندان داهم وویل چي « پدي کي دهند دجاسوسي شبکي « را »

او« کی ، جي ،بي» دگډون احتمال نشي ردیداي » .

موږ دخداي (ج) شکر اداکوو چي ددښمن داخطرناکه دسیسه ئې ناکامه کړه محترم استاد سیاف ته دیوه جهادي تنظیم رهبري ورپه غاړه ده . هغه داسلامي انقلاب لوي مبارزدي . زموږ وطن او انقلاب دهغه ژوند ته غټه اړتیا لري .

په تیره پدي شرایطو کي چي له هرلوري زموږ داسلامي انقلاب اوگران هیواد دځپلو او ځورولو بیرووباردي . هرڅوك غواړي چي زموږ دمظلوم ملت په لاشونو اوهډیروکي دخپلوظالمانه هوسونو اوناوړه نیتونو آسونه وځغلوی ، داستاد سیاف په څیر مسلمانو شخصیتونو نشتوالي به داسلام اوجهاد لپاره لویه خلاوی .

داستاد سیاف دقتل په هڅوکی د«خاد » او،کی ، جي بی » ترڅنگ د « را » گډون دغوروړخبره ده . «را » او داسرائیلو استخباراتي او تروریستي شبکه « موساد » له یوبل سره دمسلمانانو په تیره دمسلمانو مبارزینو دځپلولپاره گډ ټرونونه اونقشي لري «موساد » او« سی، ای ئي»... خوپه ځینو برخوکي خاصتاً په اوسینو بین المللي شرایطوکي سره بیخي دیوي « سکي » دوه مخونه بللاي شي.

اوس چي پدي هدف کوم نړیوال گرایش اوپه واقعیت کي یوه عملي جبهه وینو چي په افغانستان کي دیوه داسي حکومت دجوړیدومخه ونیسي چي داسلامي انقلاب جنگیالي پکي اساسي برخه ولري ، هغوبه دهغو شخصیتونو اوحلقو پر خلاف چي دنوموړي جبهي مخ ته ودریږي دهیڅ حربي له ازمویلو مخ وانه اړوی .

داستاد سیاف صاحب دقتل توطیه دهمدي

داستادسیاف دقـتل پـه هڅوکـی د«خاد » او« کـی، جـی، بـی » تـرڅنگ د«را» گـډون دغـوروړخـبره ده .

نړوالي کفري جبهي دخطرناکو نقشو يوه کړي ده .

ترده څومیاشتي دمخه په باروتوباندي دمحترم استاد . « رباني صاحب » دکورالوزولو هڅه وشوه چي الحمدالله خداي (ج) بچ کړ.

محترم حکمتيار خولاله داڅوکالوراپدي خوا څوواري تر خطرناکو تروريستي حملولاندي راغلي دي – اوس چي دسياف صاحب د تروريه قصد کي کوم کسان نيول شوي دي ، پاکستاني پوليس وائي داهماغه افراد دي چي په ۱۳۶۶ ئي په «ورسك روډ» د«كبابيانو» په ساحه کي دریموت کنترول له لاري د « حکمتيار » صاحب دوژلو ناکام اقدام وکړ – په هغه پيښه کي دمحترم حکمتيار دامنيتي ګارډ يو موټر په بشپړه توګه ويجاړشو. هغه ته چي په افغانستان کي ترټولو دلوی اوغښتلي حزب مشری په غاړه لري اواکثراً ئي مواضع تيزي اوصريح وی ترټولوزيات خطرمتوجه دي هغه چي دادوه کاله دخپل کوراودفتر يوه برخه سپين غره ته وړی ده يومهم علت ئي دده امنيت ته متوجه شديد خطرونه دي . وائي چي داڅه موده مخکي يوه اسلامي هيواد هغه خبرکړي چي دترور هڅه ئي روانه ده باید خپل امنيت ته ئي زيات پام وکړي.

ددی «مشرانو » دترور دهڅو ترشاديوی نظرئي اويوه هدف مخالفت دي . دانظريه اسلام او دا هدف په افغانستان کي دهغه . کمني ده .

اوداچي ئن زمونږ دیادشويو مشرانو دقتل لپاره کوم باروت اوکومې ګولی استعماليږی اويا په شاجوړونوکی اوصندوقونوکی ورته ګرځول کيږی ، اصلاً دهغونښه بدنونه ، نه نظريه اومفکوره ده

البته زمونږ ددي خبري معني په هيڅ توګه دانده چي داقيادتونه اوتنظيمونه کولاي شي په افغانستان کي په واقعي معني اسلامي حکومت جوړکړی اويا ددوي قيادي کړه وړه اوتنظيمي اجرات اوتصرفات له ډيرو جدي اواساسي نيمګړتيا وو اوسوئيد نو پاك دي . زمونږ مقصد دادي چي ددوي موجوديت او دملت په ملاتړ ددوي په فعاله ونډه دراتلونکی حکومت جوړيدل کولاي شی زمونږ سياسي استقلال تضمين کړی ، وطن مودکفارو اودهغوی دبیلابیلو عمالوله استعماره وژغوري اوپدي توګه دراتلونکو نسلونو لپاره ديوه بيدار ملت دجوړولو ، داسلامي انقلاب دطبيعی تکامل اوسوچه اسلامي حکومت دجوړولو دارمان دپوره کيدو شرايط برابر کړي . اوداخبره په خپل ځاي دلوي اهميت اوارزښت وړده . په همدي خاطرده چي زمونږ دجهاد هغوقايدينو په لوړي چي داسلامي تحريك او اسلامي انقلاب خبري کوی ، دخطرونو يوه بده څپه روانه اوراروانه ده ددي څپي ترشاله اسلام اواسلامي افغانستان سره دنړيوال استکبار دبي حده دښمني انګيزه پرته ده اودانن چي زمونږ دپاس ياد شويو مشرانو دقتل لپاره کوم باروت اوکومي ګولي استعماليږي اويا په .شاجوړونو اوصندوقونو کي ورته ګرځول کيږي اصلاً دهغونښه بدنونه نه ، نظريه اومفکوره ده

اميددادي چي نوموړي ښاغلي په کم ترکمه ددي خطرونو په پام کی نيول دي ته وهڅوي چي داسلام ، خپل وطن اوخپل مظلوم ملت دمصلحت لپاره يوبل ته دوروي لاسونه سره ورکړي اودوحدت ګامونه به سره واخلي اوبيابه له ځانه سره دټولوهغوقوتونو دملګري کولو اوروانولوهاندوکړي چي له اسلام اوخپل وطن سره دخيانت اوجفا مقصد ونلري.

نقد و تحليل

این طرح نیز به سلسله طرح هاي قبلي ملل متحد که در ارتباط با مشکلات و بحرانهاي سیاسي جهان ما ارائه شده «کن لم یکن» تلقي خواهد شد.

اما از آنجا که سیر جریانات و تحولات سیاسي جهان نمیتواند از آثار و تأثرات ملل متحد - هر چند اندك - در کنار باشد، سازمان ملل با آن هم و روي هم رفته در خاموش کردن آتش جنگها و کاهش خشم و طغیان ملتها سهم اندك براي خود باقي گذاشته است.

با آنکه از نظر کلي طرح پنج ماده اي ملل متحد کلا رد و قابل رد کردن است ولي با اصلاحاتیکه در طي این تحلیل در مواد این طرح آورده شد این طرح براي مذاکره و حل مشکل افغانستان قابل مطالعه و بررسي است.

امید است رجال و بزرگواران جهادي کشور با آگاهي از کم و کیف سیاست جهاني و درك فرصت هاي مناسب وطلائي صلح و مذاکره، اقدامات را اتخاذ نمایند که در آن روحانیت مقدس جهادي و زیبائي اندیشه ستیزه جویانه ملت مادر برابر ظلم و ستم حفظ و از خشونت و نظامي گري و قدرت طلبي به دور باشد تا شاهد تقارن روحیه جهادي ما تا حدود باموج صلح طلبي کنوني جهاني که ظاهراً هماهنگ وهم آواز با کاروان سیاسي و اجتماعي بشر در حرکت است، باشیم.

مشوره تاريخي شهيد ضياء الحق به سربراهان كشورهاي عربي

هشدار! اگر به يك عسكري از نيروهاي غربي هم اجازه دخول به كشورخويش را داديد، آزادي و استقلال شما در معرض خطر قرار خواهد گرفت!

اوضاع واحوالي كه امروز بعد از جنگ مصيبت بار خليج دامنگير كشورهاي عربي گرديده، پيش قدمي نيروهاي استعمارگر امريكا و متحدين غربي آن در منطقه تهديد جدي ايست كه متوجه كشورهاي آسيايي بخصوص ممالك عربي گرديده است.

موقف ضد استعماري وضد امريكائي عده از رهبران جهان اسلام وپيش بيني هاي دانشمندانه آنها در اين زمينه درس عبرتيست براي كشورهاي اسلامي كه با تأسف آن طوريكه بايد و شايد استفاده از آن صورت نگرفته است، مخالفت با استعمار و امريكا تنها از طريق شعار هاي تند وتيز كه از پشتوانه نيرو و برنامه عملي و ستراتيژي واقعي عاري باشد نه ممكن است ونه عملي، هستند كساني كه با ظاهر آرام و جدي ولي با پيش بيني هاي واقعبينانه، و گام هاي علمي مي خواهند جلو پيش قدمي شوم استعمار را در منطقه بگيرند امادريغ و درد كه استعمار خيلي ظالم است، و دست سياه استعمار خيلي دراز، و به همين دليل آنانيكه جدي ولي با ظاهر آرام و مطمئن دسايس شوم استعمار را سد مي گردند، به شكل مرموز وظالمانهء ازبين برده مي شوند!

آري! شهيد جنرال محمد ضياء الحق رئيس جمهور فقيد پاكستان يكي از جمله اين چنين رهبراني بود كه علاقه داشت با طرح هاي عملي وواقعبينانه سد راه دسايس استعمار گردد.

> ايران انقلاب بزرگي را پشت سر نهاده وتاحال درفضاى شديد«احساساتى » و«انقلابي» به سرمى برد انقلاب براي خود منطقى به خصوصى دارد كه به اساس آن نه دلايل ارائه شده درحالات عادي مي تواند كارگرباشد ونه راه هاى حل ومشوره پذيرفته شده مي تواند .



در ٢٦ جنوري ١٩٨٧ ميلادي هنگاميكه جنگ بين دو كشور همسايه اسلامي ايران و عراق به شدت در گرفته بود كنفرانس سه روزه كشورهاي اسلامي در كويت برگزار گرديد، سر فهرست آجنداي كنفرانس مذكور موضوع جنگ عراق و ايران بود، و كنفرانس مذكور جهت مصالحت بين دو كشور مذكور« كميسيون صلح» را تشكيل دادند كه شهيد جنرال محمد ضياءالحق به حيث رئيس كميسيون تعيين گرديد،

موصوف جهت تكميل پروگرام صلح خويش سفر هاي به « بغدادو تهران»

داشت، بعد از بازگشت از سفر اول خويش در اين رابطه،طي گفتگوي خصوصي، با يكتن از ژورنالستان چيره دست پاكستان محمد صلاح الدين در مورد نتيجه مذاكرات خويش با رهبران «ايران»و «عراق» گفت:

« ايران انقلاب بزرگي را پشت سر نهاده، و تاحال در فضاي شديد« احساساتي » و « انقلابي» بسر مي برد، انقلاب براي خويش منطقي به خصوصي دارد، كه به اساس آن نه دلايل ارائه شده در حالات عادي مي تواند كارگر باشد و نه راه هاي حل و مشوره پذيرفته شده مي تواند، تا حال اين مذاكرات بي نتيجه بوده اند، و جنگ بر باد كنندهء هردو كشور ادامه خواهد داشت، تا هنگاميكه قدرت ادامه دادن جنگ را از دست بدهند......»

ضيا ءالحق شهيد همچنان به ژور نالست مذكورگفت:

« كشورهاي عربي فشاري زيادي بر ما آوردند تا از عراق حمايت بعمل بياوريم ولي ما از آن معذرت خواسته ايم ، و موقف مااين بوده كه هنگاميكه از ما تقاضاي ميانجيگري داريد و به همين منظور مرا به عهدهء رئيس كميسيون صلح نيز بر گزيده ايد، چگونه مي توانم طرف واقع شوم؟!»

ضياء الحق همچنان ملاقات هاي خصوصي اش را با سر براهان كشورهاي عربي تذكر داده، سخني گفت كه ارتباط عميقي با اوضاع جاري منطقه دارد، ضياء الحق شهيدگفت:

«كشورهاي عربي هراس دارند كه اگرعراق در مقابل ايران به شكست مواجه شود ، سلامتي همه آنها(همه ممالك عربي) در معرض خطر واقع خواهد شد، كشورهاي همچو كويت، بحرين، قطر، امارات متحده عربي، و عربستان سعودي همه و همه در تيررس ايران قرار خواهند گرفت- آنها بامن منحيث يك جنرال نظامي ، راجع به تدابير دفاعي خويش تبادل افكار نمودند، ومشوره هاي ازمن خواستند. عده نظر داشتند كه چرا در سواحل عرب به قواي بحري امريكا، انگلستان و فرانسه اجازهء ورود ندهيم، كه از مدتي طولاني آنها(ممالك مذكور)مطالبه آنرا دارند، به اين ترتيب ما براي دفاع خويش كمك اين كشورها را بدست مي آوريم، عدهء ديگري از رهبران كشورهاي عربي خيال جا دادن به قواي زميني و فضايي امريكا و كشورهاي اروپائي را در مملكت خويش ، در سر مي پرورانيدند، من به همه آنها مشوره دادم، بلكه آنها را منتبه ساختم، كه هشدار ! هيچ عسكر امريكائي يا اروپائي را اجازه دخول به حدود ممالك عربي ندهيد، قواي زميني، بحري يافضايي آنها را از منطقه خويش دور نگاه داريد، در غير آن گلم آزادي و استقلال شما جمع خواهد شد ، و آن نيروهاي غربي كه از مدت درازي وبه خصوص بعد از برداشتن جراحت از دست« شاه فيصل»شهيدچشم هاي حريصانه خويش را بر اين منطقه نفت خيز دوخته اند فرصت خوبي براي تصرف اين منطقه مي يابند. اگر سرپرست« اسرائيل» اينجا نشست، امكانات آزادي فلسطين بيش ازپيش ناپديد مي گردد و روش جارحانه و تجاوز كارانه اسرائيل شدت بيشتر ميگيرد.

اكثر يتي از رهبران عرب با من موافقه كردند، مگر احساس ترس و عدم تحفظ در باطن آنها نمايان بود. مطلب من اين بود كه دنياي اسلام بايد وسايل دفاع خويش را خود فراهم سازد، خداوند ثروت بي پاياني را به مسلمانان اعطاء فرموده ، اكنون ضرورت است تا اين ثروت را به شكل ثابت فني مادي وساينسي در بياوريم، و تا هنگاميكه ما به اين سر منزل خويش مي رسيم ، تا آن وقت صرف نيروي اتحاد تحفظ ما را از دشمن فراهم نموده مي تواند..........»

امروزكه كشور هاي عربي در نتيجه مكر دشمن و حماقت خويش راه هاي بري و بحري را بروي ارتش مشترك امريكائي و اروپائي گشوده اند، گفته هاي شهيد ضياءالحق مارا بياد مي آيد و آنگاست كه بصيرت و دور انديشي اين بزرگ مرد تاريخ اسلام بر ما ثابت مي گردد.

طرح نظام نوين امريكا

اندام جهانيان طاري ميشد، امروز در كوچه هاي ماسكوپناگاه و جاي امن ندارد. در حالي كه روسيه نيز از انتر ناسيو ناليزم پرولتري صحبت ميكرد.....

وضع فكري و اقتصادي اجتماعي جهان چنان نشان ميدهد كه آينده امريكا نيز چون روسيه است:

« تهذيب و تمدن تو خود - به خنجر خود انتخار ميكند(خود را خود ميكشد ، خود كشي ميكند)......

آشيانه يي كه بر شاخ نازك بنا ميشود ، نا پايه دار مي باشد.»......

* * * * * * *

محمد نذیربشارت

دپاکستان سیاسی وضعه

دجنرال اسلم بیگ تقاعداوجنرال آصف نواز ټاکنه

پروسې چې په پاکستان کې کوم انتخابات وشول نتیجې یې دوستان او دښمنان ټول حیران کړل. د«پیپلز گوند»کمزوري موقعیت دپیشبیني وړو ، خو ددومره کمزورتیا اټکل یې چانه کاوه چې له څه باندې دوو سوو چوکیو به ایله دڅلویښتو

په شاوخواکي وگټي همدارنگه د اسلامي جمهوري اتحاد ښه حالت اټکلیده، خو چاتصور نه کاوه چې دپارلمان له دریو برخو څخه به ددوه حصې ملاتړ او باور تر لاسه کوي. تر انتخاباتو دمخه فکر کیده چي د انتقالي دوري صدراعظم غلام مصطفي جتوئي، بمنتخب صدر اعظم کیږي. پدي برخه کي دپاکستان دجمهور رئیس غلام اسحق خان او دمځکني پوځ قوماندان جنرال میرزا اسلم بیگ مثبت رجحان ډیر څرگند بلل کیده.

ددي دلایل دا ښودل کیده چي جتوئي دنرم مزاج خاوند مجرب سیاست پوه دي او بیلا بیل سیاسي قوتونه پري را ټولیداي شي- او پدي ډول د غلام اسحق خان او جنرال اسلم بیگ د« ملي حکومت»دجوړیدو هیله پوره کولاي شي بل داچي هغه دسند د ایالت دي، دده انتخاب به د سندیانو دمحرومیت احساس کمنوي او دبیلتون غوښتني دغورځنگ خطرونه به خاموش کړاي شي- دریم دا چي یوخو جتوئي مزاجاً ارام سړي دي او بل دپراخ او زورور ولسي - سیاسي څواک پشتوانه نلري، نو له دي امله به دحکومت په تصمیمونو او اجراتو کي دجمهور رئیس او اردو تر کنترول لاندي وي.

دانتخاباتو د نتیجي له اعلان سره په متصلو ورځو کي هم لا داسي تحلیل کیده چي جمهور رئیس او جنرال بیگ دپورتني نظر ني عملي کیدو ته ارجحیت ورکوي.

مگر دانتخاباتو د نتیجي تر اعلان

وروسته نواز شریف ډیره فوق العاده او بانفوذه سیاسي قاید په حیث راپورته شوي و. دانتخاباتو په نتیجه باندي دده د شخصیت او فعالیت داساسي اثر نسني له ورایه معلومیدي.



له دي امله دپاسني ذهنیت تطبیق په طبیعي ډول خپل چانس له لاسه ورکړ.

نواز شریف چي صدراعظم شوپه پاکستان کي دسیاسي اوضاع دښه سکون او استحکام احساس او امید راپیدا شو.

ځکه د جمهور رئیس، صدر اعظم او اردو د قوماندان تر منځ دفکر او نظر زیات وحدت او یو جهتي تقریباً مسلمه خبره گڼله کیده.

مگر دي ذهنیت ډیر وخت ادامه و نکړه.

د څه مودي تر تیریدو وروسته اوازي خپري شوي چي له جمهور رئیس اوجنرال اسلم بیگ دواړو سره دنواز شریف اختلاف پیداشوي دي. ویل کیده چي نواز شریف

غواړي د یوه صلاحیتمند اجرائیوي
شخصیت او متبارز ملي، سیاسي قاید په

جنرال اسلم بیګ

توګه مطرح وي. همدارازدا خبره هم کیده
چي د پارلمان ډیر لوي اکثریت(؟) دیته
هڅوي چي دجمهور رئیس او پوځ د
قوماندان په وړاندي دڅه مجبوریت او
کمزوري احساس ونکړي.

په اوازو داخبره هم ور ګډیده چي نواز
شریف غواړي داپوزیسیون په مرسته له
اساسي قانون نه هغه اتم تعدیل ختم کړي
کوم چي جمهور رئیس ته د پارلمان د
انحلال تر حده صلاحیت ورکوي.

پدي منځ کي د خلیج جګړه ونښته،
دخلیج دجګړي په باب دنواز شریف
دحکومت دریځ د سعودي عربستان
دحکومت په ګټه او ملاتړ ولاړو.

دپاکستان په خلکو کي دصدام په پلوي
او د امریکا په خلاف داحساساتو او
جذباتو یو هیجاني موج را پورته شو.

سیاسي احزابو هم پدي امواجو د
ورګډیدو پایڅي وربډ وهلي. او زیارئي
ایست چي دا امواج دخپلو مشخصو
اهدافو لپاره دحکومت ضد توپان باندي
واړوي.

دي وضعي نواز شریف په خورا سخت
موقعیت کي ودراوه. خونوازشریف چي د
بنه جرئت او قوي اعصابو خاوند دي ډیر
وارخطا نشو، قوم ته یي ډیره دقیقه او
ماهرانه وینا وکړه، مګر دولس جذبات ئي
ساړه نکړای شوای.

همدا راز ئي دسولي ماموریت پیل کړ خو
هغه هم څه د پام وړ بري وربه برخه نکړ.

دامریکا تاړاك په ډیر شدت روان و. له
عراق سره دهمدردي څپه په اسلامي نړي
کي په خپل ټول قوت زوروړمونډ. ددي
ترڅنګ دصدام دهومره فاحشي ماتي چي
وئي خوړه فکر هم نه کیده . پاکستان
د ابتذال تر حده کمزوري راووځي.

داسلم بیګ وینا واقعاً په هغو ورځو کي
دده شخصیت د یوه ملي قهرمان په توګه
راپورته کړ- دپاکستان سیاسي چاپیریال
ئي په بشپړه توګه تر شعاع لاندي
راووست-او نواز شریف نور هم تر فشار
لاندي راغي، اکثریت سیاسي مشرانو
دجنرال موضع په ډیرو قوي الفاظو تائید
کړه. خو نواز شریف د بنه استقامت
مظاهره و کړه. نه ئي د جنرال اسلم بیګ
په وړاندي کوم عجولانه عکس العمل و
بنود او نه یي له خپله سیاسته لاس

دانتخاباتو دنتیجي تر اعلان وروسته نوازشریف دیوه فوق العاده فعال
اوبانفوذه سیاسي قاید په حیث راپورته شوي و ، دانتخاباتو په نتیجه
باندي دده دشخصیت او فعالیت داساسي اثر نسبي له وړایه معلومیدي

هماغسي دعراق دپلویتوب جذباتو په سر
اخیستي و- پدي منځ کي جنرال اسلم
بیګ په یوه پوځي مناسبت وینا وکړه
دهغه امریکائي ضد ګرایشات لا پخوا
معلوم و- خو پدي بیانیه کي ئي
نوموړي رجحان بیخي را څرګند شو. ده
په خپله وینا کي جګړه دکویت د آزادي نه
بلکي دعراق دځواك دختمولو حرکت و
ګڼه- همداراز ئي جنګ دوسایلو دزور
ازمویلو اخ وډب نه، د یوبل دارادو دځبلو
هاندوباله او وئي ویل چي شاید دا جګړه
هم د افغانستان دجنګ په څیر د یوه لوي
نړیوال طاقت د اضمحلال پر پیل تمامه شي
.د جګړي دانجام او څرنګوالي په برخه کي
دجنرال اسلم بیګ تحلیل او اټکل سم
راونه ووت- پدي کي شاید دنورو په شان
دده مشکل هم داو چي باور نه کیده صدام
حسین دي د لاپو شاپو او وچو جاه
طلبیو وچ مغزي او بي بصیرتي یوه
تشه مجسمه وي- او دخپل قوت او
ددښمن دځواك دتحلیل په برخه کي به دي

واخیست- یواځي یي وزیرانو دومره
وضاحتونه کول چي دهیواد خارجه

**دجنرال بیګ دوینا دیره مهمه
جمله داوه چي:
«دخلیج پربحران دملت
اواردوزره یوځای اوبه یوه دول
خوحیری» په همدي مجلس کي
داختر عبدالرحمن شهید
جانشین اودپاکستان لوي درستیز
«ایدمرل سروهی» هم توندی
خبري وکړي.**

سیاست ټاکل دحکومت کار دي دپوځ نه.
البته یو ځل غلام اسحق خان هم په
محتاطه لهجه اوزو ولو الفاظو داخبره و
کړه چي دبهرني پالیسي وضع کول په
حکومت پوري اړه لري.

دجنرال بیګ پدي وینا پسي جوخت یو بل
جریان هم پیښ شو. دا جریان دکابیني

جنرال آصف نواز« جنجوعه» ۸-.

ددفاعي چارو دکوميټي غونډه وه - چې پکې دکابينې په څينو غړيو اوحکومتي لوړ رتبه مامورينو بر سيره د پاکستان ددريو واړو وسلوالو قواوو قوماندانان هم ناست وو.

جنرال اسلم بيګ چې دضياء الحق د شهادت او بې نظير بوټو دحکومت د ختميدو په دواړوښو فرصتونو کي ئي دپوځي حکومت له اعلانه ډډه کړې وه- پدې جلسه کې ډير مشتمل او قهر جن معلوميده. دپاکستان يونامتوليکوال ليکلي چې ده ته د جلسې يوه برخوال کيسه و کړه چې« جنرال له صدر اعظم سره پداسې لهجه خبرې وکړې لکه يو قوماندان چې له خپل ماتحت نه توضيحات غواړي- د خليج په باب ئي دحکومت پر سياست دانتقاد په ترڅ کې نواز شريف ته وويل چې:« دا جمهوريت چې موږيې ودانې په ډير کړاو آباده کړې بچ کړه»

بيانئ په هيواد کې دامريکا او متحدينو پر ضد د يوې ورځې مخکې پراخو مظاهرو ته اشاره وکړه ، ويې ويل چې هيڅ حکومت له ولسي جذباتو سره د ټکر په صورت کې نشي پائيداي. پدې رابطه ئي د ۱۹۷۷ کال ولسي پاځون ياد کړ - هلته چې جنرال محمد ضياء الحق بوټو ته د وفا ډاډ ورکړې ؤ خو يواځې ئي څو ورځې په خپل عهد وفا وکړای شواي. د جنرال دوېنا ډيره مهمه جمله داوه چې: «دخليج په بحران دملت او اردو زړه يو ځاي او په يوه ډول خو ځيږي» په همدې مجلس کې د اختر عبدا لرحمن شهيد جانشين دپاکستان لوي درستيز ايډمرل سروهي» هم توندې خبرې وکړې- صدر اعظم ته ئي شکايت و کړ چې«دسياستونو په ټاکلو کې له اردونه مشوره نه اخيستله کيږي- او داسې هيڅ پلاټ فورم نشته پر کوم چې دوې د قضاياوو په باب خپل نظر څرګند کړي. ان تردې چې خليج ته پوځ ليږل کيږي خو داردو له مشرانو سره سلاته کيږي».

نوموړې ليکوال ليکي «نواز شريف چې په سياسي لحاظ دشهيد ضياء الحق له شخصيته ډير متاثر دی د دجنرالانو توندې خبرې په پوره حوصله او خاموشۍ واوريدې- وروسته ئي په ډيره نرمۍ وضاحتونه پيل کړل داسې چې په خبرو کې ئي نه د جنرالانو جرح ښکاريده او نه غوسه. خو په لهجه کې ئي داسې متانت و چې ترې معلوميده په خپل حقانيت پوخ باور لري لومړي ئي وويل چې خليج ته پوځ تر ده مخکې دانتقالي صدر اعظم په وخت کې ليږل شوي دي -بيائې د خليج سياست تشريح کړ- خبرې ئي چې پای ته رسولې په ډير قاطعيت ئي جنرالانو ته په خطاب کې وويل چې« د

تورن جنرال حميد ګل

خليج سياست ماته د اصولو مسئله ده ، که څوک له مانه د جمهوريت د بقا لپاره په اصولو باندې د سازش توقع کوي، دابه هيڅکله ونکړم پريږدې چې همدا اوس جمهوريت ختم شي».

ياد شوي ليکوال ليکي چې دنواز شريف او جنرال اسلم بيګ تر يځوالي ډير اوږدښو او د جمهور رئيس په مداخله ئي اړيکي ژر عادي شوې- د خليج جګړه چې په کومه بڼه پای ته ورسيده ظاهراً ئي دا ثابته کړه چې دنواز سياست په واقعيتونو ولاړ او دقيق و - پدې توګه دهغه موقعيت او موضع تر پخوا ډيره پخه شوه.

مګر دپاکستان هغو سياسي حلقو او شخصيتونو چې ځانونه د ولسي سياست د اسمان ستورې ګڼي او دجمهوريت او ديموکراسي خبرې ئي تل په خوله کې وې په يوه منفي او نامعقوله هڅه لاس پورې

دپاکستان دپوځ نوی لوی قوماندان آصف نواز «جنجوعه» چې په يوه دول دجنرال اسلم بيګ شاګرد هم دی ، يو وطن دوست ، مستعد، بامطالعه اوزړور جنرال ګڼل کيږي، له هند سره ئې په دوه جګړو کې فعاله برخې اخيستې، دتحسين او افتخار څو مهم او معتبر نښانونه ئې ترلاسه کړي دي

کړ. هغوي دانشواي زغملاي چي ديوه داسي چاله خوا سخته سياسي ماتي وخوزي چي تر پرونه دوي ورته د« مارشلا باقيات» ويل او غير سياسي قوت ئي باله دوي گوري چي هماغه« دمارشلا باقيات» لوي اکثريت تر لاسه کړي او د خپل هيواد د پرمختگ نيت او هدف لري.

دا حالت هغو حلقو ته چي« جمهوريت، ديموکراسي او ولسي سياست» دخپلو اهدافو لپاره دحربو په توگه استعمالوي د طبيعي مرگ مفهوم لري، دوي په ډير قوت دا رواني جگړه شروع کړه چي حکومت ناکام دي. او شايد اردو قدرت واخلي.پدي لړکي ئي د پوځ د قوماندان جنرال اسلم بيگ دتحريك او ترغيب فعاليت پيل کړ. به مختلفو روشونو ئي غوښتل چي هغه نظامي اقدام ته وهڅوي.

څه موده پخوا چي دنظامي حکومت د اعلان داحتمال اوازي ډيري تودي شوي دپيپلز پارټي طرفدار« مساوات» ورځپاني په غټو تورو دا خبر خپور کړ چي « جنرال اسلم بيگ به د اگست په مياشت کي تر تقاعد وروسته د ضياء الحق او نورو جنرالانو دقاتل په توگه محاکمه کيږي».

پدي لار پيپلز پارټي غوښتل چي د بيگ په لمسون کي په نورو فکتورونو برسيره دهغه ژوند ته راتلونکي فرضي خطر هم ورگډ کړي.

مگر داټولي هڅي هغه وخت بي گټي او ټولي هنگامي هغه وخت هوايي شوي چي دحکومت له خوا «جنرال بيگ» او لوي درستيز ايډمرل « سروهي» تقاعد او پر ځاي ئي په ترتيب سره جنرال آصف نواز جنجوعه او جنرال شميم عالم نامزد شول.

په پاکستان کي که څه هم په رسمي لحاظ دلوي درستيز چوکي لوړه ده ،خو

باقي په (۳۹) مخ

عملاً کليدي حيثيت د مځکنيو قواوو د قوماندانۍ ده.

پاکستان اته قول اردو لري- او اته ئي قوماندانان دي. په پيل کي تصور کيده چي شايد دمځکني پوځ دقوماندانی لپاره دپاکستان ممتاز جنرال او دبهاولپور د«قول اردو» قوماندان حميد گل وټاکل شي.

ددي لپاره دلايل داويل کيدل چي يو خو نوموړي ډير ذهين په سياسي جرياناتو کي وارد او د مظبوطي اداري او دسپلين خاونددي. بل داچي دنورو ټولو جنرالانو تقاعد ته يو کال پاتي دي خو دي دوه کاله وخت لري. پدي برسيره له نواز شريف سره ښي نژدي او باوري اړيکي لري.

مگر ددي په مقابل کي نور دلايل داوو چي يو خو جنرال حميد گل دډيرو شديدو اسلامي او ملي احساساتو او روحياتو په درلودو جهاني شهرت لري او غربيان د« بنسټ پال» په سترگه ورته گوري.

شايد پاکستان په اوسنيو شرايطو کي دغسي يوه اقدام ته زړه ښه نکړاي شي چي غرب يي ځانته دمخالفت «سگنال» وگڼي . بل داچي نوموړي په اتو واړو جنرالانو کي کشر دي.

دپاکستان په پوځ کي دا رواج دي چي کله تر مشر صاحب منصبه د کشر رتبه لوړيږي نو مشر مستعفي کيږي- پدي توگه که جنرال حميد گل عمومي قوماندان شوي واي نو بايدپنځو قول اردو گانو قوماندانانو استعفي کړي واي.

په کومو ځانگړيو جهاني او منطقوي شرايطو کي چي نن پاکستان پروت دي له پنځو باتجربه او پخو جنرالانو څخه بي برخي کيدل ورته لويه خساره ده.

- بله داچي دپاکستان جمهور رئيس او صدر اعظم غوښتل به پوځ کي د ارتقا لپاره داهليت تر څنگ دتجربي او مشر- توب پرنسيپ رواج کړي.

واقعيت دادي چي جنرال اسلم بيگ چي د خپل هيواد دپياوړتيا، ټينگښت اوسلامتي لپاره کوم لوي خدمتونه کړي، په خپله خوښه ئي دخپل تقاعد په اعلان سره يوبل لوي « صداقت» هم پري ورزيات کړ.

دده دي اقدام دپاکستان له سياسي استحکام سره لويه مرسته وکړه دپاکستان دپوځ نوي ٥٤ کلن قوماندان اصف نواز جنجوعه چي په يو ډول د جنرال اسلم بيگ شاگرد هم دي يو وطندوست، مستعد با مطالعه او زړور جنرال گڼل کيږي- له هند سره ئي په دوو جگړو کي فعاله برخه اخيستي ، دتحسين او افتخار څو مهم او معتبر نشانونه ئي تر لاسه کړي دي.

ځيني پاکستاني مطبوعاتو ليکلي چي جنرال«جنجوعه» په دښمن باندي دحيرانتياتر حده د چټك تهاجم دکولو او وارته دهغه دنه پريښودو په فن کي ځانگړي استعداد لري. يوه مشهوره پاکستاني « نشريه» ليکي چي د جنرال اصف نواز نژدي پيژندونکي وائي چي هغه يو ښه « بوکسر» هم دي اوددښمن دځپلو په هنر ښه پوهيږي، دمقابلي په وخت کي ئي ټوله توجه د مقابل لوري پرځولو ته وي - دي ته نه گوري چي تماشاچيان هغه ځومره تحسينوي او يائي دحريف به بد حالت ځومره خپه دي».

په هر حال دپوځ داتحول دنواز شريف دحکومت دټينگښت او دهغه دمخالفينو دبدو هڅو و دناکامي ښه انکشاف دي.

خودپاکستان په مخکي لا شديد گواښونه پراته دي اوس چي په هیواد کي دامنيت دخرابوالي کومه خطرناکه ستونزه روانه ده پدي کي مطلقاً دامريکا ، هند او اسرائيلو گډ لاس دي- هغوي پوهيږي

«مسئله بدامنی درصوبه سرحد، مرحلهء تکاملی دسیسهء استعمار»

تغییر سیاست مسکو که نتیجهء شکستش در افغانستان است، سبب شد روابط امریکا و شوروي را از حالت دشمني و رقابت بر سر تقسیم جهان به حالت همکاري و تفاهم تبدیل نماید. پرابلم هاي اقتصادي، شکست نظامي و ایدیولوژیك روسها به امریکائیان این فرصت را بخشید.تا نظریات و سیاست هایش را به مسکو دیکته نماید. شرایط تازه فوق الذکر باعث شده تا این دو قدرت اهداف، رجحانات و خطرات تازه اي را درجهان تشخیص و نشانگیري نمایند. از جملهء خطرات جدي ایکه این دو قدرت در صدد رفع نمودن آن میباشند پدیده ایست که آنها بنام بنیاد گرایي اسلامي یاد مینمایند، به همین علت است که در سراسر جهان بخصوص در شرق میانه ومناطق جنوب آسیا ازپخش وگسترش روز افزون اسلام گرایي انقلابي در تشویش اند و براي جلو گیري از آن سعي و تلاش فوق العاده مي نمایند،در همین راستا مشاهده مینماییم که کوشش هاي بسیار زیادي صورت میگیرد تا راه قیام حکومت انقلابي اسلامي را در افغانستان سد شوند.

قطع کمك هاي مختلف در مرحلهء حساس جهاد ما بمثابه مرحلهء ابتدایي عملي نمودن این اراده است که در نتیجهء ان مشکلات اقتصادي زیادي دامنگیر تنظیم ها، حکومت مؤقت ودر حقیقت مهاجرین گردیده است، گراني اشیاي مصرفي وخوراکي ، مشکلات دوري از کشور و قطع شدن معاشات وسایر کمکها

> **چون امریکائیان نه به این قادر شدند که طي ۱۲ سال جهاد یك شخصیت برازنده برای افغانها تراشیده وبرانها تحمیل نمایند ونه حامل کدام نظریه ومفکوره هستند لذا سعی می نمایند تا باوارد نمودن فشار های مختلف ملت مجاهد افغان را از عزم واراده شان مبنی برایجاد وتأسیس حکومت اسلامي منصرف سازند.**

ومسئله منفکي مأمورین در تنظیم ها وحکومت مؤ قت فشار فوق العاده زیادي بر مهاجرین وارد نموده است، که بدرازا کشیدن این حالت وضع را براي مهاجرین تحمل ناپذیر خواهد ساخت.

چون امریکائیان نه به این قادر شدند که طي دوازده سال جهاد یك شخصیت برازنده براي افغانها تراشیده و بر آنها تحمیل نمایند و نه حامل کدام نظر یه و مفکوره اي هستند،لذا سعي مینمایند تا با وارد نمودن فشار هاي مختلف ملت مجاهد افغان را از عزم و اراده شان مبني بر ایجاد و تأسیس حکومت اسلامي منصرف سازند، و در این راه از طرق ووسائل گوناگوني استفاده بعمل میآورند.

با مطالعهء اوضاع در صوبه سرحد پاکستان و از لابلاي مباحثات و جریانات اسمبله ایالتي این ایالت چنین بنظر میرسد که بعد از فشار اقتصادي مرحلهء دشوار و پر مخاطره دیگري در پیشروي افغانها قرار دارد و آهسته آهسته زمینه را آماده دخول به آن مرحله مینمایند.

« نشنل پارتي» گروهي که سالها در مقابل پولي که از سازمانهاي جاسوسي روسها و هندو ها در یافت مینمود مشغول فعالیت هاي تخریب کارانه در پاکستان بود، بنام پشتونها و ازادي پشتونستان خیانتهاي تاریخي را درحق پشتونها مرتکب شد امروز از همهء ادعا هاي کاذب و دروغین اش مانند رسمي ساختن زبان پشتو در صوبه سرحد، ازادي پشتونستان، ممانعت از احداث بند آب کالا باغ، به رسمیت نشناختن خط دیورند ،....دست بر داشته و حالا آلهء دست مشترك روسهاو امریکائیان قرار گرفته در صدد زمینه سازي و خوش خدمتي براي عملي شدن پلانهاي استعمار گران در

کشور ماشده اند.

براي چندين بار در جلسه اسمبلهء ايالتي صوبه سرحد مسئلهء مربوط به امن عامه عنوان ميشود، که محرکين اصلي براه انداختن اين بحث ها اعضاي همين گروه هستند و هم رهبر گروه در هر مصاحبه وبيانيه اش به اين امر اشاره مينمايد.

آنها حالت بد امني ، ترويج«کلاشنکوف کلچر» و دزدي و غارت همه را نتيجه موجوديت مهاجرين درين صوبه ميدانند، در حاليکه حقيقت امر درست بر خلاف آن است، زيرا موجوديت مهاجرين سبب بر قراري امنيت درين ايالت گرديده است ، در آن مناطق که تاقبل ازآمدن مهاجرين مراکز و پايگاه هاي دزدان وقطاع الطريقان وجود داشت ، در روشني روز کسي جرآت عبور از آن جاه ها را نداشت، امروز قريه ها تشکيل شده و زراعت ترويج يافته، بازار هاي پر از مردم بوجود آمده اند که نشاندهنده زندگي بارونق و عادي در آن مناطق است.

جالب اين است که اين عده اشخاص استدلال مينمايند که قطع کمك ها به مهاجرين به ازدياد جرايم و بد امني خواهد افزود ، و اين حالت ايدهال و ساختگي ايست که ايادي استعمار ميخواهند قصداً انرا بوجود آورده وبدين وسيله وضع را متشنج نمايند ، بابه وجود آوردن بدامني احساس کينه و نفرت در مورد مهاجرين را در انصار بوجود ميآورند، که توأم با آن روش تبعيض ودشمني با مهاجرين صورت خواهد گرفت و بدين ترتيب فشارها بر مهاجرين ازدياد خواهد يافت ، در موجهاي اين مشکلات مانورسياسي ديگري از جانب امريکائيان انجام خواهد يافت طرحي را بادست نشانده يي پيش خواهند کشيد به اين اميد که افغانهاي به تنگ آمده ديگر تن به هر نوع راه حل خواهند داد.همزمان با اين شرايط« پروگرام امن» که از جانب عده يي از سران قبايل براه انداخته شده بکار افتيده و اوضاع را براي بر گرداندن جبري مهاجرين و انتقال و حفاظت شخص مورد پسند استعمار چيان آماده خواهد نمود.

اما به اين واقعيت تلخ بايد اعتراف نمود که تنظيم هاي خواهان ادامهء جهاد و مخالف با استعمار نيز فاقد کار کردگي، ابتکار وپروگرام مؤثر اند، قبل از همه دستخوش اختلافات ذات البيني خويش هستند و بعد از آن هم نه طرح مطمئن کنند ه دارند و نه فعاليت قابل ذکري.

بناً اگر پروگرام فوق عملي گردد علت اساسي اش ضعف خود ما خواهد بود نه پختگي دشمنان.

رواني سياسي هڅي به په څه تمامي شي....؟

دکميسيون تر سره شوي مهمي چاري دادي: دکميسيون دکار لايحه، بېله دمختلفو طرحو دراغونډولو او عمومي جلسي ته ئې دخامو موادو په توګه دوړاندي کولو دريمه د مطبوعاتي چارو.

مجموعاً دکميسيون اساسي کار دا بيانيږي چي په يوه ګډه طرحه به کار کوي او بيا به هغه د افغانستان دقضيي دحل لاري په توګه وړاندي کوي.

کميسيون په دلګرمي سره غونډي دايروي مګر خلك ئې دکار نتيجي ته خوشبين ندي. ددي علت دادي چي پدي برخه کې يو لړ پخواني ناکامي تجربي زموږ مخي ته پرتي دي. بل معلوميږي چي «حکمتيار صاحب» ، سياف صاحب » او «خالص صاحب »ور سره زياته دلچسپي نلري - پدي بر سيره بله خبره داده چي په کميسون کي دځينو شاملو احزابو تر مينځ دسياسي مواضعو او سياسي اهدافو شديد اختلاف موجوددي.

زموږ دسياست لوي مشکل دادي چي دمشخصي ستراتيژي تحليل او غوره کولو ته اساسي پام نه کيږي چي کله هم زموږ داستونزه حل شوه سياسي منطق او سياسي پلان مو غښتلي.کيږي او يو تهاجمي موقعيت نيولاي شو.

زموږ قيادتونو ته لازمه چي د مقطعي سرګرميو په ځاي دهمدي ستونزي پر حل کار وکړي.

اوس لومړي پدي سوچ پکار دي چي څه وړکيداي شي زموږ جهادي قوتونه دداسي باور فضا را مينځ ته کړي چي په يوي واحدي ستراتيژي باندي دکار کولو مجال ولري ددي لپاره لازمه ده په دي اساسي اصولو توافق وشي، او دعملي تطبيق ضمانت ور کړل شي چي الف: بايد د افغانستان قضايا ددي هيواد مسلمان وګړي له هر دول بهرني مداخلي پرته په بشپړ استقلال فيصله کړي.

ب: دهر سياسي حزب، او شخصيت دنقش او پرستيژ اندازه به د ملت رايه او نظر ټاکي.

ج: دټولو هغو سياسي جريانونو او حزبونو لپاره به دشرافتمندانه مبارزي او ژوند حق او فرصت وي چي زموږ دهيواد او ملت دمستقبل په باب نيکي هيلي لري که پدي ډول په يوه سياسي ابتکار چي دڅو ورځو بازار ګرمي تر روش لوړوي لاس پوري شي، او هدف پکي داسلامي انقلاب بري، دجګړي او جنجال ژر ختمول او دافغانستان داستقلال تامين وي - بايد له مسلماتو وګڼو چي افغان انقلاب د نظامي «معجزي» تر څنګ ديوه « سياسي اعجاز» سنه پو تانشل هم لري.

لیکنه محمد نذیربشارت

داد «کراري خوړلن» دخطرناکي جګړي سکروټي لري

څه دپاسه یو کال دمخه د عراق جمهور رئیس صدام حسین په کرار کرار له امریکا سره د ټکر سیاست غوره کړ . ددي لوموړي څرګندونه یي د ۱۹۹۰ د فبروري په میاشت کي داردن په پایتخت « عمان» کي وکړه په پورتني نیته په عمان کي دعربي مرستو د شوري د لومړي کالیزي - په مناسبت غونډه کیده . دي غونډ ي ته صدام له قاتلانه بریدنه د بچیدو له امله په یوه جیټ الوتکه کي چي هیڅ ځانګړي نشان پري نه و لګیدلي راغي. تر ده یو ساعت دمخه د مصر جمهور رئیس حسني مبارك راغلي و. اصلاً نوموړي کنفرانس ددوو ورځو لپاره و خو په ناڅاپي ډول په یوه ورځ کي پاي ته ورسید.

دحسني مبارك او صدام حسن تر منځ اختلاف پیدا شوي و. ددي اختلاف وجه د صدام حسین دوینا یو پاراګراف و چي داردن په تلویزیون خپور شوي هم و . صدام حسین وئیلي ؤ« دروسیي دځواك تر زوال وروسته به د امریکا لاس په منځني ختیځ کي دخپلي ارادي په واکمنو لو کي بشپړ ازاد وي - آیا امریکا د اسرائیلو دننه دیهودو په میشته کولو که مرسته نه کوي ؟

آیا دعراق - ایران دجګړي تر ختمیدو وروسته هم دهغوي جنګي جهازونه په خلیج کي ګزمي نه کوي؟ اوس به دتیلو بیه دهغوي له ګټو سره سمه ټاکله کیزي.....»

صدام حسین له یوي خوا امریکا ته وویل چي زما له خلیج نه ووځه ، له بل لوري یي حسني مبارك او شاه حسین ته ګواښ وکړ چي له خپلو عربي دوستانو څخه دیرش بیلونه ډالر ورته واخلي او که نه دي ئي د اخیستلو په چل پو هیزي.

شاه حسین تردي کنفراس دوه ورځي وروسته سعودي عربستان ته ولاړ او فهد ئي له ټول جریانه خبر کړ. دامریکا خارجه وزارت د صدام وینا ته هیڅ اهمیت ورنکړ او دانګلستان د بهر نیو چارو وزارت فکر وکړ چي داهسي دصدام حسین لاپي شاپي دي.

د۱۹۹۰ په مارچ کي دکویټ خارجه وزیر بغداد ته ولاړ- عراق دکویت په ضد دا خبري پیل کړي وي چي له خپل سهم نه زیات تیل تولیدوي او دعراق له څاګانو غلا کوي دهمدي لپاره د کویت وزیر ورغلي و - خو هغه ته یو لیك ور کړي شو په کي د عراق او کویت تر مینځ چي دسرحدونو په باب څومره تړونونه وو هغه تول منسوخ شوي وو.

امریکا دصدام حسین په دي حرکت هیڅ ځان پوه نه کړ.

پداسي حال کي چي دا یو خورا جدي عمل و - مګر امریکایانو غوښتل چي صدام نور هم وړاندي ولاړ شي. د ۱۹۹۰ په اپریل کي صدام حسین اعلان و کړ چي عراق کیمیاوي وسلي جوړي کړي دي او که اسرائیلو را باندي برید وکړ نو نیم اسرایل به نیست او نابود کړو - دا هغه لهجه وه چي جمال عبدالناصر په ۱۹٦۷ کال غوره کړي وه - صدام د عربي قومیت را پارول غوښتل.

زړه یي وه چي دعربو داحساساتو په امواجو کي دعربي نړي د قیادت ستیج ته ځان ورسوي. لکه چي همداسي هم وشول او په عربو کي له ده نه دولسي ملاتړ مظاهري پیل شوي.په هغو ورځو کي په بغداد کي دامریکا سفیري پیغلي«ګلاسپي» له صدام سره ملاقات و کړ، په دي ملاقات کي د امریکا سفیري صدام ته دواشنګټن د پوره ملاتړ ډاډ ورکړ او د هغه په تشویق کي ئي ټول

وس په کار وا چاوه. او ورته ئي وويل چي « دامريکا جمهور رئيس ماته لار ښوونه کړي چي له عراق سره د ژورو او پراخو اړيکو دټينګولو لپاره کار وکړه. هغه داچي موږ(امريکايان) دعربو په جګړو کي ديوه لوري ملاتړ هم نه کوو- لکه چي ستاسي او کويټ تر منځ دپولي شخړه ده »! دا دامريکا دهغه پلان يوه بله کړي وه چي غوښتل ئي عراق دجګړي په لومه کي را ګير کړي.

د۱۹۹۰ په مي کي دعربي ټولني مشرانو په بغداد کي غونډه وکړه ددي غونډي انعقاد دوه سببه درلودل، لومړي اسرائيلو ته دروسي يهودو د را وستو غندنه او دوهم دصدام حسين د هغي وينا ملاتړ چي په کي ئي په ايرو باندي دنيمو اسرائيلو دبدلولو ګواښ کړي و.ميلمانه بغداد ته را رسيدل چي تل ابيب ته نږدي د اسرائيلو په لاس د اووفلسطينيانو دشهادت خبر را ورسيد، او دا رپوټ هم خپورشو چي امريکا دفلسطين د خپلواکي سازمان دا پيشنهاد رد کړ چي په کي نيول شويو سيمو ته دنړيوالو مبصرينو دليږلو غوښتنه شوي وه . په دي ډول دکنفرانس فضا ټوله د امريکا پرضد شوه.صدام ټولي خپلي خبري کولي او مبارك ئي خبرو ته نه پريښود بيادتړليو دروازو ترشا مجلس وشو - په هغه کي صدام حسين وويل چي د خليج ځيني هيوادونه زيات تيل توليدوي او دتيلو بيه ټيټه ساتي- په بيرل کي ديوه دالر په کميدو سره عراق دکال يو بليون ډالره تاوان کوي.

دتړليو دروازو داټول جريان په هماغه ورځ امريکا ته ورسيد خو هيڅ عکس العمل يي ونښود.

د۱۹۹۰ کال دجولاي په ۱۷ مه صدام دانقلاب دورځي به مناسبت په خپله وينا کي وويل: «عراق دومره نوي وسله ترلاسه کړي چي اوس تري د عربي نړي محافظ جوړ شوي دي. نور به هيڅوك هم پر موږ دحملي جرأت و نکړاي شي - صدام .په دي وينا کي پر کويټ او د اماراتو په متحده ايالتونو شديد انتقاد و کړ او وئي ويل چي هغوي موږ له شاپه زهرو لړلي خنجر وهي او د استعماري او صهيوني ځواکونو ايجنټان دي.

تردي ئي يوه ورځ دمخه عربو ټولني ته يو اوږد ياد داشت ليږلي و چي کويټ په عراق کي د پو ځي پوستو دجوړولو پلان جوړوي او دعراق تيل غلا کوي د عربو ټولني ته ليږل شوي ليك د بريد ځرګنده پلمه وه، خو امريکا يانو په دي هم غوږ ونه ګراوه.

دجولاي په ۲۳ مه صدام ورروستي اشاره ورکړه دوو فرقو ئي حرکت و کړ او دکويت د پولو په لوري په مخ ولاړي.

دجولاي په ۲۵ مه دامريکا سفيري پيغلي« ګلاسپي» له جمهور رئيس صدام حسين سره و کتل - عراق دنوموړي ملاقات رپوټ خپور کړ - خو امريکا داسي ونه کړل - په دي کتنه کي سفيري ويلي و : « له جمهور رئيس سره ملاقات دډير عزت خبره ده - امريکا د استعماري نظام مقابله کړي ده - هغه د عراق په دي خبره ښه پو هيږي چي دتيلو د بيي په لوړيدو سره ئي موقعيت مضبوطيږي . له کويت سره ستاسي په سرحدي جګړه کي امريکا د هيڅا په لوري هم نه ده - که صدام حسين پنځه دقيقي دامريکا په تلويزيون راشي نو امريکائي ولس به عراق سم وپيژندلاي شي».

دجولاي په ۳۱ مه دامريکا دبهرنيو چارو دوزارت وينډوي جان کيلي وويل چي موږ له کويټ سره هيڅ تړون نه لرو-موږ د کويټ ددفاع هيڅ مسئوليت نه لرو او ځه چي کيږي هغه د عربو خپل منځي مسئله ده.

په داسي يوه حالت کي داګست په ۲ مه دصدام حسين لښکري په کويټ ورو ختي او په ځو ساعتو کي ئي ټول کويت ونيو.پاس ټولو خبرو ته له اشاري نه زموږ مطلب دادي چي د جنوري په ۱۷ مه نيمه شپه چي دعراق په مظلوم ملت د محشر جوړيدو کوم اقدام وشو، هغه دامريکا داوزده پلان نتيجه وه. متأسفانه چي احمق او بي مسئوليته صدام حسين ددي فاجعي په را منځ ته کيدو کي فعال نقش و لوباوه، او صدام ددي زړه ريزدوونکي حادثي په مسئوليت کي له جورج بوش سره برابر شريك دي.

داګست له دوهمي وروسته دامريکا او نورو غربي طاقتونو فوق العاده تحرك ښه په ډاګه کوله چي استعمار ځه پلان لري - ځو ورځي دمخه امريکا هغه سوړ والي چي ويل ئي موږ د عراق - کويت په کړکيچ کي بي طرفه يو او داګست تر دوهمي وروسته ئي هغه تود والي چي تا به ويل دامريکا پر کوم ايالت بريد شوي دي - داڅنګه روښانو له چي امريکا دجګړي اورته دخود خواه او جاه طلب صدام دور ټيل وهلو خطرناکه نقشه لري.

امريکا يانو په فوق العاده سرعت، حوصله او نظم چي داښه په ځرګنده تري معلوميده چي وضعي ته لا دمخه پيشبين وو ، په دي هڅو لاس پوري کړ چي ټوله نړي دعراق پر ضد په يوه جبهه کي ودروي.

ملګري ملتونه عملاً داسي شول لکه دامريکا دحکومت کومه ځانګه - ځه چي امريکايانو غوښتل پري تصويبول ئي.

دعراق تر یرغل ئي شپږ که اوه ورځي وروسته په سعودي عربستان کي خپلي قواوي کوزي کړي. داسلامي نړي یو ممتاز محقق پرو فیسور خورشید احمد دپاکستان دسنا مجلس ته په خپله وینا کي وویل چي زه دنوم اخیستل مناسب نه گڼم خو ماته دغسي چاڃي دقیقه په دقیقه دانکشافاتو په جریان کي دي دا خبره و کړه چي دامریکایانو له خوا سعودي واکمنو ته خبر ور کړل شو چي که مو خوښه وي که نه موږ در غلو.

په ډیره عجله ئي په لکونو پوځ له هغو وروستي ماډل وسلو سره د خلیج سیمي ته انتقال کړ چي دروسانو د مقابلي لپاره ئي تیار کړي وو. امریکا یانو په ډیر مهارت او جدیت هڅه کوله چي وضعه دجگړي په لوري انتقال کړي- ټولي دنیا محسوسه کړه چي امریکا ښان جنگ کول غواړي او په هره بیه چي وي د عراق دلوي پو ځي ځواك دماتولو تصمیم لري.

مگر یوا ځي صدام حسین و چي د حماقت او جاه طلبي په نیلي سپور و او نه پوهیده چي دانتحار او دعراقي ملت د بربادي او تباهي په لوري درومي !

امریکا یانو بوه سختي هوښیاري وکړه - هغه دا چي په دي واقعیت و پوهیدل چي صدام دفرانسي دشپاړسم لوئي په څیر چي ویل به ئي« زه فرانسه یم » په دي عقیده دي چي« دي عراق دي» او هغه یو مطلق دیکتاتور دي چي نه په مشوره معتقد دي ، نه په دي باور لري چي په عراق کي شاید کوم داسي مغز او عقل وي چي په ځینو مسایلو کي ئي دي د خبري او نظر اوریدوته اړ وي . امریکایانو تشخیص کړي وه چي صدام ته ځان دومره مطرح دي، چي کولاي شي د خپل کم شهرت او وجاهت لپاره اصول، اقدار او د ولس گټي قربان کړي او همیشه د « هرڅه سم دي او هیڅ هم ستا له خوښي کاره نه دي» رپوټ خوښوي.دهغه د شخصیت د همدي کمزورو ټکیو په پام کي نیولو سره ئي په دي تبلیغاتو لاس پوري کړ چي صدام پوخ ستراتیژیست دیه دپولادي عزم خاوند جنرال دي ، معجزه ډوله تصمیمونه نیولاي شي، خطرناك پوځي زور لري او .....

دامریکا په تلویزیون کي به تر بوش نه صدام حسین دیر ښودل کیده - په ټول غرب کي صدام دیوه قهرمان په توگه د بحث موضوع وه. زه له دي سره موافق یم چي دامریکا په تلویزیون کي دصدام ډیر راتلل ددي لپاره هم وو چي دهغه دقیقه رواني مطالعه وکړي - او وگوري چي له امریکا سره دوسلوالي مقابلي لپاره له څومره اعتماد په نفس نه برخمن دي- او دوهم دا چي امریکا وکړاي شي صدام خپلو مخالفینو ته د یوي واقعاً خطرناکي څیري په توگه معرفي کړي - او په دي ډول خپله جبهه توده وساتي - مگر داهم باید په هیڅ توگه رده نکړو چي امریکا یانو دصدام له رواني جوړښت نه په دقیق تحلیل سره غوښتل هغه په قهرمان ښودو سره تحمیق کړي او دغرور او انانیت په هوا کي پري دعقل او سوچ لار بنده کړي. که داگست له دوهمي نه دجنوري تر ۱۷ مي پوري جریانات هسي سر سري هم مطالعه شي دا خبره ښه روښانیزي ، چي امریکایانو له یوي خوا غوښتي دي چي د جگړي لپاره دځان چمتو کولو ښه فرصت تر لاسه کړي - له بلي خوائي کله کله داسي تاکتیکي نرمښت هم ښودلي چي صدام حسین دقوت احساس وکړي او دبربادوونکي جگړي له لوري را تاو نشي. بله داچي زه دا منم چي دعراق پوځ لوي طاقت و، په ښو وسلو مجهزو او داته کاله جگړي تجربه ئي درلوده ، مگر د کویت تر اشغال وروسته چي دکوم افسانوي طاقت په عنوان تبلیغات ورته پیل شول، هغه هم دخود خواه او احمق صدام د تحمیق یو بل چل و. داپه دي چي په تبلیغاتو کي ددښمن کمزوري ښودل د جگړي یوه برخه ده - دا چي ددښمن د ځواکمنتوب په باب دي اغراق آمیزه خبري وشي ، شاید هیڅ سابقه ونه لري.

داخو حتمي ده چي ددښمن طاقت به لکه څرنگه چي وي هماغسي واقعبینانه تحلیلوي او په دي برخه کي هر ډول خوشباوري لویه اشتباه ده . البته دا تحلیل هم بیا څوك په آب و تاب نه تبلیغوي بلکي یواځي ئي په خپلو پوځي تصمیمونو کي په پام کي نیسي - خو داچي دعراق دپوځ ددسپلین او وسلوال غښتلتوب په برخه کي غرب اغراق آمیزه مبالغه کوله دسوچ او فکر وړ وه.

دکویټ تر اشغال دمخه دعراق دلښکرو په برخه کي دا دده خبري وي چي شمیر ئي زیات دي او دجگړي ښه تجربه لري مگر دا خبره چي افسانوي نظم او دسوق او قوماندي حیرانوونکي استعداد لري دومره نه اوریدله کیده.

دکویټ داشغال پر وخت چي عراقي پوځیانو دکومي گډوډي مظاهره وکړه - ددي اتفاقي دلیل دعراقي پوځ دنظم اودسپلین نشتوالي وگڼل شو -.

تقریباً تر یوي میاشتي زیاته موده شوي وه چي په عراق د ورځي په زرگونو تنه اوسپنه او باروت اوریدل - دعراق هرڅه برباد شوي وه- پلونه تخریب شوي وه دارتباط او قوماندي مرکزونه نړیدلي وه سرکونه خراب وو - په کویټ کي دعراق په پوځ خوب او کراري حرام کړاي شوي وه

او دعراق پوځ عملاً په خپلو دوو مهمو اهدافو کي پاتي راغلي و دا دوه اهداف – د خپلو خلکو د ژوند دفاع او دهيواد دمځکني او هوائي حريم دفاع – هره ورځ په زرگونو عراقي مسلمانان په خاورو او وينو کي لت پت کيدل خو دعراق پوځ ئي دفاع نشواي کولاي.

همدارنگه دعراق ټوله فضا دامريکائي قواوو په واک کي وه چي عراقي پوځ ورته لاس تر زني ناست و او په ړندو سترگو ئي ورته کتل – پدغسي يوه وخت کي جورج بوش خپل ددفاع وزير «ډيک چيني» او لوي درستيز جنرال«پول» خليج ته ددي لپاره راوليږل چي و گوري دمځکني بريدو لپاره کوم وخت مناسب دي.

جنرال چيني او پاول چي کله بيرته امريکا ته ستنيدل وئي ويل:

«...دعراق جنگي ماشين لا له پښو نه دي غورځيدلي ، عراق د نړي څلورم پوځي طاقت دي – دهغه ځواک حيرانووکي دي او اوس هم کولاي شي هر لحظه موږ له حيرانتيا سره مخامخ کړي...»

چيني او پاول ښه پو هيدل چي عراق ډيره کلکه ضربه خوړلي، مگر غوښتل ئي عراقي قيادت دي ته تشويق کړي چي له جگړي لاس وا نخلي او پوځي ځواک ئي له وروستي بر بادوونکي گوزاره بچ نشي.

دا مثالونه ددي ښه دلايل دي چي امريکايانو دعراقي زمامدار صدام حسين له فکري او رواني ضعف نه په استفادي سره څه ور وضعه دروانسوزي جگړي په لوري وليږدوله موږ چي پاس کومي خبري وکړي، په هغو کي دا څرگنده شوه چي امريکا څه ډول دمسلمان ملت په کور کي دجگړي اوربل کړ، او امريکاڅنگه له اسلام او مسلمان امت سره له خباثت او وحشت نه ډکي دښمني مظاهره وکړه په دي برسيره د٤٢ ورځني جگړي به ترخ کي ئي چي په کوم سبوعيت دعراقي مسلمانانو دوينو لښتي وبهولې په کوم وحشت او بي رحمي ئي دعراق په تباه کولو زړه يخ کړ ،

هغه به دتاريخ تر ژوند ه دمسلمانانو له ياده ونه وځي – مگر را ځي چي وگورو په دي جرم کي صدام حسين څومره شريك دي:

دپاکستان دجماعت اسلامي د پخواني امير ميا طفيل محمد صاحب استدلال زما خورا خوښ شوي- يوه خبريال تري پوښتنه کړي وه چي« ميا صاحب! يو نظر دادي چي که عراق پر کويټ قبضه هم نه واي کړي ، نو دښمن به دهغه دقوت د ځپلو لپاره کومه بله پلمه لټوله – دعراق پوځي ځواك په دي سيمه کي د اسرائيلو د برلاسي لپاره په يوه لوي خطر بدل شوي.- دنورو عربي هيوادو اقتصادي وسايل او تيل هم د يوي وسلي په توگه استعمار ته لوي گواښ و – امريکا او اسرائيل ددي ټولو د بربادي غوښتونکي وو – ددښمن پخواني پلانونه او نقشي وي – په کومو به چي په هر حالت کي عمل کيده»

طفيل محمد صاحب ئي په ځواب کي ويلي و چي: « داده«په هر حالت»واله خبره ليږ ددرك وړنه ده . څوك دي چي اهداف او نقشي نه لري . – آيا موږ دکشمير په باب اهداف نه لرو ، آيا هند دپاکستان په برخه کي نقشي نه لري- مگر د قيادت کمال خو دا وي چي ددښمن نقشي عملي کيدو ته پري نږدي . مجاهدين په افغانستان کي له روسانو سره په جهاد بوخت وو- روسانو غوښتل چي دمجاهدينو دکمزوري کولو لپاره هند پر پاکستان باندي بريد ته وهڅوي، «مراجي ديساي » ئي مخالفت و کړ- بيا چي گاندي راغله ، هغه ووژله شوه- راجيو گاندي غوښتل پر پاکستان حمله و کړي- هغوي جگړي ته ضرورت درلود – خو پاکستان سولي ته – ضياء الحق دکرکټ د مسابقي د ليدو په پلمه هند ته ولاړ – او « کرکټ ديپلوماسي » ئي ټوله نړي په خپله سوله خوښوونه معترفه کړه- اوس دهندي پوځي ماهران هم په خپلو کتابونو کي په دي خبره اقرار کوي چي جمهور رئيس ضياء الحق څه وړ دديپلوماسي په وسيله دهند پو ځي نيتونه مات کړل اوديوي گولي له ويشتو ئي پرته پاکستان ته فتحه ور په برخه کړه. نن زموږ ځيني دوستان په اروپا او امريکا کي په ځينو ورځپاڼو کي خپرو شويو ټکيو ته اشاره کوي تاسي هم دکسينجر يوه مقاله خپره کړي وه په کومه کي چي « ښه وشول چي ديپلوماتيکي اوسياسي هلي ځلي ناکامي شوي او د عراق د پوځي ځواك دتباه کولو موقع تر لاسه شوه» له دي معلوميږي چي دسياسي هڅو له ماتي سره مخامخ کيدل ددښمن اړتياوه- طبعاً دعراق ضرورت دا و چي سياسي هاند بريالي شوي واي – دښمن جنگ غوښت ، بايد صدام حسين د جگړي دوقوع مخه نيولي واي ، چي ددښمن نيتونه او نقشي نامراده شوي واي موږ خو لکه چي دمخه وويل داسل په سلو کي منو چي امريکا په ډيره بي شرمي ، وحشت او خباثت غوښتل چي ديوي داسي فاجعي اوربل کړي چي دمسلمانانو قوت او هستي په کي لوگي شي. مگر آيا صدام ته دا په کار وه چي ددي فاجعي د وقوع مخه ونيسي او که په خپلو اشتباهاتو امريکايانو ته دهغي دپيښولو زمينه اوپلمه په لاس ورکړي

؟» په هغو ورځو کي چي اسلامي نړي
دصدام پلوه احساساتو يوه موج نيولي وه ، دي خبري اصلاً اوريدونکي نه درلودل چي دصدام جنايت ته ورته اشتباهاتو ته دي گوته ونيوله شي.

زما دپاکستان ديوه دفخر وړ ژورنالست دا پوښتنه اوس هم په ذهن کي را ځي چي پر هغه وخت ډيره نامانوسه معلوميده - هغه به ليکل چي دخداي لپاره دا څه وړ ستراتيژست او مدبر دي چي ټوله دنيائي په لوي لاس دځان پر ضد په جبهه کي ودروله دجگړي پاي وښوده چي صدام په دي جنگ کي نه دهدف قداست درلود چي په هره بيه او هري قرباني مقابلي ته چمتو وي اونه هم دقيقه نقشه اومحاسبه.

که دهدف په قداست او دقرباني په فريضه معتقد واي او واقعاً سر ښندوي واي خپله کورني به ئي له هيواده بهر مصئونو او مرفه قصرونو ته نه ليږله بلکي پرښوده به يي چي دعراق دميلونو مظلومو کورنيو تر څنگ دمصيبتونو مقابله وکړي او هم به ئي لکه چي شعار ورکاوه د خپل تن تر وروستي ځاځکي مقاومت کاوه . دجگړي په باب يي تر پايه تحليل داؤ چي لومړي خو شايد امريکايان د تلفاتو له ويري دجگړي جرأت ونه کړي - که بيا جگړه پيل هم کړي امريکا ته به دځو زرو جنازو په تلو دجنگ پر ضد يوه څپه را پورته شي او امريکائي واکمن به اوربند ته مجبور شي - بله خوشباوري ئي داوه چي د ځو سکډ په ويشتو به وکړاي شي اسرائيل جگړي ته رانښاسي او په دي به خپله مقابله جبهه له افتراق سره لاس گريوان کړي.

دجنوري تر ۱۵ مي دمخه د اسلامي امت ټول زړه سواند غوږونه په دي انتظار وو چي يوه لحظه نه يوه لحظه به دصدام د سياسي ابتکار خبرو اوري - او په دي ډول به امريکايان په خپلو اهدافو کي مايوسو ي- غالب او يقين ته ورته گومان داو چي دجگړي دنيټي تر رارسيدو به دمخه صدام حسين له کويت نه دخپلو لښکرو دوتو په اعلان نړي حيرانوي . او يواځي به دڅه چنو وهلو لپاره په دوو جزيرو باندي د خپل تسلط خبره کوي- مگر متأسفانه چي صدام دهيڅ عقل او هوښياري مظاهره ونه کړه او دعراق دملت په ژوند او دمسلمانانو په وقار ئي داحمقانه قمار لار ووهله . هغه قمار چي يوه بوگنوونکي فاجعه ئي را منځ ته کړه - هغه فاجعه چي ټول عراق ئي له خاورو سره برابر کړ . دعراق په لکونو مسلمانان ئي په وينو ولمبول د عراق جنگي طاقت ئي چي دټول امت مال و، ځب ځب کړ، په سيمه کي ئي داسرائيلو بر لاسي تضمين ، په عربي نړي کي ئي دامريکايانو د ارادي او سياستونو حاکميت تثبيت کړ.

دمسلمانانو روحيه ئي مړژواندي کړه اودشديد غم او غوسي وير ئي گډ کړ. په سيمه او نړي کي ئي دځواك تعادل بيخي له مينځه يووړ او دامريکا دنوي سيستم لپاره ئي تقريباً لار اواره کړه.

خو تر دي در دوونکو واقعيتونو لاندي دا حقايق هم په هيڅ توگه هيرول نه دي پکار - چي که دي حادثي د اسلامي هيوادو دحکومتونو تر مينځ چي د زياترو ئي حساب له ملتونو بيل دي هر خومره واټن پيدا کړ - پيدا کړي به ئي وي خو زمانه يو ځل بيا داسلامي امت تر منځ دلوي او شانداره وحدت او هماهنگي شاهده شوه. دخليج دقضاياوو په باب امت دخوراميد پالي هوښياري اوبيداري مظاهره وکړه. همدا راز اسلامي غور ځنگونو چي دامت اصلي هيلي ئي مبارزو او آرمانونو پوري تړلي دي ، دښه فکري -سياسي مانور چانس تر لاسه کړ - او د ملتونو داحساس وقار او شرافت په معيارئي د خپلو شعارونو ، مواضعو او مبارزو د پوره ختو ازموينه بريالي ترسره کړه او ديوه ښه انقلابي مستقبل لپاره ئي فکري ، سياسي سرمايه گذاري وکړه.

لکه چي دمخه مو وويل دخليج په فاجعه کي چي دامريکايانو په لاسونو دمسلمان امت له بچيانو سره دوحشت او کبر کومي نادودي وشوي، ټول مسلمانان پري دغم او انديښني لوغړن وير نيولي دي. مگرخودي ويرجنه او غمونکي چوپتيا لاندي يوبل موج په را پورته کيدو دي- هغه دغوسي او انتقام په احساس اوداسلامي امت د بايللي عظمت او وقار دگټني په هدف داستعمار د ځپلو او ذليلولو توپان دي دتاريخ سنت دادي چي دوسلي او جگړي په زور د قايمي « فتحي» او « کراري» خوزلن ديوي خطرناکي جگړي سکروټي لري- چي پورته شي - بيا دتاريخ لوري اړوي او دزماني تختونه نسکوروي.

ای زلمیانو! زمور عفت بچ کری!

دا ملکوتي غږ، دا زړه لړزوونکي چیغه، دا ژړوونکي نعره دا د«مظلومیت»، فریاد او دادبي وسي او نا امید ي کریکه د چا ده؟ دا دیوي مسلماني کشمیري پیغلي دبي حده مظلومیت او محرومیت له سلګیو ډك اواز دي.

دهغي پیغلي چي په وطن يي دهندي داړه مارو دوحشت سکروټي اوریږي، دهغي پیغلي چي په قام يي «داسلام » او«انسانیت» په جرم د فاجعواو سانحو هغه غوبل جوړ دي چي که چنگیز او هلاکو را ژوندي شي گوته به ورته په غاښ نیسي- دادهغي کشمیري تاندي تور سري سلګي دي چي دکور او وطن په تالاکیدونه بلکي د خپل «عصمت »او« عفت» په لوټیدو ئي سترګي له وینو ډکي دي او زړه ئي له غمه کرم کړم دي.دادشلمي پیړي د« جهل» او « وحشت» دماهیت د افشا اعلامیه ده دا دایمان،ضمیر ، همت اوحمیت درابیدارولو او را جګولولپاره دیوي مسلماني « عصمت پالي» او غیرتي ۱۸ کلني کشمیري پیغلي ایمان افروز پیغام دي.

مګر دا پیغام نه دکومي ورځپاڼي پرمخ چاپ شوي، نه دکوم سپین کاغذ په پاڼه، نه د رادیو په امواجو کي راغلي او نه د تلویزیون پر صفحه- بلکي دننګ په تورو، دهمت په پاڼه او په وحشت او سبوعیت باندي دشدید اعتراض په څپو کي راغلي دي.

څو ورځي وړاندي په پاکستان کي د« جیلم» له دریابه دیوي اتلس کلني کشمیري پیغلي جسد تر لاسه شو ، ددي پیغلي تر غاړه یو لیك تړل شوي و- چي را خلاص کړاي شو پکي ئي لیکلي وو، « ... ددي لپاره چي دآزاد کشمیر زلمیانو ته خپل پیغام ورسوم فقط دا یوه لار مي درلوده- هغه داچي خط ولیکم، تر غاړه يي وتړم او دریاب ته ځان وغورځوم، ښامي په آزاد کشمیر کي جسد له اوبو را و ایستل شي- اوپدي توګه مي پیغام آزاد کشمر والو ته ورسیږي» .

په نوموړي لیك کالیکل شوي دي چي د زرګونو کشمیري تور سرو عفتونه دهندي وحشیانو له خوا لوټ شوي دي او لوټیږي . که دآزاد کشمیر زلمیان او وس زمونږ مرستي ته راونه رسیږي دالله(ج) له قهره به هیڅوك بچ نشي ، به سبن حال کي د کشمیر یوه جهادي تاید ویلي دي چي نوموړي لیك به ډیر زر ټولي اسلامي نړي ته ورسول شي.

۲۰- ددي مؤمنو کشمیري میرمنو به غمجنو څیرو کي څه ګورو؟ دهغوي په عفت او عصمت باندي دوحشي هندوانود تیري زړه ریزدوونکي داستانونه ،او ترمخ ئي دوینو په ډنډونوکي ئي د دکفارو په لاس دخپلو وروڼو، زامنو او میړونو لمبیدو دردوونکي تراژیدي.

استراتیژی وتاکتیک درمذاکرات دیپلوماتیک

قسمت اول

« استراتیژي و تاکتیک در مذاکرات دیپلوماتیک» د ایران اسلامي جمهوریت د خارجه وزارت دسیاسي اوبین المللي مطالعو ددفتر له خوا دخپري شوي رسالي نوم دي.متأسفانه دنورو نیمگړتیاوو تر څنګ د یوه با معلوماته، روزل شوي او مجرب سیاسي دیپلوماتیک کدر نشتوالي زموږ د اسلامي انقلاب یوه ستونزه ده.

تر کومه چي زموږ په مطالعه او مشاهده پوري اړه لري زموږ سیاسي دفترونه زیاتره په شکلیاتو او سلیقوي کارو کي ورک دي - بیله دي چي ددي ضرورت محسوس کړي اوپدي کار وکړي چي څه وړ دخپل انقلاب د لاري مشخصاتو او ارمان د تشریح لپاره مناسب سیاسي علم او دیپلوماتیکي فن تر لاسه کړي، زیاتره پدي اخته دي چي څه وړ جامي جوړي کړي، څه وړ بوټونه او بکسونه انتخاب کړي، او دډوډي خوړلو په وخت قاشقه او پنجه څه ډول استعمال کړي . موږ ددي ستونزي په پام کي نیولو سره لازمه و ګڼله چي " استراتیژي وتاکتیک...... د رسالي خپراوي پدي لار کي د مقدماتي فعالیت په توګه انتخاب کړو.

وظیفه دیپلمات پیش ازآنکه تنظیم اهداف سیاست خارجی دولت متبوعش باشد ، تشریح آنها درخارج ، وتلاش برای ترغیب دیگران به تعدیل سیاستهای خود برای انطباق با این اهداف است واز اینجاست که تفاوت سیاستمدارودیپلمات آشکار مي شود.

هنگامي که یك دیپلمات بتواند مقامات کشور متوقف فیه را وادار سازد وضعیت خاصي را آن گونه ببینند که دولت وي درك مي کند، مي توان گفت که دیپلمات موفقی است . ولی هنگامي که اعمال ورفتار یك دولت خارجی رابه نحوی تغییر ویا استمرار بخشد که برای منافع دولت متبوعش مطلوب باشد ، یقیناً دیپلمات کاملاً موفقی است. در جریان ارتباط ، معمولاً افرادی که سیاست خارجي را تنظیم مي کنند مقاصد خودرا با توجه به شرایط درحال تغییر وواکنشهای گوناگون خارجي مورد ارزیابي مجدد قرار مي دهند ودیپلماتها این مقاصد تعدیل یافته را به اطلاع دولتهای خارجي مي رسانند وامور روند عادي و متداول خود را طی مي کنند تا اینکه اتفاق نظر از راه چانه زني حاصل شود ویا با به کار گیری زور ، اتفاق نظر تحمیل گردد ویا آنکه دولت درصورت رویه روشدن با مقاومت خارجي اهدافش را رها ساخته وازآن صرف نظر کند. بنابر این ، مذاکره وبه کار گیری شیوه ها وفنون آن ، یکي ازاساسی ترین وظایف دیپلوماتها به شمار مي رود که چه درمذاکره با مقامات کشور متوقف فیه وچه با دیگران به کار گرفته مي شود.

صاحب نظران ازمذاکره دیپلماتیك به معناي اخص کلمه ، تحت عناوین فن ، هنر، علم ، شم وامثال اینها یاد کرده اند . اگر آن را فن و تکنیك بدانیم باید مهارتهاي لازم را از طریق مطالعه تجربیات دیپلومات هاي سابقه دار وتمرین مهارتها وبه کاربستن آن درعمل فراگرفت ، واگر آن را علم تلقي کنیم بایستي به منزله یك دیپلمات به قواعد واصول این علم عالم بود وچنانچه مانند بسیاري دیگر از اندیشمندان که هنر مذاکره کردن را درنظرداشته اند ، به آن بنگریم ، ضرورت دارد که ذوق این هنر در دیپلماتها پرورش داده شود. واقعیت آن است که مذاکره دیپلماتیك مجموعه ای است از علم وهنروتکنیك پس نمي توان صرفاً به توانائي ها وقابلیتهای ذاتي که برحسب شخصیت مذاکره کننده متفاوت خواهد بود ، اتکاداشت . زیرا مذاکره وچانه زني بویژه درعصر حاضر دارای

پیچیدگي های علمي ، فني وروش عملي است.

لازم به یاد آوری است که دراغلب کتبي که درمراکزعلمي اروپایي نوشته شده است نوعاً به مذاکراتي که در روابط بین المللي بین نماینده گان رسمي دولتها مطرح مي شود ودیپلماتها برروی مسایل مورد علاقه خودشان به چانه زني مي پردازند اکتفانشده است ، بلکه این تکنیکها وشبوه ها درکلیه مذاکرات اعم از معاملات تجاری وانعقاد قراردادهای بازرگاني ، اتحادیه هاي صنعتي بادولت وحتي جمع آوری اعانه براي امور خیریه نیزمورد نظر قرارگرفته اند وبراین اساس تقسیم بندي هاي این کتب ویا مطالب عنوان شده دربخش اعظمي ازآنان مفید فایده چندانی براي یك دیپلمات نیست . گرچه اصول حاکم برانواع مذاکرات صرف نظر از عرصه وزمینه گفتکوها معمولاً شباهت دارند و اکثرنویسندگان این کتب بین مذاکرات مختلف تفکیك قایل نشده اند .

به هرحال مراد ما درچارچوب این نوشتارمذاکرات دیپلماتیك است که مي تواند به صورت دوجانبه باشد ویا درحیطه دیپلماسی چند جانبه بین المللی قرارگیرد . امید آنکه مورد قبول واقع شود.

ارزشهای حیاتی که دولتهانمي توانند با میل واراده درمورد آن مصالحه کنند

دیپلماسی ابزاراصلي سیاست خارجي کشورهاست وتاکتیکهای مذاکره ، سلاح اصلي دیپلمات دربه کار گیری این ابزار اصلي سیاست خارجي به شمار مي رود حال سوال این است ، حدود وچارچوبهایي که دیپلماتها درروابط با سایر کشورها مجبور ومکلف به حفظ ورعایت آن هستند ، کجا قرار دارد ؟ وبه عبارت دیگر چه اصول وهنجارهایي وجود دارد که از نظر دیپلماتها قابل معامله کردن ومصالحه کردن نیست واصول و ارزشهای حیاتي درمذاکرات بین المللي چگونه تعیین مي شوند؟ وتفاوت آنها با معیارهاي جوامع داخلي ورفتارهاي فردي به چه منوال است ؟

صرف نظر از دستورالعملهای خاصی که ممکن است یك دیپلومات درباب مذاکره ویژه ای داشته باشد وملاحظات فني وعلمي وسیاسي بخصوصی را ایجاب نمایند ، پاره اي ارزشها واصول حاکم در روابط بین المللي وجود دارد که قابل چانه زدن نیست . اگر چه تعریف حدود ومصادیق این ارزشها دامنه وسعت آنها را احتمالاً محدودمي کند ، ولی به هرحال لازم است که مذاکره کننده کم وبیش چنین اصولي را همواره مدنظر داشته باشد .

اساساً فرض براین است مذاکره کننده ای که به نمایندگي ازطرف کشورش دریك گردهمایي بین المللي ، اعم ازدوجانبه ویا چندجانبه ، شرکت مي کند کم وبیش درك روشني ازمنافع ومصالح عالیه مملکت خویش داشته باشد ، به هرتقدیر قبل از ورود به بحث اصلي پاره اي از نکات بایستي اجمالاً توضیح داده شود .

مذاکره کننده نباید با معیارها وارزشهاي جامعه داخلي واخلاق فردي بخواهد برخوردهاي خود را دریك مذاکره بین المللي طراحي نماید و باید بخوبي به این نکته واقف باشد که ارزشهای حاکم برجامعه داخلي و اخلاق فردي لزوماً همانهایي نیستند که درجامعه بین المللي وجهاني از اولویت واهیمت برخوردارند . منظور از«جامعه جهانی » مجموعه کشورهاي مستقل در دوره معین است که از نظر سیاسي بریکدیگراثر مي گذارند و معمولاً به جهت تحصیل منافع ملي باهم روابط متقابل بر قرار مي کنند . به عبارت دیگر جامعه جهاني یك جامعه مرکب از کشورهاي مستقل با سیستمهاوایدئولوژی هاي مختلف است که بنا به مقتضیت ومصالح ملي خود با یکدیگر ارتباط دارند وطبیعي است که در راستاي حفظ منافع و مصالح ملی کمتر جایگاهی براي عواطف وهیجانات واحساسات فردي باقی مي ماند .

کمیت وکیفیت روابط سیاسي هرکشور زاییده مجموعه ای از عوامل قدرت ، نظیر پیبشرفت اقتصادي ، ایدئولوژی ، نفوس، نوع وسیستم حکومت ، جغرافیاوتاریخ وفرهنك است ، وچون این عوامل درمورد کشورها یکسان ویکنواخت نیست مقاصد واهدافی که کشورها درصحنه بین المللي درصدد تحصیل آنها هستند وهچنین برداشت کشورها از مسایل بین المللي و نحوه اي که بخواهند آنها را حل وفصل نمایند نیز باهم متفاوت است .

جامعه داخلي به هرصورتي که باشد یك جامعه متشکل ومتمرکز است که افراد جامعه کم وبیش وفاداری خود را به مرکزی که حکومت باشد ویا اصولی که معمولاً درقوانین اساسی پیش بیني شده است ،ابراز مي دارند و ازاین نظر نوعی وحدت ویگانگي درجامعه داخلي وجود دارد ، ولي در جامعه جهانی ، مرکزی براي وفاداری کشورها (خارج ازمنافع ملی) وجود ندارد وحق حاکمیت به آنها اجازه مي دهد که هریك راهي را که مقتضي ومناسب خود مي دانند انتخاب وتعقیب کنند. زیربنا ومحرك

اصلي رفتاركشورها ، تحصيل قدرت وتلاش براي حفظ وازدياد قدرت است . طبعي است كه در چنين حالتي يك وضعيت نزاع وجنگ دايمي همه عليه همديگر وجود داشته باشد وبنابراين درجامعه جهاني برخلاف جامعه داخلي « اختلاف ورقابت » بر « همبستگي وپيوستگي »وياوحدت غلبه دارد ،درجامعه بين المللي قانون حاكم ، قانون «ناسازگاری ورقابت» است. علت رقابت كشورها ممكن است داشتن مقاصد واهداف ملي مختلف يا عوامل متفاوتي باشد، به همين دليل است كه برخلاف نظريه رايج دريك مذاكره بين المللي ، نبايد انتظار داشت لزوماًدرجمع جبری بايد امتيازاتي كه يك طرف ازدست مي دهد وامتيازاتی كه طرف مقابل كسب مي كند برابر با صفر باشد ولذا تئوری «حاصل جمع صفر» nzero sum theory)درمعادلات سياسي مي تواند مصداق نداشته باشد . زيرا همان گونه كه گفته شد. اهداف سياست خارجي ومنافع ملي كشورها درزمان واحد با يكديگر متفاوت است . دراينجا ذكر اين نكته ضروری است كه سياست خارجي كشورها هميشه متوجه هدفی است وعوامل داخلي وخارجي مختلفی درتعيين هدف وحصول آن دخالت دارند وبازبايد توجه داشت كه منافع كشورها در صحنه بين المللي يكسان ويكنواخت نيست ونمي تواند باشد . كشورها در روابط متقابل خود درصحنه بين المللي هميشه هدف ويا اهدافی را تعقيب مي كنند كه با اهداف كشورهاي ديگر (وحتي با مقاصد قبلي خودشان) يكسان نيست ومقاصد واهدافی كه كشورها در روابط بين الملل درصدد تحصيل وحفظ آن هستند ، « منافع ملی » ناميده مي شود كه درحقيقت مبنا و انگيزه رفتاروسياست كشورها درصحنه بين المللي است . وآنچه كشورها در عرصه روابط بين المللي انجام مي دهند ، درجهت تحصيل وازدياد منافع ملي است وبنابر اين شايد بتوان منافع ملي رابه

اساساًفرض براين است مذاكره كننده ای كه به نمايندگي ازطرف كشورش دريك كردهمايي بين المللي اعم ازدوجانبه وياچند جانبه شركت مي كند كم وبيش درك روشني از منافع ومصالح عاليه مملكت خويش داشته باشد.

اهداف اوليه ومستمر تعبير كرد كه عموماً به ارزشهای چهارگانه زير اطلاق مي شود.

١ - امنيت ملي وصيانت ذات كشور
٢- رفاه اقتصادي
٣- حفظ وازدياد قدرت كشور در روابط با كشورهاي ديگر .
٤- كسب پرستيژ

لازم به توضيح است كه امروزه در روابط بين المللي «امنيت ملی» ، «منافع ملی» و«صيانت ذات كشور» غالباً به جاي يكديگر استعمال مي شوند ومقصود ازهر سه اصطلاح كسب وحفظ ارزشها واهدافی است كه ازآن با عنوان « ارزشهای حياتی » جامعه ياد مي شود وازآن جمله حفظ تماميت ارضی ، حفظ جان مردم ، سيستم اجتماعی واستقلال كشور است.

بنابراين « حفظ وجود خود » كه گاهي از آن با عنوان « منافع حياتی » نيز تعبير شده است ، بالاترين واساسی ترين هدفي است كه همه كشورها بدون استثناً درصدد حفظ و تحصيل آن درصحنه بين المللي هستند و اگر به مخاطره افتد مردم ودولت ، حاضر به فداكاري در راه آن بوده و اقدامات جنگي را مجاز مي شمارند.

بنابه تعريفی كه « والتوليپمن»از امنيت ملي به دست مي دهد ، در معنای عام كلمه ، وي امنيت را همراه با قدرت نظامي مي داند ومعتقد است كه بود ونبود امنيت وابسته به توانايي كشور در رفع خطر ودفع حمله نظامي است . صرف نظر از اينكه امروزه لا اقل درخصوص قدرتهای بزرگ با وجود سلاحهاي هسته ای وموشكهاي بالستيك ديگر پيروزي درجنگ معني خود را تا حدود زيادی از دست داده است وجنگ درعصر اتم درحقيقت يك جنگ تام وكامل است ومثل سابق نمي تواند وسيلهٔ مهمي براي كسب و حفظ منافع ملي باشد ، شايد بتوان گفت كه اين نظر بيشتر درمناقشات منطقه اي وكشورهاي متوسط وكوچك همچنان اعتبار خود را حفظ كرده است . ولي بايستي توجه نمود كه امنيت چيزی بيش از داشتن قدرت نظامي وتوانايي دردفع حمله نظامي وموفقيت درجنگ است ، بنابراين امنيت پديده ها ، هدفها وسياستهای ديگری را نيز در بر خواهد گرفت ونيز بستگي به آن دارد كه كشور چه شرايطي داشته باشد . مثلاً براي كشورهايي كه در صدد افزايش قدرت وموقعيت خويش ، درصحنه بين المللي ، هستند امنيت به معني توانايي در وادار كردن ساير كشورها ، بخصوص همسايگان ، به همكاري وعمل كردن بر طبق تقاضاها واهداف بين المللي آنها ست

. امنیت به معني توانایي در وادار کردن سایر کشورها ، بخصوص همسایگان ، به همکاري وعمل کردن برطبق تقاضاها واهداف بین المللي آنهاست . امینت برای این گونه کشورها به معني حفظ « منطقه نفوذ » ، تسلط بر « مناطق استراتژیك » ، « راههای آبي » و « مواصلات مهم بین المللي » است ومقاصد مزبور براي کشورهاي بزرگ جزء اهداف حیاتي به شمار مي آیند.

مجبور کردن کشورها به انعقاد قراردادهای نظامي ودادن پایگاهایي درمناطق سوق الجیشي ، ویا ضمیمه کردن کشورها در امپراتوری « دوفاکتو » براي کشوری که درصدد به دوش گرفتن رهبري یك نهضت جهاني ویا منطقه اي است ، جزء امنیت آن مملکت به حساب مي آید.

کشورهاي استعماري درقرون ۱۸و۱۹ «حفظ مستعمرات » خودرا جزء هدفها وارزشهاي حیاتی کشور خویش ، یعني امنیت مملکت خود، به شمار مي آوردند . مثلاً دولت بریتانیا به خاطر حفظ مستعمرات خود در امریکای شمالي ، که درصدد استقلال وقطع رابطه با انگلستان بودند ، به اقدامات نظامي متوسل شد. همین طور مطالب فوق بخصوص درمورد کشورهاي شوروي وامریکا که پس از جنگ جهاني دوم هریك به اصطلاح رهبري جهان « کمونیستي » و « آزاد » را هدایت مي کردند ، کاملاً صادق است .

ممکن است ازنظر اسرائیل ، داشتن « مرزهاي مطمین وامن » ویا داشتن همسایگانی که کشورش رابه رسمیت بشناسند جزء اهداف حیاتي و امنیتي آن کشور به حساب آید.

امریکا پس از جنگ جهاني دوم حفظ ودفاع ازتمامیت ارضي و استقلال کشورهاي اروپای غربي را ، که در پیمان ناتو در سال ۱۹٤۹با او هم پیمان شده اند ، جزء امنیت خود دانسته وتعهد کرده است که هرحمله و تجاوزی علیه متحدین اروپایي خود را ، حمله به امریکا تلقي خواهد کرد.

رهبراني ممکن است ازدست دادن استقلال مملکت ویا ازبین رفتن قسمتي از خاك خود رابه خاطر حفظ حکومت ویا تحقق بخشیدن به یك ایدئولوژي خاص مغایربا امنیت ندانند.

کمااینکه رهبران سوریه درسال ۱۹۵۸ به خاطر اتحاد ناسیونالیزم عربی ، از استقلال وتمامیت ارضی کشور خود چشم پوشیده وآن را با مصر ادغام نمودند.

لنین درقرارداد مارج ۱۹۱۸ « برست لیتوفسك » ، یك چهارم از خاك اروپایي روسیه را که از زمان پتر کبیر درتصرف داشت به آلمان واگذار کرد زیرا براي لنین منافع کشورشوروي وحفظ مناطق وسیع اهمیت حیاتي نداشت بلکه « کمونیست کردن دنیا » وایجاد « حکومت کارګري جهاني » دردرجه اول اهمیت قرار گرفته بود. وحال آنکه چند نسل بعد شاید براي جانشین وی ، میخائیل گورباچوف ، دفاع از تز « پرسترویکا » و « گلاسنوست »وي از تقدم برخوردار باشد.

حکومتهاي وابسته که با قدرت سرنیزه حکومت مي کنند وبین توده مردم نفوذ داني ندارند ، معمولاً بیش از حد به دولت بزرگ متکي بوده و مداخله آنان را در امور داخلي به جهت ادامه حکومت خود ، مغایر با امنیت مملکت نمي دانند . از طرفي ، مسئله اي که ممکن است دریك مقطع زماني جزء امنیت یك کشور به حساب آید . درزمان دیگري ممکن است چنین مفهومي رانداشته باشد . براي نمونه ، انگلستان به جهت حفظ مستعمرات خود در امریکای شمالي ، در قرن هجدهم دست به اقدامات نظامي زد ولي در قرن بیستم انگلستان در مسئله « رودزیا »که یکي از مستعمراتش بود و استقلال یکجانبه خود را اعلام نموده بود، حاضر به جنگ نشد. به هرترتیب مي توان چنین گفت که امنیت ملي داراي خصوصیات و صفات زیر است:

الف) امنیت امری نسبی است .

ب) امنیت پدیده ذهني است.

پ) بین امنیت وقدرت رابطه ای منطقی وهمیشگی وجود دارد.

وعوامل وپدیده های زیر مي تواند امنیت کشورها رابه خطر اندازد:

۱- ظهور وتوسعه یك ایدئولوژي که مخالف ایدئولوژی حاکم بر کشورباشد.

۲- کثرت وانفجار جمعیت درکشور همسایه (همسایه دشمن)

۳- پیشرفت اقتصادی ومازاد تولید کشور همسایه (همسایه دشمن) .

باقي په (٥٦ مخ)

> صاحب نظران از مذاکره دیپلماتیك به معنای اخص کلمه تحت عناوین فن ، هنر ، علم ، شم وامثال اینها یادکرده اند اگر آنرافن وتکتیك بدانیم باید مهارتهای لازم را از طریق مطالعه تجربیات دیپلومات های سابقه دار تمرین مهارتها وبکار بستن آن درعمل فرا گرفت .

دمحاذملي له مرستيالی نه دداکترفاروق «اعظم» استعفی، ولی ...؟

٤٨ کلن ډاکتر غلام فاروق « اعظم» د پيرسيداحمد گيلاني صاحب د« محاذ

ملي اسلامي افغانستان» مرستيال و. دچنگاښ په ۱۱ مه ئي په يوه مطبوعاتي کنفرانس کي له خپلي عهدي استعفي اعلان کړه.

دگيلاني صاحب« محاذ » اصلاً يو فکري - سياسي تنظيم نشي بلل کيداي، نه ماهيتاً او نه د تشکيلاتو له مخي.« محاذ » د«پيري او مريدي» ديوي وچي رابطي او نفوذ په اساس جوړشوي او دوسايلو، امکاناتو. وجاهت او بهرنيو اړيکو په پشتوانه په پورتني روحيه او تعلق روان دي.

د«محاذ »تنظيم دگيلاني صاحب او دهغه دکورني شتمني بلله کيږي، او داد هغه تنظيم ټولو افرادو منلي هم ده. دا روحيه په محاذ کي تقريباً يو مسلم او غوځ ذهنيت او رسمي نظريه ده.

که څه هم متأسفانه دپيښور په احزابو کي دعمل او واقعيت له اړخه دارنګ زموږ په ټولو احزابو کي د بڼي او اندازي په تفاوت عام دي خو په دي توپير چي په ځينو کي لا ديوه « مشروع» واقعيت او« رسمي ذهنيت »حالت ته ندي رسيدلي.

دلته موږ د« محاذ ملي» خبره کوو ، گيلاني صاحب چي دکمونيستانو تر کودتا وروسته پيښور ته را غي شايد ددي سوچ يي ډير کم کړي و چي د رژيم درا پرځولو لپاره به د وسلوالي مبارزي تنظيم جوړوي ځکه دده پخواني ارام ژوند او له کړاوونو سره نا اشنائي ددي احتمال کماوه چي دنظام مقابلي ته په يوه قهرجنه جبهه کي ودريږي.

بله دا چي دمقاومت لپاره د مطلق محروميت شپي وي، او دظاهري شرايطو د تحليل له مخي د رژيم مقابله ډيره گرانه معلوميده.

خود مقاومت هغو مشرانو چي لا پخوا په پيښور کي وو او دکمونستانو پر خلاف ئي دتوند نظامي حرکت دپيلولو په لارو چارو کار کاوه فکر و کړ چي محترم گيلاني صاحب کولاي شي چي د



افغانستان په ځينو برخو کي د نفوذ درلودلو په وجه د افغان ولس راپورته کولو او بسيج کولوکي برخه واخلي، له دي امله ئي هغه تشجيع او تشويق کړ چي له پيښوره د وتو تصميم بدل کړي او دکمونستانو په ضد مبارزه کي برخه واخلي.

له گيلاني صاحب سره په پيل کي ناسيوناليستانو ځان خلط کړ خو ژر پوه شو چي دکمونيزم پر ضد چي کوم حرکت پيل او روان دي هغه اسلامي احساسات، اسلامي روحيه او مشخصات لري، او دوي مجبور دي چي دخپل سياسي هدف لپاره

د«محاذ» دسیاست او دهغه درهبري کدر د ترکیب په څرنګوالي کي هغه په پام کي ونیسي- دوهم دا چي مبارزه ډیره خونړي وه، ډیره روانسوزه او له خوفناکو تراژیدیو جوړه وه له هغه چاپرته چي اسلامي جذبه او دمومنانه قرباني شهامت ئي در لود نورو ورته زړه نشواي ښینګولای.دریم داچي د مقاومت انګیزه او منطق اسلامي او انقلابي و، شعارئي اسلامي انقلابي و. ځکه اصلاً شروع کړي انقلابیونو و، اغلباً دي فکتورونو ګیلاني صاحب څه تجدید نظر ته اړ کړ- دناسونالیستانو یو څه ګوښه کول او له ځان سره د اسلامي شخصیت او نظر یاتو د در لودونکو رجالو دګډولو رجحان ددي تجدید نظر نتیجه وه. د « محاذ »د مرستیال په توګه دډاکتر صاحب فاروق اعظم انتخاب«د»ګیلاني صاحب دنوي رجحان لوي مظهر و.

ډاکتر فاروق اعظم نه د ګیلاني صاحب فکر ي قوت او قیادي صلاحیت ور جذب کړ اونه هم د «محاذ» سیاسي «پرستیژ» او سیاسي کړنو او جوړښت بلکي دډاکتر صاحب په خپله وینا د قسمت خبره وه.

فاروق اعظم پنځه کاله مخه په خپله بیو ګرافي کي لیکي:

«... څرنګه چي دمجاهدینو له ډیرو مشرانو سره مي له پخوا پیژندل نو بیله

دي چي دکوم تنظیم غړي شم ، دخپل ځان په بي طرفه ساتلو مي تلاش پیل کړ چي دوي سره په اتفاق شي - کله چي پوه شوم چي کوښښونه مي نتیجه نه ورکوي نو بیامي په جهادي تنظیم کي خدمت ته ترجیح ور کړه. قسمت زه او پیر سیداحمد ګیلاني صاحب سره مخامخ کړو چي تر اوسه ور سره ملګري او معاون ئي یم - خو دمجاهدینو دمتحد کولو لار مي خوشي نکړه - بلکي په حقیقت کي مي له یوه بل سنګر څخه دي نیك کارته ادامه ورکړه....» واضح ده چي ډاکتر فاروق اعظم پو هیده چي په هغه فوق العاده حساسه مرحله کي د اسلام او خپل ولس لپاره او د وطن د خپلواکي په ارمان ښه کار کول یوه قوت او موقعیت ته اړتیا لري. ددي لپاره هغه د« محاذ» معاونیت انتخاب کړ. نور خو که دتاثیر او تاثر خبره وي « ګیلاني» صاحب او محاذ له ډاکتر فاروق اعظمه متاثر یدل نه چي ډاکتر له هغوي اثر واخلي-

همداراز لکه چي وایي ډیر کسان داسي وي چي « تشکیلات اوچوکي حیثیت او شخصیت ورکوي» خو ځیني داسي وي چي تشکیلاتو او چوکي ته حیثیت او معني ورکوي.... که بي طرفانه قضاوت وکړو نو ډاکتر صاحب له دوهمي ډلي خلکو څخه و نه چي محاذ ده ته رنګ او شخصیت ور کړي وي.

ډاکتر« اعظم » دمعقول اسلامي شخصیت خاوندي، د اوږدي مبارزي سابقه لري، دلو ړي علمي درجي څښتن دي. دهیواد دننه او بهر داوچتو کارونو دکولو تجربه لري، دردمند او دلسوز شخصیت دي، له ښه منطق ار لوړو اخلاقو برخمن دي. وایي چي ښاغلي پیر صاحب څو واري ویلي دي چي:«که اخوانیان ټول دډاکتر صاحب غوندي وي، زړه مي غواړي چي اول اخواني زه شم».په هغو ورځو کي چي لا دغرب دفساد اوتخریب لاس زموږ پښوته نه و را غځیدلي. دروسانو په ضد

د تودي جګړي وخت ؤ. حالات داسي و چي په جګړه کي نقش دموقعیتونو په تثبیت کي اثر در لود(دکار وخت و - دروسانو مقابله. خلکو دیوه عاجل او سردست اشد ضرورت په توګه محسوسوله- له دي امله ښکاره وه چي دامریکا دفساد او سبوتاژ پښه دومره نه وه را اوږده شوي چي دجوړولو او ړنګولو تصمیم و نیسي یعني دا حالت نه و لکه نن چي اصلاً غرب عملاً په ورروستي مفهوم او هر اړخیز ډول دګیلاني صاحب او مجددي صاحب په څیره کي زموږ. د سیاست په میدان کي ودریږي. هلته داسي ورځي وي چي زما په یاد دي محترم « حکمتیار» دپیښور په کبابیانو کي د ګیلاني صاحب په میلمستیا کي ګډون کړي و هغه په محاذ ملي کي دیوي ډیري مهمي پیښي په توګه یادیده، هغوي خوشاله ؤ چي حکمتیار ئي کورته راغلي او ورسره ائتلاف کولوته هم چمتو شوي دي.

موږ په څو لویو غونډو کي لیدلي چي ګیلاني صاحب حتي دبل چا له خوا ورته لیکل شوي بیانیه هم سمه نشي لوستلای- طبیعي ده چي دده لپاره ګرانه وه چي د ائتلاف په څلورو کلونو کي دي په هغو مجلسونو کي دیوه ځانګړي نظر او هدف در لودونکي سیاسي قاید په توګه نقش و لوبولای شي، چي دحکمتیار په څیر، ذهین، متحرك، متهاجم با مطالعه او دخپلو نظریاتو په بیان او وړاندي کولو کي دځانګړي مهارت او جرئت در لودونکي او د جنجال تر حده په خپله خبره ټینګار کوونکي دي دهغه درقیب لوري په توګه مطرح وي . مګر ډاکتر فاروق اعظم ؤ چي پدغسي غونډو کي به ئي« محاذ» ته سیاسي حیثیت او پرستیژ ورکاوه- نه یواځي دیوه تنظیم دغاینده په توګه به یي فعال رول تر سره کاوه بلکي په ټول اتفاق به د هر رئیس په دوره کي د جلساتو او شوري ګانو منشي ټاکل کیده. اوس چي حالات لیر. اوښتي. جهاني

وضعه همُ داسي ده چي هره خوا د امریکا دواکمني نغمي غږیږي.

زموږ قضایاوو ته هم متأسفانه دامریکا لاس کافي را اوږد شوی ښاغلي ګیلاني صاحب نور فاروق «اعظم» ته ضرورت نه محسوسوي، داسي سیاستونو ته لاس اچوي چي فاروق اعظم ئي نشي منلای – داسي تصمیمونه نیسي چي دفاروق اعظم دفکر او شخصیت له حجري ، حجري سره په تضاد کي دي – ګیلاني صاحب له کمونست او جاني نجیب سره معاملي ته کیني چي ډاکتره اعظم » یې پر خلاف دپوخلا توب نه منونکو مبارزي دتو دو معرکو پنځه وښت کلن تاریخ لري – دهغه مظلوم او ټوکر ټوکر قوم دارادي په مقابله کي دکفر و استعمارد تصمیم په لوري دربري چي دمحرومیت او عظمت پاللو احساس ئي د فاروق اعظم دشخصیت نه بیلیدونکي جزدي.

پدغسي یوه وضعه کي باید زموږ کاملاً طبیعي انتظار همداوي چي ډاکتر صاحب به دمحاذ ملي له معاونیت سره خدای پاماني کوي.

موږ پو هیږو چي ډاکتر صاحب دخپل تصمیم په حقانیت پوره باوري دی هغه دمشکلاتو د مقابلو همت لري لکه چي په خپله لیکي: «.....دسید جمال الدین« افغاني» دژوند مطالعي مي په زندګی کي سیاسي تحریك را پیداکړ – پدي ډول دژوند دفلسفي په اغزنه لار ور ګډ شوم او هر راز سختیبو ته مي ځان ونیو(نور مي ددار په پړي مه ویروه— ماته دیار دپستو زلفو تاردي) »

همدارنګه موږ مطمئن یو لکه چي مخکي مو وویل هغه ته شخصیت دګیلاني صاحب دمحاذ مرستیالي ندي ورکړي) بلکي نور عناصر دي چي دي ئي« ډاکتر فاروق اعظم» کړي دي.

داردوژبي یوشاعرڅه ښه وائي :

تشیکل وتعمیرفن میں جوبهي
«حفیظ»کاحصه هي
نصف صدي کا قصه هي ،دوچاربرس کي
بات نهیں

"د«فن»په جوړښت کي چي د«حفیظ» کومه ونډه ده ،هغه دنیمي پیړي کیسه ده ،ددوودریو کلنو خبره نده »

دپاکستان سیاسي

چي پاکستان اتومي قوت لري، که د اقتصادي پرمختګ او سیاسي ټینګښت لاره هم په بري ووهي عملاً دمنطقي او ټولي اسلامي نړي په لوی طاقت بدلیږي.

امریکا او اسرائیل دپاکستان دمستقبل په باب ډیر خبیث او شوم پلانونه لري. په کوم وخت هم چي موقع پیداکړي ، شاید پاکستان له خطرناکي حادثي سره مخامخ کړي-پدي لړکي په پاکستان باندي بریدته دهند لمسول او داسرائیلو هوائي حمله دټولو په سر کي واقع دي.

جاپان ته دنواز شریف تر سفر دمخه په پاکستان کي د بد امني دیوه تور توفان را الوتل اغلباً دامریکا دپاس یاد شوي سازش یوه کړي وه. دوي ویریږي چي که پاکستان خپلي اقتصادي اړتیاوي له جاپان سره د اقتصادي تړونونو له لاري پوره کړي، منطقه دواشنګتن له نفوذه وځي . په پام کي ؤ چي نواز شریف په جاپان کي دهغه هیواد لوي صنعتکاران او سوداګر په پاکستان کي سرمایه ګذاري ته وهڅوي – واضح ده چي خارجي سوداګر په یوه هیواد کي دامنیت تأمین دپانګي اچولو لپاره اساسي شرط ګڼي.

له همدي امله و چي نواز شریف خپل سفر و ځنداوه او دي ته ئي ترجیح ورکړه چي لومړي له خپل هیواده دبي امنیتي مصیبت ختم یاکم کړي- که پدي کي بریالي شو او د امریکااو یهودو شوم نیتونه ئي مات کړل بیا به جاپان ته په قوي موقعیت کي ولاړ شي او له ښي ګټي سره به راستون شي. موږ خپل خدای جل جلاله ته دعا کووچي په خپل الهي رحمت دمسلمان پاکستان په خلاف ددښمنانو شومي هیلي خاوري کړي. آمین

هند په افغانستان

ب: پداسي تبلیغاتي فعالیتونو لاس پوري کړي چي دپاکستان په باب دکابل د خلکو ذهنیت او احساسات خراب کړي- داسي چي ګني دا پاکستان دی چي دافغانستان د قضیي حل ځندوي او په افغانستان کي د جګړي اورته لمن وهي.

ج: په کشمیر یانو باندي دهند وانو وحشت دکابل د مسلمانو خلکو له نظرونو پټ کړي او په کشمیر کي دروانې روانسوزي وضعي تصویر بل ډول وښودلای شي.

د: په راتلونکي افغانستان کي د ځان لپاره د نقش د تر لاسه کولولپاره سرمایه ګذاري وکړي.

دا حرکت باید پاکستاني مسئولینوته یو دپام وړتکي شي هغوي ته په کارده چي په خپلو سیاسي اشتباهاتو او غلطیو دهغه سازش برخه نشي کوم چي غواړي د راتلونکي افغانستان حکومت هم دننې او پروني په څیر د افغانستان او پاکستان د حقیقي مصلحتونو او ګټو په خلاف د توپ د تختي نقش و لري

په ټولنه کي د تبليغاتو ونډه

په ديکتاتوري نظام کي د تبليغاتو ونډه:

په جمهوري نظام کي د تبليغاتي وسايلو ونډه:

په نننۍ نړۍ کي د تبليغاتي وسايلو ونډه د ژوند په ټولو برخو کي د اهميت وړ ده او اوس تبليغاتي وسايلو د ساينس مقام لاس ته راوړی ، ورځپاني دي که جريدي راديو ده که تلويزيون ، آديو ده که ويديو دا ټول اوس دانساني ژوند د بنسټيزو ضرورتونو څخه شميرل کيږي په پرمختللي نړۍ کي د تبليغاتي وسايلو د ونډي لپاره دري هدفونه ښودل شوي، لومړی دا چي خلکوته دهغو پيسو تازه خبرونه په لاس ورکړي چي شپه او ورځ پيښيږي ، دوهم دا چي د خلکو لپاره يو واحد تعليمي - تربيتي نظام جوړ کړي . دريم دلوستونکو او اوريدونکو اوليدونکو لپاره دتفريح باعث وګرځي دا وروستي عنصر د تبليغاتي وسايلو اهميت دوه چنده کوي په تبليغاتي وسايلو پوري اړوند متخصصين دتبليغاتي وسايلو يوه بل اړخ ته هم اشاره کوي هغه داچي دتبليغاتي وسايلو په مرسته دتجارتي مقصدونولپاره داعلانونو خپرول هم ددي جزدي، په اصل کي دا برخه تبليغاتي وسايلو ته په خپلو پښو ددريدلو موقع هم په لاس ور کوي لدي پرته تبليغاتي وسايل به ډيره ګرانه توګه خپل ځان ژوندي ساتلي شي.

تبليغ دټولنيز ژوند يوه برخه هم بللي شي ، پدي خاطر چي دهري ټولني اخلاقي، فرهنګي او.......... فعاليتونه پر تبليغاتي وسايلو بې اغيزي نه دي. پر ټولني چي څه ډول نظام حاکم وي دهغه خصوصيات په تبليغاتي وسايلو کي منعکس کيږي که امريکا ده که روسيه ، آلمان ده که فرانسه ، سعودي دي که کويت ، هند دي که سريلانکا، ايران دي که افغانستان او يا چين که پاکستان په ټولو کي د تبليغاتو لپاره استعمالونکي وسايل دچاپيريال، سياسي ، فرهنګي او اخلاقي ژوند دبدلون او سوق کولو لپاره استعماليږي،اوس په بنسټيز ډول په نړۍ کي دوه ډوله نظامونه حکومت کوي يو هغه هيوادونه دي چي پر هغوي زور او وروست ديکتاتورانه نظام ، حکومتونه او سياست دخپل ژوند وروستي شپي ورځي صبا کوي ، دوهم هغه هيوادونه دي چي په هغو ي کي جمهوري نظامونه په جلا جلابڼو را څرګند شوي په دوي سربيره په ځينو هيوادونو کي نيمه جمهوري او نيمه مطلق العنانه نظامونه دي چي پکي جمهوري اوستبدادي خصوصيات اوږه په اوږه په نظر راځي . افريقا ، لاتينه امريکا د آسيا زياتره هيوادونه ددي ډوله نظامونوژرندي بيلګي دي دغه هيوادونه ددريمي نړۍ د هيوادونو په نامه هم بولي، دتبليغاتي وسايلو په باب تر خبرو دمخه ضروري ده چي په ديکتاتوري جمهوري ، نيمه ديکتاتوري او نيمه جمهوري نظامونو کي دخلکو فردي او ټولنيز سياسي ژوند حدود او قيود، دټولني اوسياسي ګډ حيثيت اودفرد او قوانينو تر مينځ اړيکي معلومي شي تر څو دروغ او رښتيا، علم او جهالت، ښه اوبد، ظلم او عدالت اصلي او حقيقي مفهوم اومعني زموږ مخي ته راشي.

په ديکتاتوري نظام کي دتبليغاتو ونډه:
کله چي به نړۍ کي دمطلق العناني اوديکتاتوري نظام شور او زور ؤ هيواد او حکومت ديوه شي دوه نومونه بلل کيدل په همدي خاطر به يي دحکومت مخالف له هيواد څخه ياغي باله، فرد دهيواد په وړاندي کوم حيثيت نه درلود، دهيواد ټول

کار دحکومت دیوه شخص په لاس کې و کوم چي بادشاه به یې باله، یا به د هغو څو افرادو په لاس کي وه چي شاهي کورني پوري به مربوط ؤ ، داسي خلك چي زیاتره دحکومت سنه پوستونه لاس ته راوړي ، هغوي یاپه حکمران واکدار نسل کي زیږیدلي وي ، یايي دټولني دعامو خلکو په مقابل کي دکومي بلې وجې له مخي برتري لاس ته راوړي وي، که هغه د سازشونو له لاري وي یابلې لاري... دا برخه خلك زیاتره دواکدارانو دوزیر یا سلاکار دندي پرمخ بيايي. په دي ډوله شاهي حکومتونو کي درنستیاوو خپرول یعني د « تبلیغات» به څه حیثیت ولري؟ !دتبلیغاتي وسایلو دونډي او دهغوي پر اغیزي باندي د بحث څخه دمخه ضروري ده چي ددي پوښتني دځواب پیداکولو په لټه کي شو دانساني تاریخ له مطالعي دا حقیقت روښانه کیږي چي په دیکتاتوري نظامونو کي د صحیح معلوماتو لاس ته را وړل دڅو تنو حق شمیرل کیږي او همدا څو تنه نورو عامو خلکو ته دمعلوماتو دپیداکولو په خاطر دولتي سیاسیت غوره کوي. داخلك معلوموي چي کوم معلومات د خلکو لپاره ضروري او کوم غیر ضروري دي،له ټولو شیانو څخه خبریدل ملي ګټو ته تاوان رسوي او نور...اونور...

دا ډوله نظریه کله چي دعمل ډګرته را ووځي نو بیا ددي خبري لپاره زیات کوښښ کیږي چي خلکوته داسي اطلاعات ونه رسیږي چي دهغوي سره د نظر اختلاف پیدا کړي. یا دخلکو په وفاداري کي څه شك او ددي څه امکانات پیداکړي، حاکمه ډله په دي ترڅ کي تل داسي سخت قوانین غوره کوي تر څو خلك له حکومت سره د نظر دمخالفت جرائت و نکړي یاپه بل عبارت دهغوي غږ چپ کړي ترڅو غیر موثر وي ، دپنځلسمي پیړي د بادشاهانو دتاریخ له مطالعي څخه دا خبره روښانه کیږي چي بادشاه او دهغه نږدي ملګري دخلکو په وړاندي دادعوه کوي چي پاچاهي دخداي سوغات دي، خداي(ج) پاچا ته پر خلکو دحکومت کولو حق ورکړي او داچي له پاچا څخه غلطي نه کیږي دانګلستان او جاپان شاهي نظامونه او دمصر او هند پخواني خانداني حکومتونه ددي نظریي ښې بیلګې دي د پاچا او واکداري ډلې تر څنګ څنګ مذهبي او روحاني مشران هم دټولني پرافرادو فوقیت او برتري لري، مذهبي مشران دراز دپړي اندیوالان بلل کیږي. خلك د مذهبي مشرانو لخواپرمنع شویوخبرو باندي خبري کول او دنظر وړاندي کولو حق نلري، په داسي حالاتوکي به څه دول دکار ساحه پراختیا ومومي؟ دانساني علم د پرمختیا له امله کله چي نړي دآبادي او پرمختګ اختراعاتو او ایجاداتو، انکشافاتو او اکتشافاتو دوري ته ګام واخیسته دژوند په هره برخه کي د حیرانیتاوړ بدلونونه راغلل دکاغذ اوقلم په ډګر کي دچاپخاني ترجوړولو وروسته غټ پرمختګ راغي دي پرمختګ د افکارو د تبلیغ او خپرولو په واسطي خلك له نه ختمیدونکو پراختیاوو سره آشنا کړل ،دبلي لوري دیکتاتورانو احساس کړه چي پرمختګ ددوي ګټو ته لوي خطر جوړیدي شي، دچاپخاني دا اړخ واکدارانو دځان په ضرر وباله کله چي واکدارانو ددي پرمختګ څخه دځان په ګټه داستعمالولو پروګرام جوړ کړ د چاپخاني جوړول اوداخبار او مجلي خپرولو لپاره دحکومت څخه اجازه اخیستل ضروري وبلل شول او دا محدوده اجازه هم حاکمي ډلي دخپلي خوښي افرادو لپاره محفوظ کړه تر څو داسي څوك چي دحکومت دنظریاتو مخالف وي له دي وسیلي ګټه پورته نکړاي شي.

ددیکتاتوري فکر لرونکي واکداران دا اقدامات هم کافي نه بولي نورد معلوماتو ترحاصلولو وروسته دهغوي په خپرولو باندي د سانسور قانون نافذوي او مطبعه دحکومت څخه داجازي اخستلو پرته هیڅ ډول مواد نشي چاپولي ددي تر څنګ څنګ دتبلیغاتي وسایلو په لرونکو خلکو باندي هم ډول ډول بندیزونه لګوي ددي اقداماتو څخه ددي خبري حتمي ګرزول مطلب وي چي کومه اداره یا شخص داسي مواد خلکو ته ونه رسوي چي دحکومت په خوښه نه وي،خلکو ته به دولتي پالیسي او دولتي خبرونه رسول کیږي په داسي وخت کي به درښتیا مسئله څه وي او تبلیغاتي وسایل به دا ډوله دیکتاتوري ټولنو کي پرمختګ او خپله ونډه څه ډول سرته رسوي تبلیغاتي وسایل دولتي ګرځي او همداسي پاتي کیږي .

په جمهوري نظام کي د تبلیغاتي وسایلو ونډه:

په نولسمي اوشلمي پیړي کي په اروپاکي څو انقلابونه راغلل، ښایي دهمدي په خاطر به دا دوره په اروپا کي دتغیراتو دوره هم بولي، نوي نوي

ساينسي علوم او فنون پيدا شول، تردي چي په اروپا كي پخواني مذهبي عقايد ، عادتونه او رواجونه هم د بحث او نظر د تمرين تخته و گر ُځيده. دعقل او علم د عظمت دمنلو سره جوخت د آزادانه فكر ، غور او نظر فضاً را منح ته شوه او ورو ورو دي ډوله فكر په خلكو كي محبوبيت پيداكړ، دبيان د آزادي دهمدي لاري دعلم حاصلول دمعلوماتو حاصلول او دهغوي پر پيداكولو دكومي خاصي دلي اجاره داري پاتي نشوه، د ژوند په هره برخه كي دآزمويني رجحان ديوي قوي ريښي لرونكي وني بڼه غوره كره.

كله چي دعلم او فن دتعلم او تدريس او داطلاعاتو او معلوماتو دپيداكولو لپاره نوي آلات او وسايل پيداشول په جمهوري او آزادو ټولنو كي په كوم فرد يا اداري باندي كوم خاص بنديز په دي ډول نه وُچي دهغوي په كار كي خنډ وگرځي، هر چاچي وسايل لرل كولي ئي شول اخبار را وباسي، مطبعه بي جوړولي شواي، دراديو او تلويزيون مركز جوړولي شي، آژانس جوړولي شي، مقصد دا چي دليكلو او ويلو هر ي وسيلي ته تقريباً آزادي وركړ ل شوه او تبليغاتي وسايل دخپلو خلكو دغوښتنو په پام كي نيولو سره دهغوي لپاره تفريحي مواد هم پيداكولي شي، دغربي هيوادونو تبليغاتي وسايلو په ډيري چټكي سره د فكر تسخيرولو او دسترگو دليدلو او ضعيفولو دپرمختگ منزلونه ووهل ، همدا وجه دي چي د غربي نړي تبليغاتي وسايل نن پر ټولي نړي حاكم دي او هر كور دهغو ترسيوري لاندي دي، دخليج په جگړي كي د تبليغاتي وسايلو ونډه په كوم اهميت چي دخلكو مخته راغله بنايي تردي دمخه به نه وُ ، دخليج دجگړي او تبليغاتي وسايلو دونډي له وجي اوس ددي وسيلي اهميت دپخوا ځخه څو چنده زيات شوي دكويت داشغالولو ځخه را نيولي كردانو ته د آزادي وركولو پوري دغربي نړي تبليغاتي وسايلو چي په كوم ډول خلكوته يو اړخيز معلومات وركړل دهر پوه او مبصر لپاره د عبرت درس دي.

دغربي او صهيونيستي وسايلو په وړاندي اسلامي نړي له خپل ټول مادي ځواك سره سره هيڅ سنكاري، نن داروپا عيسويان اود اسرائيلو يهودان كوم ځه چي مور ته را سبودل غواړي هماغه مور گورو. ځه چي را اورول غواړي هماغه اورو دكوم شيطاني فرهنگ ، تمدن او حيواني ژوند په لومه كي چي دوي نښتي په هغې كي مور هم نخلوي، نن په هري خبري كي عيسايي قومونه پر اسلامي امت حاكم سنكاري، دټولي اسلامي نړي سره دغرب ديو اړخيز دين دشمنه پروپاگند او ناوړه ارادو ځواب نشته نن، بي بي سي دامريكا غږ، دآلمان غږ ،اسوشيتد پريس او سي، اين، اين تبليغاتي اداري دروزل شوو سپيو په ډول دهري كوڅي مخي ته دريدلي هر كورته چي ځه و غواړي ورشيي يي او پر ي گوري يي، په دي خاطر دي چي نن اسلامي نړي دژوند په هري برخي (فرهنگ او تمدن ، سياست او حكومت، ساينس او تكنالوژي صنعت او حرفت....) كي دكفري طاقتونو سره دمقابلي كولو ځخه عاجزه ده.

په دي مبارزه كي داسلامي نړي واكداره خلك دښه غور او فكر سره بايد دنوي دور دغوښتنو ترڅنگ دتبليغاتي وسايلو گټه ، اهميت او دپراختيا اغيزي احساس كړي او دخپلو ضرورتونو سره سم بايد قوي منظم او نړيوال « نوي اطلاعاتي نظام» جوړ كړي تر څو داسلام فنا نه كيدونكي اصول چي دانسانيت لپاره سر تر پخو دخير اوبركت باعث گرځي دنړي ځلور كونجونوته ورسول شي، او داتول هغه وخت كيږي چي پر اسلامي هيوادونو حاكمي ډلي له خپلو شخصي گټو تيري شي او دټولي نړي پر سر د اسلامي امت د قيادت درولوپه فكركي شي او ځمكه او آسمان ته په محبت ډكه سترگه وگوري اودختيځ ځخه د خپل ځان دښه راتلونكي دليدلو كوښښ وكړي.

په اسلامي هيوادونو كي مبارزه كوونكي انقلابي غورځنگونه اودهغوي طرفداران ، مشران او غړي هم بايد دي اړخ ته زياته توجه وكړي او كني ددي پرته دباطل دمقابلي كولو او هغه ته دماتي وركولو خوب ښايي دعمل به ډگر كي په خپلو سترگو ونه ليدل شي.

«فـروغـگـر»

بسوي كرانه هاي درد آلود حق

قسمت اول

بوي آگنده با تيل سوخته، قير فضا را مشبوع كرده بود، تاب آفتاب به سرعت هر چه بيشتر اضافه ميشد، درجه حرارت به پنجا سانتي گريد تقرب ميكرد، عرق سوزان و گرم سراپاي وجودم را خيس كرده بود و چنان در پي داغداري پوستم ميجوشيد وفرو مي نشست كه تو گويي انتقام كدام تخطي را از من ميكشد، موتر حامل مانيز در گرمي كمتر از سماوارجوش و داغ نبودبا تفاوتي كه از سماوار بوي مطبوع چوب بلوط ويا زيتون بالا ميشود ولي از موتر لقه و كپ و كوپ ما بوي زننده، ديزل به مشام ميرسيد، از هر سو زمينه شنيدن سخن مسدود معلوم ميشد، با آن هم دريور كه مردي است پخته سال و مؤقر وعذابديده، بدون ان كه كسي از وي چيزي پرسيده باشد بادست بازي خاص و مربوط به سليقه خودش سر گرم سخن بود از اين جاو آن جا ميگفت و در غم آن نبود كه سخنش را كسي ميشنود يانه با پاره اي از سخنانش تكانم داد، خود را جمع كردم و از طرف شيشيه، موتر به طرف وي نزديك شدم، كوشيدم كه سر رشته ء سخن را خود به دست گيرم تا احساس تجسسم مشبوع گرديده چيزي را كه از وي توقع دارم يكايك بشنوم و در يابم، اما همه سعيم بي ثمر بود . مرد راه خدا آن قدر رنجديده بود و درد كشيده بود كه آوازش نوبت به نوبت داغتر و گرمتر ميشد و هنوز هم غليان دلش آ رام نميگرفت....... وي ادامه داد:«........

در دفتر مديريت ترويج وزارت زراعت بر چوكي بي تكيه زده بودم ، آثار سفر طولاني روز گذشته در وجودم هويدا بود، جانم درد ميكرد و سر گيچي ام هنوز پايان نيافته بود، دلم ميخواست رخصت گرفته و بخانه بروم و قرار استراحت كنم، در همين گير و دار بودم كه زنگ تلفون مدير بصدا در آمد، مدير گوشي را با لا كرد، هلو ! هلو ! شما كه هستيد؟ از كجا صحبت مي كنيد؟و.... مدير گوشي را روي ميز كذاشت و روبطرف من نموده گفت : « آغا صاحب ! بيائيد برادر شما است ! » بر خاستم و گوشي تليفون را بر داشتم هلو! هلو! السلام عليم السلام عليكم آواز او را قبل از آنكه از وي بپر سم كه خود را معرفي كند شناختم كه .... بود از وي پرسيدم امر و خدمت، در پا سخ گفتند. مريضي دارم و در خانه منتظر شما هستم! مدير ترويج پرسيدند برادر تو چه ميگفت؟ گفتم در خانه مريض دارند و گفتند كه منتظر شما ميباشيم، بيائيد كه وي را به شفاخانه بريم ! مدير گفت: آغا صاحب برويد و موتر را نيز باخود ببريد، ماكه در چنين روز بد به كار شما نيائيم ، در روزهاي به از ما چه ساخته خواهد شد، با مدير و منسوبين دفتر خدا حافظي كردم و از دفتر خارج شدم، وقتي موتر را از صحن وزارت زراعت برون كردم و تقريبا به فاصله دو صد متر از آن دو رشدم كسي را ديدم كه از طرف مقابلم به من اشاره ميكند، در گوشه يي از سرك ايستاد كردم و خود پياده شدم ، چون مراديد از متن سرك به حاشيه رفت و در پناه يك بته اكاسي ايستاد شد - آمدم و بعد از احوال پرسي يكديگر - به وي گفتم - تو از كجا تلفون كردي و باز به اين زودي خود را به اين جا رساندي، بطرف يك مغازه اشاره كرد وگفت: « از آن جا » - ميداني آغا صاحب كه امروز بسيار مهم است از يك طرف ميخواهم شبنامه ها را به افراد مسئول توزيع كنيم ، تا امشب حتماً در گوشه و كنار شهر پخش شود و از سوي ديگر تدابير امنيتي دولت ملحد خيلي ها شديد است، بيا پناه به خدا - او كه چيزي خواسته باشد همان

میشود......»

آغا صاحب سخنانش را در همین جا قطع کرد و رو به من نموده گفت: « شاید بشما معلوم باشد که چریکهاي شهري حوزهء مرکزي کابل داراي تشکیلات منظم و منسجم بودند، روي همان تشکیلات ما هم خواهي نخواهي تابع تشکیلات بودیم و دسپلین حزبي چنان تقاضا داشت که از سر حلقه ها اطاعت شود، در امور از آنها مشوره گرفته شود واحیاناً مسایل به راي اعضاي شوري ملتوي گردد. من با وصفي که کار هاي زیادي داشتم و ضمناً در همان روز مریض نیز بودم، نتوانستم به مدیر صاحب جواب رد بدهم به نشان اجابت و اطاعت امر، بلي ! بلي گفتم و موتر را بطرف کارته نو دور دادم به سرعت به پیش میرفتم و سر گرم صحبت فعالیتهاي چریکي حوزه هاي شهري بودم، در فکر آن نبودم که شب هنگام به من چه حادثه یي آمدني است. ویامن چه معامله خواهد شد؟ کار تقدیر را هیچ کسي پیش بیني کرده نمیتواند بجاي مو عود رسیدم و بسته هاي شب نامه به کسان مسؤول تسلیم نمودیم و بعد از هدایات لازم بطرف انجام ماموریت دیگري رفتیم، وقتي در نزدیکي هاي چمن رسیدم مردم این طرف و آن طرف میگریختند در سیماي هر کس وحشت و هراس نقش بسته بود، جاي سوال و پر سان هم نبود، به مدیر صاحب گفتم: اگر بر گردیم؟ او گفت: « این کار ما خالي از خطر نیست» گفتم اگر بطرف ولسوالي چهار آسیاب برویم چطور؟ «گفت » نه ! رفتن به طرف چهار آسیاب خطرناکتر از رفتن به داخل شهر است» گفتم پس چه کنیم؟ گفت:« بهتر است بدون خوف وهراس داخل شهر شویم. اگر موتر مارا اشاره توقف دادند، ایستاد

پاتی په (٥٦) مخ

میشویم، باکي ندارد، چیزي که ما را صد در صد زیر سوال میبرد نزد ما نیست پس ترس چه معني دارد؟ همان بود که موتر را آهسته آهسته داخل جاده عمومي کردیم - در نزدیکي هاي سپاهي گمنام ازدحام مردم بسیار زیاد بود جابجا ترافیکها موانع ایجاد کرده بودند بطرف دست راست سرك جاده یکطرفه باز کرده بودند و بطرف دست چپ عبور و مرور عراده ها ممنوع بود - کمونیستها(اعضاي باند خلق وپرچم) ته و بالا میدویدند اوضاع فوق العاده بحراني بود، موتر را از راهي که باز بود بطرف مسجد پل خشتي به پیش راندم و مدیر صاحب نیازي که اکنون در میان ما نیست و شهید شده است از موتر پیاده شد و من به خانه رفتم، وقتي در خانه داخل شدم وضع دیگر گون بود - همه اطفالم وحشتزده و مضطرب بودند، از ایشان پرسیدم که چه گپ است؟ شما را چه شده است؟ چرا سراسیمه ووار خطا هستید؟ دختر بزرگم که تقریباً شانزده سال داشت، درپاسخ به این سوالهایم گفت:

«پدر جان ! ساعت دوي روز سه نفر که لباس شخصي بتن داشتند دروازه خانه ما را تك تك کردند وقتي عقب در از ایشان پرسیدم که شما که هستید و که را کار دارید؟ در جوابم گفتند که ما رفقاي آغاصاحب هستیم. آغا صاحب را کار داریم ! گفتم آغا صاحب در خانه نیست ! ا ز ایشان نام شان را پرسیدم از جواب معذرت خواستند و با غم غم عجیب و غریب از عقب دروازه رفتند، وقتي از چاك دروازه ایشان را تعقیب کردم حرکات شان غیر موزون بودمعلوم میشد که نسبت به شما سوء نیت دارند.... آنها آهسته آهسته از خانه ما دور شدند و از انظار نا پدید ... نمیدانم مراچه شده بود که زمین جایم نمیداد به منزل دوم رفتم ، خواستم باکتب و مجله ها خود را مصروف کنم که نشد و در عین اضطراب وپریشاني باز هم دروازه تك تك شد، پله یي از حاشه دار را به بسیار اهستگي نیم کش کردم، پرده را عقب زدم و به زیر نگاه کردم مي بینم که باز هم سه نفر اند ولي به تفاوت این که یکتن آنها لباس پولیس به تن دارد و دو نفر دیگر در دریشي بي یونیفورم هستند..... از منزل دوم پایین آمدم به عقب دروازه رفتم پرسیدم که - که هستید و که را کار دارید؟ گفتند: آغاصاحب را کار داریم وبس ! گفتم : که او در خانه نیست - خیر ما رفتیم .... اگر شد شب احوالش را میگریم ... پدر جان دلم گواهي بد میدهد بهتر است همین اکنون خانه را ترك کني ! من صد در صد مطمئن هستم که کمونیستها در پي جان تو اند، گرفتارت مي کنند و از بینت میبرند ! آنگاه خاك بر سر ما زندگي ما چه معنایي خواهد داشت...» در همین گفتگو بودیم که دروازه خانه تك تك شد . به عقب دروازه رفتم ، پرسیدم که کیستي وکه را کار داري؟ گفتند «حاجت به معرفي مانیست اگر آغا صاحب باشي دروازه را باز نموده و خود را تسلیم ما کن و در غیر آن ما مجبوریم دروازه بشکنیم و به زور در خانه داخل شویم و شما را گرفتار کنیم بهتر است دروازه را باز کني و خود را بدون زجر و لجاجت بما تسلیم کني !!!» با خود گفتم هر چه باد اباد، حالا راه فرار از هر سو مسدود است، نمیتوانم از این درندگان به لباس انسان فرار کنم بهتر است تسلیم شوم - به طرف اولاد و عیالم بر گشتم آنها را دلپري و تسلي دادم، خدا حافظي کردم وبطرفدر

دشت ویالی

خوارکي ژړل، په زوره زوره يې ناري وهلې هله! زما ناوکي راکړه هله ناوکي راکړه مورجاني ! دا ښځه زما ناوکي نه راکوي موري هاها....

نوري نجوني له ويري ټولې خپلو کورونو ته ننوتلې ماشومانو ښځه يوبل ته په گوته کوله اوپه کرسهار يې خندل.

ماشومې نجلۍ هماغسې په نارو او سوروژړل دا لگيا وه کوښښ يې کاوه چې ناوکي ماته کړي. کله به يې لاس او پښې کشول او کله به يې په ډير عصبانيت د خپلو ښښو لاندې اچوله نجلۍ په وار خطايي لاس يوور تر څو ناوکي له ځمکې اوچته کړي خوښځې به ناري کړي:

«پام ! پام! چه لاسږورنوړي- دا ناوکي نده داتاوژني، تا مړه کوي پام لوري ! ليوني كيږه مه، دمعصومې نجلۍ به ددې هيبتناكي ناري په اوريدلو سره لاسونه وريږديدل او هغه خوابه په منډو شوه بيايي له سره ناري او سوري پيل کړي موري، مورجاني زماناوکي يې ويجاړه کړه!

ښځه څوشيبې بې حرکته پاته شوه او په ځير يې شاوخواته وکتل بيا يې سترگې و ځليدې مسکې شوه جيب ته يې لاس کړاو دگوگردو قطي يې را ويوست يوې پلتې ته يې اور ورته کړ ناوکي يې په ځمکه کيښودله او لمبه يې ور نژدې کړه.

زه چې د خپل کار او ژوند څخه وتلې اودې عجيبو صحنو کې محوه شوي وم ناڅاپي په خود شوم او ځان مې ژر ښځې ته ور ورسولو.

خوري- خورجاني ! ولې ؟ مه کوه دا ناوکي ولې سوځوې ور کړه ماشومه نجلۍ ورته ژاړي ته يې څه کوي؟

مخ يې راواړولو. دسترگو دوحشت نه يې زماټول بدن په لړزيدلو شو، سترگې مې لاړې او ددې په سترگو کې و گنډل شوې هغه سترگې چې ديوه عجيب شانته معصوميت، عجز او وحشت څخه خلاصې وې ، پر سپين مخ يې درزونه او کرښې هومره ډيرې وې تابه ويل اوږدې ويالې او نهرونه د غرونو او تپو په مينځ کې ځغلې او رښتيا هم دهغه باران څاڅکي چې نوي يې په وريدلو پيل کړي وو کله کله به په همدې ويالو ورسم شول.

شونډې يې په غير ارادي توگه رپيدلې او يو خاموشه پسپسې يې له پوزې او خولې پورته كيده لوړه او نرې وه، کميس يې په ځان کې لويې کړه.

به حيرانتيا يې مخ را واړاوه په ډيره ترخه خندايي زما پوښتنې ته ځواب ورکړ او بياجدي شوه لکه چې څه ور په ياد شوي وي ما باور ونکړ چې دا به زما خبره مني خو دې لمبه گل کړه او ناوکي يې په لاس کي ونيوله.

- تاڅه وويل؟

- ما ويل چې خيردې خورکې دا ناوکي بيرته دې نجلۍ ته ورکړه ولې يې سوځوې؟په حيرانتيا يې نجلۍ ته وکتل.

-دانجلۍ؟

-هو ! نوڅوک؟

-ماله دې څخه څه اخيستي دي؟

پوه شوم چې اعصاب يې په ځای ندي په ډيره آرامه لهجه مې ورته وويل:

- تاله دې څخه داناوکي اخيستي ده او بيا مې په گوته ناوکي وښودله.

ښځې څو څو واري ناوکي په ډير عجيب نظر وکتله داسې لکه چې څه ترې ورک شوي وي او دا ناوکي گوري چې هغه شي دي او کنه؟!

بيا يې به لاسونو کې تاو را تاو کړه، سور اسويلې يې و کيښ او ورو يې وويل:

-خور جانې ته خو به پوهيږې رښتيا راته ووايه دلته خو به کوم وخت بمباري نه وي شوي؟

- نه هيڅکله دلته ښار دې او بيا بخې بل ملك دې زمور او ستاسې ملك خوندې چې وخت او ناوخت پرې بمباري وي.

- داخو به رښتيا نې ناوکي وي؟

-هو! بالکل ولې څه شك لرې؟ -

دا سنايي....

- دا څه سنايي؟

-داښايي بم وي!؟
-بم·
-هو ! بم.
- نه ، نه ډاډه اوسه بم ندي اوبيا كه خداي مكړه بم هم واي نو تا هغه ته اور ورته كاوه؟ مسكي شوه ، ناوكي يې دنجلي په لاسونوكي كيښودله « ماويل ښايي بم وي ، زه د هر ماشوم په لاس كي چې داسي شيان وينم وايم ښايي بم وي ، هر چير ته ښايي بم وي ښايي زموږبه خوږوكي بم وي ښايي زموږ په جامو كي.....» او بيا يې مخ آسمان ته كړ: ښايي د باران په دغو وړو څاڅكو كي هم بم وي بيا يې مخ ماته كړ:- رښتيا دي نجلي ژړل؟
-تاخو ليدله كه دي باړ نه وو؟
نه يو هيږم ، زما هر څه ډير زر هيريږي دومره مي په ياد وي چي ښايي په هره ناوكي كي بم وي ښايي هر ماشوم د هغې په اخيستلو سره ومري ښايي پښتي يې شلي شي، ښايي ژوندي شي ښايي..... او بيا يې دمخ په ويالو بې اختياره داوښكو اوبه په بهيدلو شوي« ښايي هر ماشوم و مري زما دلور په شان ښايي زما د زوي په شان.....» او بيا يې خبر پريښودله.
دهمدې په ويلو سره رهي شوه دومره صبر يې هم ونكړ څو ترې د زوي او لور په باره كي څه و پوښتم له ځان سره« ښايي، ښايي...»
ماشومان هم له خندا لويدلي وو دآسمان څاڅكي هم ډير شول او باران په چټكي سره په اوريدلو پيل وكړ.
په داسي حال كي چي د سختي بي خودي احساس مي كولو لاس هي دنجلي په سر تير كړ او په خپله لاره رهي شوم به غوږ كي مي دښحي غږ.و.
" ښايي زموږ به خوږو كي هم بم وي ښايي زموږ په جامو كي بم وي ښايي د باران په دي وړو څاڅكو كي هم بم وي.... "
سوچ مي كړو: داد تمدن تحفه ده انسان ته، زموږ خوار ملت ته ويره، شك او بياهم شك..

بسوي كرانه هاي درد آلود

شتافتم در را باز كردم و خود را تسليم جلادان خاد نمودم -ديگر اعضاي خانواده ام هنوز بيدار بردند ولي يك دخترك هشت ساله ام بخواب رفته بود- وقتي سوار موتر جيپ خاد شدم ،اواز شور و غلغله وگريه و فرياد فضاي خانه را دگرگون كرد، هنوز موتر ما حركت نكرده بود كه دخترك هشت ساله ام كه تازه از خواب بيدار شده بود گريه كنان بطرف موتر دويد، گارد مسلح اعضاي خاد وي را جبراً به عقب زدند دخترك گريه ميكرد كه واي پدرم رانبريد، واي پدرم را مي كشيد ، واي پدرم را كجا ميبريد و....... ولي در بين آنها انساني نيود كه اقلاً به آن معصوم بي چاره اجازه ميدادند تا به من خود را برساند - دخترك چون مرغ نيم بسمل مي تپيد كه موتر را چالان كردند و بعد از يكي دو ريز بطرف خاد ششدرك بحركت افتاد...... ادامه دارد.

استراتيژي و تاكتيك

٤- اتكا ووابستگي اقتصادي ، فني ونظامي زيادبه كشوري خاص .
٥- عدم ثبات اجتماعي .
٦ - ضعف وكوچكي (ازنظرقدرت)
٧- موقعيت نامساعد جغرافياي
٨- افزايش قدرت نظامي كشوردشمن

آنچه كه فوقاً ذكر شد مقدمه اى بود براينكه گفته شود كشورها داراى منافع ملى مختلف وخط مشي سياست خارجي متفاوتي درصحنه بين المللي هستند زيرا كشورها از نظر قدرت برابر نيستند ، رهبران متفاوتي دارند وعلاوه برآن گروه هاى ذى نفوذ كشورها يكسان نيستند. پس دريك مذاكره ديپلماتيك تأمين هدفهاى ملي يك طرف ، همواره مجبوريت با زير پا گذاردن منافع ملى طرف ديگر ندارد ولزوماً طرفى كه دست ضعيف را دارد ، درنهايت بازنده بازى نيست وچنانچه با مهارت عوامل تشكيل دهنده قدرت خودى و طرف مقابل را شناسايي وارزيابي كند وتكنيكها و تاكتيكهاى مذاكرات ديپلماتيك رابخوبى بكاربندد ، چه بسا بيش از طرف قوي تر امتياز كسب كند . عموماً بازندگان يك مذاكره كسانى هستند كه ارزيابي درستي ازطرف مقابل دردست ندارند ويا اينكه در شناخت ظرفيتهاي بالقوه كشورخود ، ويا درنحوه فعليت بخشيدن به چنين ظرفيتهايي دچاراشتباه محاسبه مي شوند . به هرحال تشخيص وارزيابي اينكه چه مسئله اي درچهارچوب امنيت ملى ويا منافع حياتي وملي طرف مقابل قراردارد ، مذاكره كننده را در اتخاذ تدابير وتاكتيك ياري مي كند . ادا...

نبوی لارښوونی

خیانت څخه.
*: تاسي تر هغي پوري د ايما ن خاوندان نشي کيداي چي په خپل مينځ کي محبت ونکړي.
*:رسول کريم (ص)فرمايلي دي :زه قسم يادوم چي دغه دري خبري بالکل سمي دي!
١- له خيرات (صدقه) ورکولو څخه په مال کي کمي نه راځي،
٢- که مظلوم انسان صبر وکړي خداي(ج) به دهغه عزت زياتوي
٣- له خيرات غوښتلو او سوال کولو څخه فقر نورهم زياتيږي.
*:تر ټولو مکمل ايمان دهغه چا ده چي د ښو اخلاقو خاوند وي.
*:تاسي تر هغه پوري پوره مسلمانان نه ياست تر څو پوري چي خپل بل مسلمان وروروته هغه څه ونه غواړي کوم چي دځان لپاره غواړي.

الله چي تاسي ته کوم نعمت درکړي دی ، هغه په يادساتي اوهغه پوخ لوز او تړون مه هيروی چي له هغه سره موکړی دي «یعني ستاسي داوينا چي موږ واوريدل اواطاعت مو ومانه » له الله وويريږی - الله آن دزړه په رازونو پوهيږي ، اي مومنانو ! دالله لپاره په ريښتينولي ولاړاوددانصاف شاهدان اوسی دکومي ډلي دښمني دي تاسي دومره راونه پاروی چي له عدالته واوړی . عدالت وکړی ، داله تقوي سره نژدي اړيکی لري - له خدايه وويريږی . تاسی چي هرڅه کوی الله پري پوره خبردي . (المائده - ٧-٨)

دخوست «سوبه » ددى حقيقت په معنی ده چی زموږ اسلامی انقلاب دغلیم
دعسکوغوکودتسخیر نوم اودافغان ولس دهمت ، تهراوارادی ممثل دی